ناول

# قاچاقبره

لیکوال : ډاکټر عبدالهادي حماس

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

## د کتاب ځانګړنې

**کتاب نوم : قاچاقبره – ناول**

**لیکوال** : ډاکټر عبدالهادي حماس

**د لیکوال ګرځنده ګڼه** : 0799-80-08-24

**کمپیوټرچارې: حلیم ګل( ګران)**

**د پښتې ډېزاین:** رسول ګل اشنا / ۰۷۶۴۰۸۰۳۰۹/۰۷۴۴۴۰۴۴۲۴

**خپروونکې ټولنه:** ذهنیت خپرندویه ټولنه / کابل

**اړیکشمېره:**0772019545

ددې کتاب د هر ډول چاپ او خپرولو حقوق له لیکوال سره خوندي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ:

**هغوی ته چې لاس یې په ظلم او فساد بر شي خو د خدای ج او هېواد لپاره ترې ځان وساتي**

**ډاکتر عبدالهادي (حماس)**



(c) ketabton.com: The Digital Library



**بسم الله تعالی**

## د لیکوال څو کرښې:

زموږ هېواد اوس مهال له یوه نوي حساس پړاو، څخه تېرېږي، کوم پړاو چې خورا خواشینه ونکی او د پام وړ پړاو ده.

که دغه پړاو زیانونه په دقت ونه څارو، نو موږ به بیا د نه جبرانېدونکو ستونزو سره مخ کړي.

ډېر وخت کېږي چې یو شمېر کادرونه مو د نا امنی، فقر او همدارنګه د بې کاري له امله له هېواد فرار ته اړ کیږي ځینې خو یې دومره په تنګ شوي وي چې بهر ته د تلو لپاره غیر قانوني او قاچاقي لارې وټاکي، پایله یې دا شي چې یا ووژل شي، یا ناوړه ګټه ترې واخیستل شي او یا هم اوبه او سیندونه ژوند ترې واخلي.

له نېږدې څلورو لسیزو را په دې خوا هېواد په یوه نامالومه جګړه کې ښکیل دی، وژل، بې کاري، نا امني، فقر او نورې بدبختي یې زیګنده دي ،ددې جګړې زیان یوازې افغانانو ته اوړي، وینې د دوی توېږي او باغونه د نورو پرې خړوبیږي .

افغانستان د اسیا زړه دی هر زبرځواک غواړي دغه زړه تسخیر کړي ،او له برکته یې بیا پر اسیا واکمني وکړي، دوی هڅه کوي دلته نا امني او ستونزې نورې هم زیاتې کړي، اوبه خړې کړي او خپل ماهیان پکې ونیسي.

هېڅ وخت دوی دا نیت نه لري چې افغانان دې له یوې تل پاتې سولې او ډاډمن ژوند څخه برخمن شي. دوی موږ وژني، بې کوره کوي مو، غربت ته مو را بولي او له دې پرته د بلې هرې بدبختي هڅه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ په وژلو نه ورک کېږو، له لوږې هم نه مرو، کړاونه هم زموږ د بنيادي تباهي لامل نه ګرځي، يوه ورځ به يې جبران کړو، يوه ورځ به ترې وژغورل شو.

دوی غواړي موږ په تيارو کې واوسو، د مدرسې، مکتب او پوهنتون دروازې مو راوتړي موخه يې دا ده چې د جهل په تياره ذهن کې مو پرېږدي او بيا دوی خپلو شومو موخو ته په اساني سره ورسېږي.

دا کار يې په رېښتيا هم خطرناک او خورا مهم کار دی چې زموږ بنياد ورسره کمزوری کېږي او بلاخره له منځه ځي .

د علمي مراکزو کمزوري کول، په هېڅ راز سره ويښ ملتونه نشي زغملی، دوی له دې کاره هم لويې او لوړې پروژې لري/ غواړي د هېواد کادرونه وويروي هغوی ته د فرار زمينه برابره کړي.

دا اوس هم زه يو شمېر د پوهنتون استادان پېژنم چې پټ تهديد کېږي، په مرګ ګواښل کيږي موخه يې دا ده چې په هغوی دلته د ژوند حلقه راتنګه کړل شي او هغوی له هېواده تېښتې ته اړ کړل شي.

تاسې ګوری له هېواده ډله، ډله ځوانان په قاچاقي لارو تښتي، هغه په دې لارو کې هر راز ستونزې ګالي، په سرحدونو کې وژل کيږي، سيندونو کې ډوبيږي او ناوړه ګټه ترې اخيستل کيږي، لامل يې دا ده چې د هيواد دايمي دوښمنان هڅه کوي دا ټولنه په غربت کې ښکيل کړي. بې کاري خپل وروستی بريد ته ورسوي ځوانان مجبور کړي له هېواده که هغوی ته د مرګ په قيمت هم تماميږي فرار يا تېښته وکړي.

دغو ټولو بدبختيو ته په کتو زه اړ شوم يو ناول وليکم نوم مې هم قاچاقبره کېښود، له دې ناوله مې موخه دا ده چې نور خپل اولادونه په قاچاقي لارو ونه لېږو، په دغو لارو نه دوی ته ابرو ور پاتې کيږي او نه عزت له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې پرته هره لحضه یې ژوند د مرګ له خطر سره مخ ده، موږ په بدل ددې چې د دوی ژوند ښه کړو هغه په بلا بدبختیو اخته کوو .

ډېری د ګل په څېر ځوانان مو د مرمیو خوراک شول ځوک په اوبو کې ډوب شول، د ماهیانو ګېډې پرې مړې شوې، ځکه خو موږ ته په کار دی چې دغه پردی لوبه درک کړو او د استعدادونو او ځوانې قوې له فراره هېواد وژغورو.

ما دغه ناول په دولسو ورځو کې ولیکه، خامخا به نېمګړتیاوې لري، هیله ده چې نېمګړتیاوې یې له لوستو وروسته را په ګوته کړئ، ترڅو په دوهم وار چاپ کې خپلې بشپړتیا ته ورسېږو.

له مشر فرهنګ پال لیکوال او شاعر دروند شخصیت خوږمن صیب،ګران ملګری ادیب او لیکوال محمدرفیع عمار صیب همدارنګه کوچنۍ خو په ذهن پوخ افضل زیار څخه مننه چې د ناول په اړه یې نېکې مشورې راکړې.

د ګران رسول ګل اشنا څخه مننه چې زما د بوختیاؤ له کبله یې لاس راکړ او کتاب یې په ورین تندي ایډیټ کړ او پښتې یې هم ورته جوړه کړه .

د سرلوړي خپلواک او سوله من افغانستان په هیله

په ډېر درنښت

**ډاکتر عبدالهادي حماس**

**پکتیا : ۱۳۹۹/۱۱/۴کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بسم الله الرحمن الرحیم**

ماښام ته نیږدې وخت ؤ له دندې، ناوخته خلاص شوم، کور ته مې بیړه وه، چې ژر ورسېږم د بیړې لامل هم مالوم ؤ، کله به چې راباندې ناوخته شو، نو مور به مې لارې ته راوته او زما راتلو ته به یې سترګې نیولې وې، که تر ماخوستنه به هم رانغلم هغه کور ته نه تله، لاره هم مصؤنه نه وه، کله ناکله به پکې ډېرې بدې غلاوې کېدې ځینې وخت خو به غلو د پیسو سره یوځای د انسان ژوند هم اخیست، ټوډي موټر مې نوی اخیستی ؤ، په کش کې بد نه ؤ، ور وختم سړک پوخ ؤ په څو سانیو کې د موټر سرعت له سلو واوښت، له لرې مزل وروسته د سړک د غاړې یوې لارونې زما پام خپل ځان ته واړاؤ هلته لرې مې یوه مېرمن تر سترګو شوه په عربي تور رنګه حجاب کې یې ځان پوښلی ؤ، نسبتا جګ قد یې درلوده، ګړندي ګامونه یې، یو په بل پسې اخیستل، یوازې وه، نور څوک ورسره نه تر سترګو کېدل، په مزل کې یې له چابکو قدمونو مالومېده چې یوه مهم او بېړني کار لپاره خپل ماموریت سرته رسوي کله، کله به یې شاته هم راوکتل، ما فکر وکړ ددې په خاطر شا، شاته راګوري چې شاید کوم موټر یې واخلي او د مزل لاره یې لنډه کړي، لومړی زما هم په زړه کې تېر شول چې موټر به ورته ودروم خو وروسته مې تری ترې وشو ځکه یوازې وه،له داسې مېرمنو سره مرسته له کلتوري لحاظه په زیان تمامېږي،له دې پرته داوېره هم راسره وه چې شاید په تور حجاب کې کوم غل غدی وي، نور ملګري به هم ور سره وي، کمین به یې نیولی وي، کېدای شي په همدې بهانه غواړي کوم موټر ودروي، او لوټ یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، نو زما موټر هم نوی ؤ او هم مې لا بشپړې پيسې نه وې خلاصې کړې د موټر سرعت مې نور هم تېز کړ، د کيلومتر عقربه پورته شوه، ځان سره مې وويل:

که د درېدلو اشاره هم راکړي موټر نه ورته دروم، خو دا هر څه زما د تمې برخلاف ؤ، هغې ماته د لاس را کولو هڅه ونه کړه زما په رارسېدو يې زما د موټر مخې ته ځان وغورځاؤ، يو درز شو، يو ځواکمن درز،حواس مې بدل شول ،دومره مې وليدل چې يوه توره کتله لومړی هوا ته پورته شوه او بيا زما د موټر پر ښيښه ولګېده، د موټر ايربګونه خلاص شول، سخت دروند او ناڅافي غبر يې ؤ، له دردہ يې ډار ډېر ؤ، د سټرېنګ ايربيګ مې له پوزې سره ونيښت، داسې مې حس کړه لکه چې يو چا په غټ سوک په مخ ووهلم، لومړی ګنګس شوم څو ثانيې خو نه پوهېدم چې څه وشول، وروسته مې صد سرته راغی، احساس مې کړه چې پېښه دې کړې ده، هم دې موټر ټوک ټوک شو او هم دې له مېرمنې ژوند واخيسته، لږ شيبه مې نور هم فکر وکړ، له فکر سره مې دا خبره ذهن ته راغله چې مېرمن خو ما نه ده وهلې هغې قصداً ځان زما موټر ته راواچاؤ کله، کله به مې بيا ذهن کار پرېښود، وبه مې ويل چې هسې ځان ته تسلي ورکوې مېرمن دې ووهله، سرعت دې زيات ؤ د هغې هېڅ ګنا نه وه، زه په همدې ذهني کشمکش کې وم چې غال مغال مې تر غوږو شو مخته مې وکتل پنډه خلک او دوه درې موټر ولاړ دي، يو بل ته ناري وهي، ژر کړئ جلی مړه کېږي، روغتون ته يې ورسوئ، يوه کس زما د موټر دروازه هم راخلاصه کړه، زما مخ ته يې وليدل په وينو لړلی ورته ښکاره شو، وارخطا شو، راته يې کړه ته ښه يې؟، ځواب مې ورکړ لږ ګنګس يم نور مې حالت بد نه دي، ژر ښکته شوم د پنډو خلکو منځ کې مې په يوه مېرمن سترګې ولګېدې نيم مخ يې ښکارېده نيم نور يې تورو ويښتانو پټ کړی ؤ، په سينه يې يوه توره بکسه پرته وه، نری ګوتې يې ترې راچاپېره وې، بکسه يې راته مهمه ښکاره شوه ځکه چې د بې هوښې په حالت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې يې هم له منګولو نه وه لوېدلې، تور پیچلی او ګوړګوټي ويښتان يې پر مخ پراته ؤ له لوړې خو موزوني پوزې يې وينې رابهېدلې ګڼ تور بانه يې له پټو سترګو راتاؤ ؤ، غوږ ته مې پام شو د هغه له سوري هم وينه راغلې وه، له چا مې اورېدلي ؤ چې که د سر په ضربه کې له غوږ او پوزې وينه راشي نو له هغه کسه، نور لاس ومينځه، بيا نه جوړېږي، دغې نندارې نور هم وارخطا کړم، د مېرمنې د حجاب ټېکري باندې مې نظر ولګېده لرې دوه متري کې پروت ؤ، ورته ځير شوم، د سړک سره د سولېدو له امله يې يوه برخه لکه له دو تيږو چې لاندې وي ټوکر ټوکر وه، ژر مې ټېکرى راواخيست او د هغې پرځلېدونکي سپين مخ مې واچاؤ، يوه او بل لوري ته مې په ولاړو خلکو کې په دې تمه نظر واچاؤ تر څو خپل ځان ورته بې ګناه وښايم ورته مې کړه:

زما ګنا نه وه، هغې خپله ځان موټر ته راواچاؤ، هغې دا کار په داسې وخت کې وکړ چې زما برېک کومه ګټه نه کوله، هغه ډېره نېږدې راولوېده، خو مخکې له دې چې زه مې ورته د خپلې بې ګناهي لپاره، نورې خبرې اوږدې کړم، يو غښتلي ځوان له ګرېوانه ونيولم، مخ ته مې وکتل له غوسې تک سور ؤ سترګې يې راوتلې وي، راته يې کړه:

که داد خپل لاس پرې خوږېدلی وای بيا د موټر پرې اخيستی وای نو دومره په تېزي دې نه ځغلاؤ حتماً يا له پلاره درته پاتې دنيا دی او يا دې هم د خور او لور پيسې دي چې موټر دې پرې اخيستی، ورته مې وکړه وروره، ګرېوان مې خوشې کړه هغه څه چې ته فکر کوې داسې نده د خپل زيار په پيسو مې موټر اخيستی، زه دنده لرم لوړ معاش لرم، ما جلی نده وهلې، په بشپړ هوش او واک روان ؤم، هغې خپله ځان موټر ته راوغورځاؤ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل ملګری یې غوسه ناکه مسکا وکړه وې ویل، مړ هم صبری او پړ هم صبری، ګرم هم ته یې، په موټر هم خلک وهې د ملامتي الزام هم په هغوی لګوې، دا کوم انصاف دی ؟

دریم وویل:

که تاسې داسې خبرو ته دوام ورکړی، دا خورکۍ مړه کیږي، پړ او وړ به ترافیک مالوموي اوس ټیپي موټر ته واچوی چې ساه ورنه کړي، د ترافیکو د غبر سره مې نور هم لینګې په لړزاه شوو، ځکه چې په لومړي ځل په موټر د انسان وهنې له داسې پېښې سره مخ ؤم، چې د مړه کېدو ګواښ هم پکې شتون درلود.

ژر مې د موټر دروازې خلاصې کړې خلکو ته مې وویل:

هلۍ ټیپي راواخلئ، مرسته وکړئ، زه یې روغتون ته رسوم، دوو کسانو ملاوې ټیټې کړې یوه کس ټیپي له دواړو اوږو او بل له پښو ونیؤ، په راجګیدو کې د هغې لاسونه ښکته وځړېدل د لاسو په غورځېدو د هغې توره بکسه هم د هغې له سینې ولوېده، سپین مړوندونه یې له تورو لستوڼو راوتلي ؤ د بنګړیو نښانونه یې نه درلودل، یوازې له کینې لاس یې یو ساده تور بند لرونکی ساعت تاؤ ؤ، ناروغ یې له خلاصو دروازو موټر ته ور د ننه کړ، دروازې بندې شوې، دوی هم خپلو موټرو ته وختل د هر یوه بیړه وه، د خپلو کورو په طرف یې حرکت پیل کړ، دلته د مشرانو هغه خبره راته ثابته شوه چې پردی غم له واورو سوړ وي، چا راسره د تلو ست لپاره خوله بېرته نه کړه، د سړک منځته مې پام شو توره بکسه لا هماغسې پر تور سړک پرته وه، راوامې خیسته، ځنځیر مې کش کړ په یو پنډ کاغذونو مې سترګې ولګېدې په ښکلي قلمي لیک دود ډکې شوې وې، مهمې راته ښکاره شوې د لوستو تلوسه یې را سره پیدا شوه، خو وخت یې نه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرته مې ځنځير بند کړ، د موټر مخکې سيټ بورډ باندې مې بکسه کېښوده، ټيپې مېرمن لوستې راته مالومه شوه !

ځان سره مې وويل:

دا فکرونه پرېږده، جلي که لوستې وي يا هم نالوستې تا پورې اړه نه لري، څه چې تا پورې اړوند دي هغه دا دي چې ناروغ روغتون ته ورسوې، او درملنه يې وکړې.

شاته سيټ ته مې وکتل ميرمنې غلې، غلې ساه اخيسته، خاموشه وه، لکه له ټولې نړۍ يې چې زړه بد وي نه يې غوښتل تورې بڼه ورې سترګې پرانيزي.

د هغې وضعيت راته بيخي سم مالوم نشو، فکر مې وکړ، هسې مړی مې روغتون ته روان کړی ده، خپل ځانته مخاطب شوم، لکه چې د خون ځښتن شوې بدبخته دلاوره، که توره ونه کړې کار خرابېږي، په بيړه مې موټر راتاؤ کړ د روغتون په طرف مې حرکت پيل کړ، د کيلومتر ستن په سرعت پورته روانه وه، روغتون ته رسېدل مې لومړيتوب ؤ، په لاره کې نه پوهېدم موټر څنګه ولم.!

کله ،کله به مې پوليس او کله به مې بندي خانه هم سترګو ته ودرېدل، ځکه چې د ناروغ د مرګ او ژوند ترمنځ کشمکش مې په خپلو سترګو ليده، تمه نه وه، چې بيا به رغيږي او زما ژغورلو لپاره به د بې ګناهي شاهدي ورکوي، لا روغتون ته لاره پاتې وه، يوې ګوښې ته ودرېدم، يوه حېرانونکې پرېکړه مې وکړه ،کله، کله وېره دومره زياته شي چې انسان بې انصافي خواته وهڅوي، ما هم همداسې فکر وځغلاؤ، ځان سره مې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټپي خو هسې هم ژوره صدمه ليدلې ده، د روغېدو نه ده، له موټره يې وغورځوه، له غمه يې ځان بې غمه کړه، څه به تورې سپينې کوې توره شپه ده، هيڅ څوک دې هم نهويني.!

ځان سره مې وويل : که ناروغ مړ شي نو دوسيه به درته جوړه شي او چې د مرګ دوسيه درته جوړه شي، نو ټول ژوند به په بندخونه کې تېروې، حال دا چې تا کومه تېروتنه هم نه ده کړې، خدای شته له اوږده بنده ډېر ډارېدم، ځکه مې نوره د فکر دا لړۍ اوږده نه کړه له موټره راښکته شوم د ټپي ناروغې دروازه مې راخلاصه کړه، مېرمن مې له مړوندو ونيوله، بهر ته مې را زور کړه، تنه يې راپورته شوه، سر يې شاته لاړه،له مخه يې هم ويښتان وښوېدل، پر پاسنۍ شونده يې د پوزې وينه پرنډ وچه شوې وه په کينې غومبري يې په وينو د لوند ټېکري، کمه سورخي پاتې وه هغه سوروالی، لکه د سينګار شوې ناوې د مخ د سپين والي سره مقابله کوله، له نرمو مړوندو يې ما لاسونه تاؤ ؤ، ښه ساعت مې د هغې د مخ ننداره وکړه ،په دې حساس وخت کې يې هم د مخ لېدل ستړي کونکي نه حس کېدل،بې حده زياته معصومه راته وه ابسېده، مخ يې له ورايه د يوه ناسپړلي، پټ راز کيسه کوله، داسې پټ راز چې تر دې دمه يې د ويلو ځواک او جرئت نه درلوده، په دې وخت کې د خپل وجدان له قاضي سره په جنګ شوم راته يې کړه:

دومره بې غيرته پرېکړه هم څوک کوي ،لکه تا چې وکړه ؟

ته هم د ضمير په نوم کوم څه لرې؟

چې د يوې تورسرې په اړه د يوه ظالم او يوه قاتل په څېر معمله کوې؟

ايا د انسانيت، افغانيت او په تېره بيا د اسلاميت نه حيا نه درځي؟

يوه تور سرې ستا له لاسه د مرګ او ژوند تر منځ نفس کاږي او ته هغه د سړک په سر غورځوې، که ستا مېرمن دا سې محتاجه او د مرګ له ګوانښ سره مخ وي او د جنايت مرتکب يې د سرک په سر درته وغورځوي په تا به څه تېرېږي، ستا په اولادونو به څه تېرېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ځواب د ،هو، وي نو ولې دا بېچاره اوبو راوړې ؟
ولې دا انسان نه درته برېښي؟
ولې دا درد او خوږ نه لري؟
دا مېرمن هم بې څوکه نه ده، ستا په څېر به کورنۍ لري، اولاد به لري، د چا د ژوند یوه حصه به وي، ته اوس په لوی لاس هغه د مرګ کندې ته ګوزار کوې، د ژوند ژغورونکی خو الله ج دی، ته د الله له پرېکړې خبر یې چې هغه نه جوړېږي؟!
له خدای پرته بل هیڅ څوک نه پوهېږي چې دا مېرمن نه جوړېږي.

کېدای شي دغه ناروغ ښه شي او ستا بې ګناهي هم ثابته کړي، نو ولې داسې حیواني پرېکړه کوې، له نور فکر کولو پرته مې ځان ملامت کړ، د وجدان پرېکړه مې سمه وبلله بېرته مې په ارامه د هغې مړوندونه د لماستي په لور خوشي کول د هغې د سر کیڼ اړخ د سېټ سره پیوند شو، تاوشوي ګوړګوتي ویښتان یې د مخ پر ښي لوري راولوېدل، په بېړه سټرېنګ ته کیناستم حرکت مې وکړ لږ شېبه وروسته ګړندي موټرونه هم شاته پاتې کېدل، له لنډ مزل وروسته روغتون ته ورسېدم، شخصي ؤ خو ډېر مجهز ؤ، خوځنده چپرکټ مې موټر ته راورسېده، ناروغ یې واخیست او لږه شېبه وروسته مې هغه د پنډ ډاکټرانو په منځ کې د اکسیجن لاندې ولیده د ناروغ رنګ ته مې وکتل زېړ زبېښلی ؤ، ډاکترانو خپل اقدامات وکړل،سیروم یې ورته چالان کړ، نور هغوی خپل د نوکري والي اطاق ته لاړل، ماته یې وویل که د ناروغ حالت خرابېدل غږ راوکړه .

د هو په دود مې سر ورته وخوځاؤ، د ناروغ په خوا کې پر څوکۍ کیناستم، ښکته او پورته مې ورته کتل چې کېدای شي لاس او پښې یې وښورېږي او د هیله مندی څرک پیدا شي، لږ وروسته متوجې شوم د هغې د غځېدلي لاس دوه ګوتې وښورېدې، د هغې د ګوتو حرکت نه ؤ سم لکه زما ولاړ زړه چې حرکت پیل کړی وي، په یوه لویه هیله مندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې يې مخته وکتل، سترګې يې لا هماغسې پټې وې، تور بانه يې لکه لوړ قدې تور لېباسه سپاهيان ترې راتاو ؤ د سترګو پيره داري يې کوله، پاس مانيټور سکرين ته مې وکتل ترڅو د عمومي وضعيت څخه يې ځان خبر کړم، ورور مې ډاکټر ؤ له هغه مې لږ زده کړي ؤ، د زړه ضربان يې نورمال ؤ د هر زړه ضربان سره به يې مانيټور يو هارن کاؤ، فشار، تنفس او د زړه حرکات يې سم ول، يو زګيروی مې واورېد د مانيټور له سکرين مې سترګې وختې، په يوه هيله مندی مې بيا ناروغ ته کتل، هغې په ډېرې سختی سره غټې بڼه ورې سترګې نېمه خلاصې کړې اورمېږ يې يوه او بل لوري ته تاؤ شو، د اورمېږ له حرکت سره يې درد د ټنډې له غونجېدو مالومېده، ځان سره يې وويل دا زه چېرې يم ؟

ژر مې له خولې ور ووتل، شکر چې په هوش راغلې!

ماته يې وکتل نا اشنا ورته ښکاره شوم، بل لوري ته يې مخ واړاؤ !
نه يې غوښتل له ما سره خبرې وکړي، هيڅ يې ونه ويل!
ورته مې کړه ستا نوم څه دی ؟
ايا د کورنۍ د کوم کس شمېره راکولی شې ؟
هغې په ډېرې سختي بېرته مخ راتاؤ کړ ماته ځيره شوه راته يې کړه ته څوک يې ؟
ـ زه دلاور نومېږم، تاسې زما له موټر سره تصادف وکړ! اوس مې روغتون ته راوړې، هغه لږ غلې وه، هڅه يې کوله څه په ياد راولي، سترګې يې له چت سره وټومبلې بيا يې ورو وويل:
ـ ستا ملامتي نه وه، بس هسې زما ليونتوب ؤ !
ـ دا خبرې به وروسته وکړو، اول دا راته ووايه چې د کوم ځای يې او نوم دې څه دی ؟
ـ نوم مې څه کوې ؟
ـ غواړم کورنۍ ته دې احوال ور کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ قاچاقبره نومېږم، خو کورنۍ نه لرم!

ـ هیله کوم وخت مه ضایع کوئ ستاسې وضعیت ناسم دی نوم مو سم وښئ او د کور د کوم غړي شمېره مو راکړئ چې را خبر یې کړم ؟

ـ سم نوم مې اخیستی!

څه دي چې واورېدل ټول ریښتیا همدا دي

ـ ولې کورنۍ نه لرې ،؟

ـ نه، کورنۍ نلرم، د ژوند په سختو گردابونو کې راگیره شوم، کورنۍ یې رانه واخیسته، تقدیر مې د هیلو خلاف په یوه طوفاني او تبا کوونکې لاره رهي کړم، خدای ج دې هیڅ تورسرې زما په څېر نه کم بخته کوي، زه دعا کوم چې خدای ج دې د هیڅ چا پاکې هیلې لکه زما چې وي، له غوړېدو مخکې نه رژوي؟!

زه مې خپل پلار نه ښنم، د ځان د ښېرازي او ژغورلو لپاره یې زما ژوند برباد کړ، زما په اړه یې هېڅ فکر هم ونه کړ، زه اوس په دې ژوند څه وکړم؟ لکه د لوبو د مېدان توپ چې یو مې بل ته پاس کوي، ما او عزت مې په لغته وهي!

تر ټولو خواره برخه زما په قیسمت کیږي، شاهانه ژوند مې په بې عزته ملنگې بدل شو، لکه لانځکه د هر لاس برېدوونکي د لوبولو حقداره وگرځېدم، پلار مې لږ هم د خپلو اولادونو په اړه فکر ونه کړ! د خپل ژوند ژغورلو لپاره یې زموږ سرنوښت ته اور ورته کړ او...

ـ نو اخر ولې ،کیسه څه ده ؟

-کیسه به درته وکړم، وخت یې رارسېدلی، زه مې د پلار په څېر نه یم چې د نورو ژوند په اړه راسره فکر نه وي، زه غواړم ژوند مې لکه د اسمان د ستورو رڼایي له هېڅ چا پټه نه کړم، زه غواړم نور زما په څېر بدبختي تجربه نه کړي زما له ژونده پند واخلي.

ـ نو قاچاقبره نوم مو ځنگه غوره کړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زه هم پرې شرمېږم، په خوله مې سم نه راځي، اصلي نوم مې لېمه دی، خو دا تپل شوی نوم مې د تبا کېدونکي ژوند سره تړلې کیسه ده !

نه پوهېږم د تقدیر لوبه یې و بولم او که خپله بدقیسمتي یې وګڼم او یا یې هم د کور د ناسمې رهبرۍ زېږنده وبولم.

ـ ایا پوښتی شم چې تاسې ولې زما موټر ته قصداً ځان راوغورځاؤ او د ځان وژنې هڅه مو وکړه؟ هغې ترخه مسکا وکړه راته یې کړه !

ـ بېړه دې ده؟ چې زما د ژوند په راز پوه شې؟

ـ نه بېړه مې نده! او که تاسې یې مناسبه نه بولۍ زه کومه نیوکه نه لرم، بس یوازې دومره مالومات راکړئ چې ستاسې شناخته څوک را خبر کړم، ځکه دلته خو پښتو ده دود ده، کلتور ده، که یې خبر نه کړم، بیا به یې پوښتنو ته بې ځوابه شم،حلال پاخه به راسره کوي.

ـ د ناروغ رنګ زېړ شو، خبرې یې کم شېمه شوې، غټو سترګو کې یې اوښکې وځلېدې بیا رڼه، رڼه څاڅکي ترې لکه سپینې ملغلرې د هغې د سترګو له کونجونو یو په بل پسې راتوی شوې، د بستر تر روجایې ورسېدې، یو سوړ اسویلی یې وویست غلي یې وویل:

له ژونده نوره ستړې یم!

ډېره سخته ستړې شوې یم، نور ژوند، راباندې پیټی دی نه یې شم زغملای!

ـ ولې؟

ـ خبرې سمې نشم کولی، نفس مې قید کیږي، زما سره یوه توره بکسه وه د ټکر په وخت کې مې په لاس کې وه، اوس به زما له بدقیسمتي خدایزده چېرې وي، د ژوند ټوله کیسه مې، ټکي په ټکي پکې انځور کړې وه، د خپلو بدبختیو تور تاریخ مې پکې لیکلی و، غوښتل مې زما د ژوند بدبخته کیسه هر څوک وګوري، ټوله نړۍ ترې خبره شي، پند ترې واخلي او بیا زما په څېر بدبخته نشي، خو لکه چې د نورو هیلو په څېر مې دغې هیلې هم سر وخوړ او بکسه بې درکه شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې ژړغونې معصومه څهره او له غمونو ډکې مړاوې سترګې مې نه شوې لېدی، ښکته مې کتل، کتو یې د سړي زړه پرې کاؤ، د هغې خبرې، جاذبې او هم خفه کوونکې وې، د هغې د معصومې څهرې او د سر قوي ضربې مخامخ کتلو سره مې ښه احساس نه کاؤ.

له ځمکې سره مې سترګې ګنډلې وې، ځان مې خجالت ګاڼه فکر مې وکړ، داسې مظلوم کس دې وهلی چې که خدای او حکومت دې وبښي، ځان به خپله څنګه وبښې؟، د وجدان عذاب به دې څنګه کړې؟ که تېز نه تللی، شاید دا مېرمن با وجود ددې چې ځان یې موټر ته راواچاؤ ژغورلې دې وای .
په ځوړند سر مې ورته کړه!
زه بښنه غواړم
ـ د څه شی بښنه ؟ بښنه خو باید زه وغواړم چې ته مې په خپل بدبخته ژوند کې راګېره کړې. خو اندیښنه مه کوه چې پولیس راشي زه به ستا د بې ګناهي ورته ووایم .
ـ ورته مې کړه:
هیڅ څوک نه پوهیږي چې تاسې د ځان وژنې هڅه کړې ده او زما موټر ته مو ځان را اچولی ده، خلک ما د یوه ګناهګار او بې احتیاطه کس په نوم پېژني، چې تاسې مې په موټر وهلې یاست ؟!
ځواب مې ترلاسه نه کړ، سر مې راپورته کړ غوښتل مې ورته ووایم چې کېدای شي ستاسې په دې پېښه کې زه بندي شم، خو چې خوله مې خبرې ته راټولوله، د هغې په مخ مې نظر ولګېده سترګې یې پټې وې، بېرته د بې هوښې څپې ته تللې وه، په ژوره ساه اخیستو باندې یې پیل وکړ، ډاکتر ته مې غږ کړ ...

هلې ژر راشئ د ناروغ وضعیت بېرته خراب شو، زموږ له غږ سره، ډاکتر او نرسې په یو بل پسې زموږ په لور ګړندي ګامونه پورته کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناروغ خولې ته مې وکتل د شونډو دواړو خواو کې يې سپينو ځګونو ځای نيولی ؤ، د سترګو تور يې شاته تللي ؤ يوازې سپين يې مالومېدل، تنه يې يوه او بل لوري ته لکه کپچه مار په بستر کې تاويده، د سترګو سپين يې مالومېدل تور يې شاه لوري ته کاږه شوي ؤ، ډاکتر نرسې ته وکتل ناروغ ته يې د اکسيجن په زياتولو  اموره کړه، ورته يې کړه  يوه د ارام ستن هم سيروم ته ور اضافه کړه، هغه لاس په کار شوه  د اکسېجن په ماسک يې د ناروغ پوزه وپوښله او ژر ژر يې په پينس د ښيښيي ستنې سر مات کړ.

ما د دوی ننداره کوله چې دوه پوليس دوه نور په ملکي جامو کې حکومتي کسان مې مخې ته ودرېدل راته يې کړه دلاور ته يې ؟

ـ هو

ـ دا مېرمن تا په موټر وهلې  ؟

ـ هو

ـ ته  حوزې ته بلل شوی يې ؟

ـ د څه لپاره ؟

ـ د څه لپاره مه وايه، د پوښتنو حق موږ لرو، نه تاسې.

ـ اخر ولې؟

ـ د موټروانې لايسنس لرئ ؟

ـ نه

ـ ښا جرم پسې بل جرم.

ـ ګورې مېرمن ما په موټر وهلې، خو دې کې زما هيڅ ګنا نه وه!

ـ هو تاسې سپينه ملايکه ياست، هيڅ مو هم ندي کړي، ګناه زموږ ده چې هسې دې تا وخت ضايع کوو او حوزې ته مو بيايو.

ـ ګورئ، هغې خپله زما د موټر مخې ته ځان را وغورځاؤ.

ـ ښه افرين والله، د پلمو چل بايد له تا زده شي، يانې چې هغه ليونۍ وه او يا يې هم کومه نشه کړې وه په ځان نه پوهېده، يا هم د ځان په قيمت يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل تا په کومه لانجه کې واچوي همداسې ده؟، هغه هم یوه تور سرې؟

ـ کاش کې تاسې لږ مخکې راغلي وای، هغه په هوش وه، زما خبرې به تاسې د هغې له خولې اورېدلې وای.
ـ ته هم پوهېږې چې هغه خبرې نشي کولای کنه ؟
یوه له لاس ونیولم، له واټه یې بهر وباسلم، راته یې کړه، موټر دې چېرې ولاړ دی ؟
گوته مې اوږده کړه ځای مې وروښوده.
له موټر سره یوځای یې حوزې ته بوتلم، ښه یخ ؤ د مني اخیرې شپې او ورځې وې د شپې یې یوه کلکه شوې ډوډۍ، له یوه قاب سره راته کېښوده، قاب ته مې وکتل ډنډ اوبه او د څو په شمار پخو لوبیاؤ ډډې ترې راوتلې وې، ډوډۍ مې ونه خوړه، ځکه چې د یوه نامالوم سرنوښت فکر مې لوږه ختمه کړې وه، په یوه خیرن توشک او شکېدلي بالښت مې سر کېښود، خوب نه راته، ټوله شپه مې هم د یوه تیاره راتلونکي نه د ځان ژغولو په فکرونو کې په ویښه تېره کړه، سهار مهال مې سترگه سره ورغلې وه، بلاخره راویښ شوم، د لمانځه وروسته مې د سهار د چایو پیاله خولې ته نیولې وه چې سرتېری مې مخې ته ودرېده راته یې کړه :

ستاسې موټر نن ترافیکو ریاست ته لېږدول کیږي، او ته به د دوسیې بشپړېدو تر پایه محبس ته درومې.

د موټر د وړلو یې چې وویل، د سرتېري نورې خبرې مې وانهورېدې، ژر راپورته شوم، ما ویل چې د مېرمنې بکسه یو نه سي، موټر ته په بیړه ورغلم توره بکسه مې ترې راواخیسته، تخرگ کې مې ونیوله دوی لاس په کار شول موټر یې وباسه، زه یې بل موټر ته وخېجولم او هغه ساعت هم راورسېده چې په محبس کې مې ځان ولیده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په محبس کې مې احساس کړه چې له دې ځایه وتل به مې وخت واخلي او خلاصېدل به مې ځکه اسانه نه وي، چې په موټر د انسان وهلو په پېښه کې راغلی وم، بله کم بختي دا وه چې نه مې د پېښې شاهد درلوده او نه کوم معقول دلیل، چې ځان مې پرې خلاص کړی وای.

خو د ځان له خلاصېدو مې هم توري بکسې ته ډېره بیړه وه، ترڅو د مېرمنې په ژوند ځان خبر کړم او هغه راز پیدا کړم چې دغه ځوانه مېرمن یې ځان وژنې ته چمتو کړې ده!

ورغلم، بکسه مې را واخیسته، خلاصه مې کړه، په یوه ډېر ښکلي خط باندې لیکل شوې پنډه سپینې پاڼې مې پکې ولیدې، رینې ښېښې پلاستیک ترې تاؤ ؤ، له سلو پاڼو زیاتې وې، دواړه مخونه یې ډک ؤ، پوه شوم چې مېرمن یې د لیکلو په وخت کې د کاغذ د کمبوت سره هم مخ وه، پاڼو ته مې لاس ور د ننه کړ، چې راپورته مې کړې څو انځورونه ښکته ترې ولوېدل پاڼې مې کېښودې، یو انځور مې گوتو کې ونیو سترگو ته مې مخامخ کړ، یوه نهه کلنه انجلۍ باندې مې نظر ولگېده، د مکتب کتابونه یې شاته اچولي، د گرد سپوږمییز ډک مخ څخه برخمنه برېښېده، سترگې یې غټې وې گڼ بانه ترې راتاؤ ؤ، بل انځور مې هم د همدې جلۍ پکې ولیده د صنف په لومړي کتار کې له پاکو سوتره جامو سره ناسته وه، سترگو یې یو څه شکمن کړم چې کېدای شي ددې میرمنې د کوچنیوالي انځورونه وي، ځکه یو څه ورته والی یې قاچاقبرې ته درلوده!

د انځورونو لېدو مې نوره همی تلوسه زیاته کړه او د مېرمنې د ژوند په راز د پوهېدو حس یې را قوي کړ، تر څو وگورم په سپینو پاڼو کې څه دي ؟

خو مخکې له دې چې پاڼو ته لاس کړم سرتېری مې مخته ودرېده راته یې کړه یوه لیدنه لرې.

ـ د چا سره ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د کورنۍ غړي دې راغلي دي.
- وارخطا شوم، ځان سره مې وويل، اوس به دوی څومره سوې سپورې درته ووايي څومره به دې ملامت کړي، چې بې احتياطي کوې دا او هغه پانې مې بېرته په بکسه کې کېښودې، راپورته شوم لږ وروسته مې د مور، مېرمنې او مشر ورور مخې ته کيناستم، خو زما د تمې خلاف خاموشي وه، د مور سترګو ته مې وکتل، لمدې وې، مېرمنې مې هم په سترګو کې سوک واهه، د مشر ورور څهره مې بېخي مړاوي او غمجنه ښکارېده چا څه نه ويل، ټول ښه خفه ؤ.

خاموشي ما ماته کړه، دوی ته په تسلي لګيا شوم، ورته مې کړه، هرڅه به سم شي، ما کومه ګناه نده کړې، هغې تور سرې خپله زما د موټر مخې ته ځان راوغورځاؤ، روغتون کې په هوش راغله خپله يې هم دا اقرار وکړ چې له ژوند نه تنګه شوې وم او خفه يم چې ته مې په جنجال کې را ګېر کړې!

ددې خبرې له اورېدو سره مې مور په ګرېوان کې لاسونه واچول په ښيراؤ يې پيل وکړ، خدای ج دې دا ښځه روغه نه کړي، له موره يې څه غوښتل چې ځان يې غاړې ته را اچاؤه، که له ځانه تنګه وه، خو رسۍ کې به يې ځان ځړولی ؤ، ددې رنډی له لاسه خو ما بېګا ټکی خوب هم ندی کړی، زوی به مې خدای ج خبر څومره بند تېروي.

ـ مورې ښيرا ورته مه کوه شايد واړه ماشومان ولري او که مېرمن ښه نشي کېدای شي دلته مې ډېرې شپې شي، دعا کوه چې هغه روغه شي او زما په بې ګناهي اقرار وکړي کنه دلته به مې په بند کې تور ويښته سپين شي.

د مېرمنې مخ ته مې وکتل، ځان يې يوې ګوښې ته کړ، ژړ، ژړ يې شونډې خوځولې، لاسونه يې لپه کړي ؤ غلي مې ترې واورېدل چې ويې ويل، خدايه ج جوړه يې کړې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه ج موږ له دې ستونزې خلاص کړې.

دوی مې تسلا کړل، د ژر خوشې کېدو هیله مې ور کړه او بیا مې رخصت کړل، ځکه د مېرمنې لیکنو ته مې تلوسه وه.

لاړم د خپلې کوټې په توشک کېناستم د توشک د خیرو سوړ بوی مې تر سپوږمو شو، طاقت مې ونه شو، د کوټې دوه متري ورسی ته لمر رالوېدلی ؤ ځادر مې په یوه زوړ فرش ځان ته وغوړاؤ پرې کیناستم، له بکسې مې یو بنډل سپین کاغذونه را واخیستل په لومړی پاڼه مې د لوستو پیل وکړ!

قاچاقبرې لیکلي ؤ!

وطن سرو لمبو اخیستی ؤ، د هیڅ چا ځان مسؤن نه ؤ، غلاوې، لوټ کېدنه، باج اخیستنه او انسان تښتونه بیخي زیات شوي ؤ، د ځنځیري وژنو لړۍ هم ښه په درز کې روانه وه، په چا به چې حساب کېده او پنځه کسه به پرې راټولېدل نو لکه د ښکار مرغۍ د ټوپک شپیلۍ به یې په لور کړېده، او په زخه کېده به، هغه چې مطبوعاتو به یې د مړینې خبر را اخیست او تود خبر به پرې جوړېده هغه به بیا زرین ښکار ؤ، د هېواد وګړي هم نه پوهېدل چې په ملک کې څه روان دي، خو دا ګمان یې په ذهنونو کې ؤ چې ګل، ګل کسان لکه د زعفرانو غوټۍ له ټولنې ټولیږي، کوم کسان چې د بل مشال په څېر خلکو ته رڼا ورکوي هغه خلک د ژوند کولو ډېر کم چانس لري، همدا روانه کیسه لکه چې پلان شوې لوبه وي، پلار مې حامد هم د ګوتو په شمار سرونو څخه حسابېده، هغه د پوهنتون استاد ؤ، داسې استاد چې چا یې په مخ کې سپڼ هم نشو کولی، علمي بحث خو ورسره د چا د وس خبره نه وه، هغه پوهېده چې یوه ورځ به یې مرمۍ په سر ښخیږي او ټولنه به یې له هلو ځلو او وړتیاؤ بې برخې کیږي، نو اړ شو د خپل ځان د ژغورلو او د ماشومانو د بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرپرستۍ څخه د مخنیوي  په خاطر یې یوه لویه پرېکړه وکړه، داسې پرېکړه چې ضمیر یې نه منله خو دا چې د هغه د ژوند خبره وه له ډېرې مجبورۍ یې په نه زړه دا تصمیم ونیو، ځان سره یې وویل:

نور دا وطن پرېږدم، چېرته امن ځای ته ځم، چې کله هم وطن کرار شي، او دا د وحشتونو لړۍ پای ومومي نو که ژوند وفا کړې وه بیا به راشم او د وطن د خدمت حق به ادا کړم  که چاره د سرو ده هم نو په نس منډل یې نه دي په کار.

یوه ورځ مې پلار له پوهنتون نه کور ته راغئ غوښتل یې دغه لویه پرېکړه د خپلې کورنۍ سره شریکه کړي او په ګډه هغوی هم دده له پرېکړې ملاتړ وکړي .

زموږ کورنۍ، څلور تنه غړي لرل مور مې ډاکټره وه رابعه نومېده د ولادي نسایي متخصصه وه، یو مې ورور له ما مشر ؤ هغه له روحي ستونزو کړېده، ظاهراً روغ مالومېده خو کله کله به له کنټروله ووت، سره له دې نمګړتیاؤ یې ماته دومره مینه راکوله چې ماسره یې د بیانولوو ټکي نشته، ماته مې یوازې ورور نه بلکې یو ښه ملګری هم ؤ، چې کله به یې هم طبیعت جوړ ؤ نو د مور مینه به یې رانه هېره کړه، دومره به یې نازولم چې حد یې نه درلوده، خو کله به چې د روحي فشار لاندې راغی له چاپیریال سره به یې اړیکې پرې شوې د بېرته کنټرول لپاره به یې ټول ناز سرته راته کېښود.

د کورنۍ څلورمه غړې زه وم اصلي نوم مې لېمه  ؤ او دوی به له نازه پرې بللم، زه  په عمر کې کوچنۍ وم خو، چابک ماغزه او  ښېرازه بدن خدای راکړی ؤ، مور به مې تل راته ویل ستا تعقل، له دېرش کلني عمره هم پورته دی، ذکاوت د کم ساری دی، د مکتب ملګرو نه به مې تکراري همدا خبره اورېده ویل به یې، ستا غوښین مخ، بادامي سترګې طلایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیچلي ویښتان د هر لېدونکي پام ځان ته را اړایي، خو زه خپلو دې ځانګړتیاؤ ته ډېره نه وم متوجه شوې، خدابېزده ریښتیا ؤ او که د دوی کرم او لورېینه وه، د ښوونځي اتم ټولګي کې اول نمره وم، څوارلس کلني عمر باندې د پل اېښودو ته مې نهه میاشتې پاتې وې، مور به مې کله، کله چې راته په قار شوه د ایټلر لور په غږ به یې رابللم، دوه ځله مې دې سوې ازموینه ورکړه ځکه خو مې د عمر په تناسب په لوړ ټولګي کې زده کړې کولې، په همدې عمر کې د کور ډېر واک له ماسره ؤ پلار او مور به پیسې له ماسره کېښودې، که به یې په کار هم شوې له ما به یې اخیستې، هغه د بانګ والو په اصطلاح د کور کشېر (خزانه داره ) زه وم، د کور اړین توکي به ما راغوښتل کله به هم چې کور کې کومه مشوره کېده نو زما نظر پکې شرط ؤ، که به په کور کې  نه وم هم او کومه مهمه پرېکړه به کېده نو بیا به مې مور او پلار د کور نورو غړو ته ویل چې هغه د ایټلر لور ته خبره ماتل کړئ، د کورنۍ باور په ما د کورنۍ د یوه لوی غړي په توګه ؤ، د کور د ډېرو کارونو کنټرول تمه له ما کېده، د حالاتو اړتیا هم همدا وه ځکه مور به مې ټوله ورځ تر ماښامه په کلینک کې وه، پلار به مې هم چې سهار پوهنتون ته لاړ نو تیاره ماښام به راته، له دولتي دندې وروسته یې د شخصي پوهنتون استادي هم غاړې ته اچولې وه، ما هم په پوره ایمان داري دا هر څه تر سره کول د کور کشرې په اصل کې د کور د مشرې په توګه باور تر لاسه کولو لامل هم شاید همدا ؤ.

له لیکوالي سره مې هم شوق ؤ ارمان مې ؤ د یوه ښه کتاب لیکواله شم او خلک مې د خپلې نظریې پلوی ته راوبولم، خو تقدیر هم جالب وي، نه پوهېدم، دا ارمان به مې د ژوند د یوه خطرناک کتاب په لیکولو بشپړ شي، د ژوند یو داسې کتاب لیکواله به شم چې د ژوند د خاتمې کتاب په توګه به یې خلک لولي، که زه داسې پوهېدای، ما به هېڅ کله هم د لیکوالي شوق نه ؤ کړی، کله، کله به مې یوه نیمه ګوډه ماته لیکنه هم کوله، یوه اخبار یا هم مجلې کې به خپره شوه، په هغه کوچني والي کې مې له وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره بې کچې مینه وه، ځکه خو مې د ماشومتوب له شوخي او بې پروا ژوند څخه خوند اخیستنې سره خدای پاماني کړې وه، لوبې، خندا، شوخي او په پارکونو کې چکرونه راته د وخت ضیاع ښکارېده، تل به مې سترګې له کتاب سره ګنډلې وې تر نیمو شپو به مې کتاب وایه او سهار به هم له مور او پلار وختي پاڅېدم، تلوېزیون به مې ډېر نه لیده یوازې یوه سریال ته به مې تلوسه لرله، کله، کله خو به مې ډوډۍ هم ورته پرېښوده، هغه سریال کې مې د یوه لوی ارمان راز پروت ؤ، هلته به هغه خبرې کېدې چې زما به ډېرې خوښېدې، په هغه کې یوې پېغلې د ډاکټرې هېرو په ډول رول لوباؤ، غوښتل مې د هغې نه الهام واخلم او په راتلونکي کې یوه ډاکټره شم، هېواد ته د پلار او مور په څېر یو بې مثاله کادر په صفت خدمت وکړای شم، مور ته به مې تل ویل چې زه نه غواړم ستا غوندې ډاکټره جوړه شم، هغې به ځان ته رانیږدې، غېږه کې به یې ونیولم بیا به یې مخامخ ځان ته ودرولم خپله پوزه به یې راسره وجنګوله، راته وبه یې ویل:

ولې زه نالایقه یم ؟

ځواب به مې ور کړ نه، ته نالایقه نه یې بسته ولایت دربانديې حساب کوي زما او ستا ترمنځ به صرف توپیر په دې کې وي، چې ته د ولایت په کچه شهرت لرې او زه باید د ملک په سطحه شهرت پیدا کړم د ټول هېواد په کچه مشهوره شم، مور به مې په خبره وخندل بیا به یې په غېږ کې ونیولم راته به یې کړه !

زما هوښیارې لورې خدای ج دې همداسې وکړي، دا ستا نه بلکې زما هیله هم ده، یوه مور چې ستا غوندې لور ولري هغه نور له خدایه څه غواړي، کم ترکمه زما سترګې به هم ستا له برکته جګې وي.

یوه ورځ مې پلار پوهندوی حامد موږ ټوله کورنۍ راټول کړو، غوښتل یې له خپلې پرېکړې مو خبر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويې وويل:

دلته د ژوند حلقه تنګه شوې ده، زموږ ژوند هم له ګواښ سره مخ دی غواړم له تاسې سره يوځای، له هېواده بهر لاړ شم، دلته نور ژوند ناشونی شوی دی، ددې خبرې په اورېدو مې زړه ولړزېده مخې ته يې ودرېدم ورته مې کړه:

بابا جانه ولې له هېواده بهر مرګ نشته ؟

ـ شته خو هلته په خپله نېټه، دلته خو اجل معلق ده!

ـ بابا جانه، که موږ لاړ شو دا وطن به چا ته پرېږدو؟ که موږ هم لاړ شو او زموږ په څېر نور هم لاړ شي نو بيا به دغه وطن له دې بحرانه څوک باسي؟

هغه وويل:

نوره کيسه زموږ له وس وتلې ده، دلته جګړه د سيمې استخباراتو پر مخ وړي او ترڅو چې دوی خپلو موخو ته نه وي رسېدلي، دلته بل شوی اور نه مړ کيږي زما هم په وطن زړه خوږيږي! خو اوس هر څه له وس بهر شوي دي.

ـ ښه نو هغه هېوادنۍ مينه دې چې موږ ته را زده کړې وه هغه ټوله دروغ وه، تا خو موږ ته ويل چې وطن مور ده او وطن د مور په څېر حق لري، اوس برعکس له ناصحه د خپل نصيحت سرچپه اورو ؟ جالبه نده ؟!!

ـ لورې ته هم په حقه يې؟ وطن هم حقدار ده خو موږ چې ژوندي يو نو وطن ته به خدمت وکړو، چې ژوند ته مو څوک پرېږدي نه، نو دلته مرګ او د وطن پرېښودل يو شان دي، د وطن په پرېښودو کې خو لا دا چانس وي که ارامي شي بيرته به راشو او خپلې زيمه واريانې به ادا کړو، خو که مړه شو بيا دا چانس هم له منځه ځي.

مور مې د شين چای پياله خولې ته نيولې وه، پياله يې پر مېز کېښوده، مخ يې راواړاؤ راته يې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لورې پلار دې په حقه دی، مورږ د وطن له حقونو انکار ندی کړی، خو دلته د خدمت ته څوک نه پرېږدي، تا هغه بله ورځ ونه لېده چې خانجان خپل باډي ګارډان راستولي ؤ او له ما يې باج غوښته، ويلې يې ډاکټره يې ښې پيسې اخلي، ستا په پيسو کې زموږ حق هم دی، يا به لس لکه روفی راکوې يا به دې ماشومان تښتوم!

ايا زموږ زور له هغوی سره برابر ده، ايا هغوی د چا په ژوند صرفه کوي، موږ يې د لسګونو جنايي پېښو شاهد نه يو؟ دا ځل خو پيسې راسره وې ور مې کړې، بل ځل به يې له کومه کوو، دوی روګدي دي هر کال پيسې غواړي د پلار ژوند دې هم په خطر کې دی، له تګ پرته بله لاره نه لرو.
ورور مې هم د دوی خبره تائيد کړه، زه په مخالف لوري کې يوازې پاتې شوم.
هڅه مې وکړه له دليلونو کار واخلم ترڅو دوی دغه پرېکړه بېرته واخلي ورته مې کړه، دلته دې مړه شوو، هډوکي مو دې خاورې شي، دا د وطن حق دی ددې خاورې اوبه او دانه مو خوړلې، که يې حق ادا نه کړو د ملک پوروړي به شو، د هېواد پور ادا کول بيا سخت دی له مرګه خلاصون هېڅ چېرې هم نشته، اخير به هم مرو، خو په خپله خاوره کې چې دفن شو لږ به مو دلته روح ارام وي ځان به يوازې نه احساسو، په پردی خاوره کې مرګ هم ولاکه خوند کوي.
خو زما دليلونو کومه ګټه ونه کړه ورور مې زه مخاطب کړم، راته يې کړه ته دلته پاتې شه هېواد دې په تا مبارک وي، هم دلته به واده وکړې، ماشومان به دې وي لويه کورنۍ به شئ اولادونه به دې ښه په هېوادنۍ مينه  وروزې زموږ مخه مه نيسه!

د واده له ټکي سره زما هم غومبري سره شول، ښکته مې سر واچاؤ شرم او بې جرئتي دواړو له چوپتيا سره مخ کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوپتيا مې غوره کړه، نور دليلونه مې هم خلاص شو، خو خدای ج شته چې هېڅ مې زړه نه غوښتل له هېواده جدا شم، زما چوپتيا دوی د رضايت چوپتيا وبلله.

دوی لاس په کار شول، زموږ يو منزله څلور اطاقه کور چې مخې ته يې شين چمن زرغون ؤ او زما د کوچنيوالي د لوبو او د ونو لاندې د مطالعې ډېرې خاطرې ور سره تړلې وې هغه يې په بيه کې واچاؤ، موږ هم خلکو اړ وپېژندو، په نېمه بيه به يې د کور قيمت ووايه اخېر يو کس يو څه انصاف ته نيږدې قيمت ووايه کور مو په هغه وپلوره، ايلا پر ځمکنی لاره د قاچاقبر پيسې يې جوړې کړې، له مور سره مې دوه لکه افغانۍ د کتنځي عوائد راسره د لارې د شخصي لګښت لپاره د هيلې وسيله شوه.

د تګ پرېکړه يقيني شوه، خو زما لپاره د ژوند تر ټولو سخته او خواشينه ؤنکې پرېکړه وه، دې پرېکړې دومره ځورولم، لکه له تنه مې چې کومه برخه رانه بېليږي، پرېکړه راباندې تحميل وه او په لاس مې هم څه پوره نه ؤ ځکه چې ټول راته يوې خواته او زه يوازې وم، په ژوند کې مې لومړی ځل ؤ چې خبره مې رد کېده او مشوره مې د خپلې کورنۍ د غوړونو پردې په اهتزاز نه راوستې، له هېواد سره مينه مې د مرګ په بدل کې هم کمه ګڼله د کابل په پرسکونه ښار کې مې ځان لکه د ارګ د واکمن لور باله، د يوه انساني غرور سره به ښونځي ته تلم، د خپلو همځولو سره ليده کاته راته ټوله نړۍ وه، ساده ټولنيز ژوند مې په شاهانه دربار هم نه ورکاؤ. خپل وطن ګل وطن وي، دا مې د يوه مسافر کيسه په ورځپاڼه کې لوستې وه هغه هم زموږ د کورنۍ په څېر د هېواد حالاتو دل سرده کړی ؤ له هېواده بهر تلو ته اړ شوی ؤ، د هغه په ټوله کيسه کې له پښېمانتيا نور څه نه ؤ ځای شوي، د هغه د کيسې غورچاڼ دا ؤ چې دلته له لوږې مړه شئ، سپوره وخورئ، نهار کېنئ خو بهر ته د تلو زړه مه ښه کوئ، ځکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته که هېڅ هم نه وي نو عزت او ابرو خو درپاتې کيږي، هلته دا هم درنه ځي او له واکه دې وځي.

د خپل ځان او کورنۍ په عزت ډېره ډارېدم، خو زما ويره بې ځايه نه ؤ، هغه د پوليسو خبره شک انسان تر حقيقته رسوي، وړه وم خو ځيرکه وم هرڅه ته مې فکر رسېده او يوه موضوع به مې له ډېرو اړخونو څېړله، دغه تگ مې د کورنۍ د ابرو د خونديتوب لپاره سم نه گاڼه، سفر ته مې د شک په سترگه کتل ځينې وخت شک هم، حقيقت ته په بدلېدو واوړي، زموږ هم کټ مټ همدا کيسه شوه!

مازديگر مهال د کور مخکې چمن کې ناست ؤ د ونو په نازکو خاښونو مرغيو ټال واهه، يوې نيمې خو به پکې د خپلې غاړې د موسيقيت ترنم هم غږاؤ، پلار ته مې زنگ راغئ ورته ويې ويل:

تر ماښامه د کندهار هډې ته له کورنۍ سره ځآنونه راورسوئ، يوازې د ځان جامې او د لگښت پيسې در سره راواخلئ، ځانونه مه درنده وئ، اوږده مزلونه مو په مخ کې دي، د پلار خوا کې ناسته ؤم د هغه کس غږ مې اورېده، غږ مې يو ځانگړی احساس په زړه کې پيدا کړ، دې ډار احساس، داسې احساس چې سړی په لوی لاس ځان په خطر کې اچوي، له هماغه ځايه مې يوه وېره زړه ته ننه شوه، په يوه ژور وېرونکي خيال کې لاړم، ځان سره په خبرو شوم، پرديو ممالکو څخه تېرېدنه اسانه نه وي هغه هم هغه هېوادونه، چې قانونيت پکې حاکم وي زموږ په څېر له گډوډ نظام او نا امني سره نه وي لاس او گرېوان، ځکه هلته نه رشوت چليږي او نه واسطه، نو موږ ته به سخته وي چې د هغوی له سرحدونو مرور کوو، موږ له دې پرېکړې سره د ځان سرنوښت په يوه نامالوم لوري بيايو، بې واکه مې اه له خولې ووت او دا جمله راڅخه وويل شوه!
پلار مې د مرگ په قيمت له مرگه ځان خلاصوي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د خبرې په اورېدو مې پلار رډ، رډ راته وکتل، راته یې کړه لورې څه دې وویل:

ـ هسې پلاره!

د تګ چمتووالی روان شو، بېګونه مو چمتو کړل یوه، یوه جوړه جامې مو پکې واچولې، د څنګ یوه ټولګې واله ګاونډۍ مې راوغوښته، هغه له هزاره قومه وه، زما په قد ؤه، خو خورا بې وزله وه، تل به یې زما د کالیو د موډ او عصریتوب تعریف کاؤ، پوهېدم چې زما له جامو سره مینه لري خو د غربت له کبله یې نشي چمتو کولی، پخوا به مې هم کله، کله یوه نېمه جوړه ورکوله، په ډېرو زما زړه نه کېده، د پلار د مال سره یو ډول خیانت راته برېښېده، اوس نو تقدیر هغې ته زما نیت بدل کړ، ټولې جامې مې هغې ته ورکړې، هغه لومړی جامو ته ډېره خوښه شوه خو چې زموږ د تګ یې واورېدل په راوتلو سرو غومبرو او تنګو سترګو کې یې اوښکې وځلېدې، ویې ویل له جامو هم تېره یم خو تاسې مه ځئ ورته مې کړه زما هم له زړه وینې څاڅي، خپل وطن ، تاسې او نور ټولګې والو پسې ډېره خفه کیږم، خو څه وکړم د کورنۍ د مشرانو پرېکړه ده، پلار مې جدي تصمیم نیولی، وایي ځو نه پاتې کیږو.

هذاره ګۍ، چې راضیه نومېده زما له خبرو سره باوري شوه چې زارۍ یې کوم ځای نه نیسي، په غومبرو یې لاس تیر کړ، اوښکې یې پاکې کړې، ژړا یې په چغو بدله شوه، زما له غاړې یې لاسونه تاؤ کړل، په زوره، زوره یې وژړل، زما هم د هغې مینې او ګرانښت احساسات راوپارول، زړه مې درد وکړ، سترګې مې لمدې شوې او د خدای پاامانې په پای کې مو د یوې او بلې له غاړو تاؤ شوي لاسونه لرې کړل ورته مې کړه زه دې نه هېروم له تا او وطن سره مې ژمنه کوم که چیرې هم خدای اروپا ته په خېر ورسولو نو هلته درس وایم لویه ډاکتره جوړېږم بېرته راځم، راستنه کېږم همدلته واده کوم او همدلته خدمت کوم.



(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې زما د خدای پاماني لاس ټینګ په دواړو لاسوو کې نیولی ؤ، کله، کله به یې سینې او شونډو ته هم ویوړ، راته یې کړه، دومره به هم خوشبخته شم چې بیا دې وګورم؟

ـ که ژوند یاري کوله حتما.

راته یې کړه د بیا لیدو په هیله، نور یې مخ رانه واړاؤ، څو قدمونه یې واخیستل، زما په جدایي کې د نورو اوښکو پټولو هڅه یې وکړه، له ډېرې پرېشاني زما ورکړل شوې جامې هم ترې هېرې شوې، غږ مې پسې وکړ راضیه، کالي دې!

راتاؤ شوه په مخ یې شل ځایه اوښکو لارې کړې وې، کالي یې واخیستل او په پټه خوله زموږ له کوره ووته. ماته یې هم جدایي د زړه د یوې برخې له جدا کېدو کم نه ؤ. دوه، درې بکسونو کې مو د ځان جامې ځای پر ځای کړې، ځان مو ماښام د کندهار هډې ته ورساؤ، لوی ۳۰۳ موټر ولاړ ؤ کلینډر یې ببر سر سیګریټ په لاس، خیرن واسکټ سره د موټر دروازې مخته مسافر ختلو ته هڅول، ویلې، یوازې پنځه نفره پاتې دي نور سې صدو سې ډک دی، دستي حرکت دی، موږ هم په کتار خپل پلار پسې ولاړ ؤ، د دروازې په لوري مو حرکت وکړ، دننه په سې صد سې کې کېناستو موټر له نارینه ؤ، مېرمنو او ماشومانو ډک ؤ هوا پکې ګرمه وه، له ننه وتو سره مو غوږونه ګرم شول، په سیټو کې کیناستو.

مور مې د ډاکټرې په چاپیریال کې روږدې وه، لوڅ مخ د ښیښې خوا کې کیناسته زما عمر کم ؤ، خو لږ چاقه او ښیرازه وم، قد مې هم بې وخته د عمر په تناست لږ لوړ ښکارېده د سترګو له جنګیدو مې بد راتلل، ځکه خو مې چادرې له کوره د راوتو پر مهال په سر کړې وه، مور ته مې هم هغه مهال د چادرې سپارښتنه وکړه ورته ومې ویل:

مور، اطرافي لور ته ځو هلته مېرمنې مخ پټوي، د چا مخ چې لوڅ وي نو بس د نورو ننداره ګرځي، په زړه کې ګوړې ورته ماتوي، چې لوڅ مخې وګوري، بس د اماده شوي ښکار په څېر سترګې ترې نه باسي، خو هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې خوب چوپ کړم چې چادري کې مې زړه تنګيږي سر مې پکې ګرځي.

مور مې د څلوېښتو کالو وه، خو د اوويشت اته ويشت کالو په منګ مالومېده ډېره کيمينه ښځه وه، ډېر پاک زړه يې لاره، تر ټولو لويه ځانګړتيا يې دا وه چې مثبت فکر يې درلوده، د هرڅا په نېمګړتيا کې به يې هم د هغه ښيګڼې لټولې.

موټر حرکت وکړ، موټر ته د ختو پر وخت کې مې مور او پلار په يوه سيټ کيناسته مور يې شاته په بل سيټ کيناستو، مور ته مې وکتل غټ غوښين سپين مخ نه يې تور ټيکرى راتاؤ کړى ؤ، پر مخ يې د رالوېدليو، يو لږ کج ويښتانو ليکه پرته وه خداى شته زړه مې پرې خوږ شو، هغې ته هم د وطن پرېښودل اسان کار نه ؤ خو بس زما د پلار لحاظ يې ډېر کاؤ څه يې نه ويل، خو په څهره کې يې د وطن د جدايي خپګان له ورايه ښکارېده!

د مور مخې ته سيټ باندې يو پنډ چاغ سړى ناست ؤ، څټ يې څو ځايه کوتونه کړي ؤ، اوږده بريتونه يې پرېښي ؤ موټر ته د ورختو سره يې چې زما په مور سترګې ولګېدې نو بيايې ښکته نه کړې، همداسې يې د هغې له مخ سره ګنډلې وې، تر هغو يې ننداره کوله چې تر څو يې تنه کې ننه وتلې چاغ اورمېږ تاوېده، مور مې د هغه د سيټ شاته کېناسته، له هغه فنا شوه، موټر روان شو، خداى شته مزل يې مسترح ؤ ځکه موټر بيخي نوى ؤ او سړک هم ښه قيريزي شوى ؤ.

موټروان د ټايف پر موچ ګوته ټينګه کړه د موسيقي د پيل له غږه پوه شوم چې د وطن په مينه کې سندره، سندرغاړى اوس زمزمه کوي، زما د ګمان سره سم څو ثانيې وروسته له موسيقي اواز سره د استاد اول مير جادو ګر غږ هم مل شو، وامې ورېدل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای زما وطنه د لالونو خزانې زما
ستا هره دره کې دې د تورو نښانې زما

استاد اول میر لګیا شو د وطن مینې ته یې خلک هڅول او موږ له وطن سره د بې وفایي لومړی ترون پلی کاو، له وطنه د تلو په تکل کې مو له مور وطن سره د خدای پاماني او ملامتي دود عملي کاو، ددغه بې وجدانه پرېکړې لپاره مو د مزل په لاره لومړني قدمونه اېښودل، سخته شیبه وه، داسې شیبه چې زړه یې راته ټوټه، ټوټه کاو.

د موټر ښیښې د بهر نه د رڼایي او تازه هوا راتلو لپاره وې، خو کله، کله به زموږ د موټر ښیښو د هنداري رول هم لوباو، لکه اوبه چې د یو چا تصویر ښکاره کوي د مور خوا کې ښیښې هم همدا کانه کوله، د مور انځور به پکې لکه د اوبو د سر انځور کله تت او کله روښانه ښکارېده، د هغې د انځور په روښانتیا کې مې د هغو سترګو ته پام شو، په غټو تورو سترګو کې یې اوښکې ډنډ وې کله کله به یو غټ څاڅکی هم ترې راولوېد او د ګرېوان مېلمه به یې شو.

یوه شوم چې د وطن سندره مې زما په څېر زما مور هم اغېزمنه کړې هغه هم ځان ملامت ګڼي او له هېواده لرې تلل یې ځوروي، خو د کورنۍ لپاره څه نه وایي هر څه په چوپه خوله تېروي.

سندره ختمه شوه، د مور ژړغونی حالت هم سم شو، اوس نو د چاق پنډ سړي وار پیل شو، هغه له مخکې سیټ نه اورمېږ راتاؤ کړي، زما د مور ښه ننداره وکړي بېرته سر واړوي، زما په کیڼ سیټ کې یو تنکی ځوان چې عمر یې تر اتلسو زیات نه ؤ ناست دی، ښکلي ګڼ وېښتان یې پر تندي پراته ؤ دواړو طرفو ته یې پر منځ بیل کړي ؤ، دغه سړي ته یو زما او یو هم ددغه ځوان پام دی چې بار، بار له مخکې سیټ نه مخ راواړوي ئ، زما د مور ننداره کوي او بېرته مخ تاؤ کړي، زړه مې ورته تنګ شو، غوښتل مې خپله مور له څنګه چوخ کړم او ورته ووایم چې پر مخ پړونی

(c) ketabton.com: The Digital Library



راواچوي، ترڅو د هغه خيرن دغه لوبه ختمه شي خو ډارېدم چې که مور ته ووايم د سړي په وړاندې به عکس العمل ونښيي پلار به مې خبر شي او په موټر کې به لويه ننداره پېل شي، زه په همدې فکر کش مکش کې وم چې په خواکې ځوان مې په قهرجنه څهره کې راپورته شو، د هغه خيرن بريتو مخې ته په ماته ملا ودرېده ځکه قد يې لوړ ؤ د ۳۰۳ له چت سره نيښت، سړي باندې يې خوله راپرې کړه ورته يې کړه :

ولې ته خور او مور نه لرې؟ چې پردي ناموس ته ګورې، ته دې له دې تنې نه شرميږې ؟

سړی وراخطا شو، په خپله څوکۍ کې نېمه پورته شو هلک ته يې وويل ته ماته وايې؟

ـ هو تاته وايم دلته نور ستا غوندې بد او پليت کېدای شي چې داسې خبرې ورته وکړم؟

ـ خوله دې په عطام خوځوه، کنه تر غوږو به يې درته وڅيرم

ځوان نېغ د سړي ګرېوان ته لاس ورتېر کړ، خو چې نورو ګواښونکو يې مخه نيوله د پنډ چاقک پوخ سړي له خولې سره يې دوه سوکه پيوند کړل، شور ماشور جوړ شو، يوه بل ته غوږ نه نيوه، اصلي موضوع پکې ورکه شوه، خلکو دوی سره خلاص کړل، مور مې ماته مخ راواړاؤ د ګوتو په اشاره يې راته وويل څه کيسه وه؟

ما نو ورته نشو ويلی چې مورې!

ستا ښکلې څهرې جنجال جوړ کړی،او ته خبره هم نه يې!

ورته مې کړه مورې نه پوهېږم.!

جيب ته مې لاس کړ يو ماسک راسره ؤ مور ته مې لاس کې ونيو ورته ومې ويل دغه ماسک غوږو ته واچوه، ګرد او دوړې به دې بيا زکام کړي او ستا زکام خو بيا سم درسره بستره اچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماسک یې رانه واخیست د خپلو سپینو لاسونو په نرۍ قلمي ګوتو یې تارونه له دواړو غوږو واړول. د مخ له قالبه یې پر شین ټوکر د ښکلې پوزې نقاب راووت ښایسته ښه ورې سترګې یې ښکارېدې.

تنکۍ په ونه دنګ ځوان بېرته خپلې څوکۍ ته راستون شو کیناست خواکې مې مشر ورور ناست ؤ منځ کې لاره وه ورپسې د دغه ځوان څوکۍ وه، ورور مې وویل زما خوا ګرځې د ښیښې طرف څوکۍ ماته راکړه، ما هم نه ونه ویل، څوکۍ مو سره بدلې کړې زما او د هغه په منځ کې اوس یوازې د پیاده روې فاصله پاتې شوه، ځوان ته مې اورمېږ ور اوږد کړ ورته ومې ویل، مننه کوم.

هغه په ټنډه رالوېدلې ویښتان سم کړل راته یې کړه د څه شي مننه؟

ــ دا زما مور ده، ځکه مننه درنه کوم، تا د حق پلوی وکړه هغه پلن ښځې ته د ښه درس ورکړ.

 هغه د زړه په زور د خندا لپاره شونډې سره بېرته کړې، له سور بخونو شونډو یې سپین مهین غاښونه را ښکاره شول ویې ویل!

د همدې ناموس ساتنې لپاره خو مو سر په تلي کې اېښی بهر ته په قاچاقي لاره روان یو، خداېزده چې له دې مرګونو لارو به روغ ووځو کنه.

ـ تګ مو د ناموس ساتنې سره څه تړاو لري ؟

ـ خو دلته نه کار شته او نه روزګار شته، درې د شهید شویو ورونو کونډې راله غاړې دي واړه، واړه ماشومان لري، زه یې سرپرستي کوم، نېږدې ده، د ماشومانو لوږې له امله مې ورېنداري اړې شي بهر ته په سوال پسې ووځي، نو ځکه یې زه هم اړ کړم په قاچاقي لارو بهر ته ووځم او له هغه ځایه د دوی ګېډې مړې کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ښا نو تاسې هم زموږ په څېر له هېواده پښې سپکوئ؟

ـ نه زه بېرته راځم خو چې دومره وکړم د کورنۍ اړتیاوې مې راکمې شي

ځوان په خبرو کې ماته نه کتل ښکته یې سترګې اچولې وې، د حیا او شرافت یوه نمونه راته ښکاره شوه، د مخې جیب کې یې قلم ټومبلی ؤ، پوه شوم چې د قلم او کتاب سره هم اشنا دی.

ورته مې کړه سبق مو ویلی؟

ـ دولسم مې سږ کال خلاص کړ اول نمره د صنف اعلان شوم، د کانکور له لارې طب پوهنځي ته بریالی شوم، خو قیسمت هم کانې کوي، زما ارمان یې زما په ستونزو کې رانه ونغښت، ستونزې یې راته مخته او ارمان یې رانه لرې کړ، پوه نشوم چې څرنګه ترې تېر شوم .

ـ ښه بیا خو مو مزاج او هیلې سره ورته دي !

ـ هغه څنګه ؟

ـ زه هم د صنف اول نمره وم ،غوښتل مې په راتلونکې کې ډاکتره شم ،خو نه شو!

ـ ولې؟

ـ ویل یې ګټه نه کوي ،ته یې ووایه اوس ستاسې د کور لګښت څوک کوي ؟

ـ رانه کشر یو ورور مې د لاس مزدوري کوي، خو یوه ورځ یې کار وي او لس ورځې بېکاره وی، پلار مې د مسجد امام دی، د هغه په تنخوا ګذاره کوو، خو چېرې کیږي؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېدم څوان راسره د زړه په زور غگېږي، خو د هغه د ژوند په اړه راسره تلوسه وه یو څه یې د ژوند په راز پوه شوم، هغه هڅه کوله نورې خبرې ونه غځوي، شاید د کلتوري ستونزو له امله یې دا کار نه غوښته او یا هم کېدای شاید د ذهني ستړیا له امله، زه نه پوهېدم.

سې صدو سې، ښه مزل کاؤ د موټروان، شاته دوهم سیټ کې ناسته ؤم د موټر له ښیښې مې د اوږدو دښتو او لوړو غرونو ننداره کوله؛ کله، کله به سړک کنډ کپر شو، د موټر د سرعت کمېدو او جمپونو به مې د منظرې کولو څخه ذهن د موټر داخل ته راواړاؤ، د سیټونو له سرو به مې د پکولونو، لونگیو، افغاني پړونیو او د ماشومانو کچخولو ننداري ته پام راواوښت .

د پاخه سړک په منځ کې به کله، کله؛ لکه د کچالانو دوچې لوړې او ژورې راغلې، په لېدو به مې زړه ټوټه ټوټه شو، له ورایه به سړک شکایت کاؤ چې پرې درانه وزن لرونکي موټر تېر شوي او سړک یې د تاب نه لرلو له امله پر ځمکه ننوتلی دی، له همدې امله خو ناستې او راوتلي لارې پکې شوې وي.
سړک زموږ د سخت زړي او د بیت المال سره دې بې پروایي کیسې لارویانو ته په چوپه خوله کولې.
لومړی کندهار بیا هلمند او بیا نیمروز ته ورسېدو!
له موټره ښکته شو، د پلار مخې ته مې یو ډنگر سړی ودرېده، له خولې یې مول تاو کړی ؤ ننه وتې سترگې یې زما د پلار په مخ کې ونیوې ورته یې کړه استاد تاسې یاست؟
ـ هو
ـ ما پسې راځئ!
هغه مخکې شو موږ ورپسې شو یو منزله زوړ هوټل مخې ته یې ودرولو، په سر یې یو کوټه ودانه شوې وه د لرگي زینه یې د ورختلو لپاره د هوټل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښنګ دېوال نه ورته اېښې وه د زينې بيخ ته يې ودرولو، د لاس په اشاره يې وويل پورته وخيجئ، موږ هم  يو په بل پسې وختو وروسته ډنګر سړی هم راوخوت، لاس يې جيب کې ننه باسه د کوټنۍ وره مخې ته ودرېده، قلف يې خلاص کړ بيا يې وويل دلته دمه جوړه کړئ زموږ د ټليفون په انتظار شئ.

له بامه د دغه کوچنۍ بازار ښه ننداره کېدله  د خام سړک دواړو غاړو ته له ختې جوړ دوکانونه اباد شوي ؤ، په قرن اولا کې يې زموږ د ژوند کولو کيسه کوله، د هر دوکان په سر شمسي لګېدلې وه، مالومېده چې دلته هم برېښنا د چين له برکته تيارې روښانه کوي، لکه د يوې پيړۍ شاته ښار ته چې راغلې يم داسې مې احساسوله.

د دغه کوچني بازار په جوړښت، د خلکو رويې، د دوکانونو مخکې د خرڅلاو توکو مې د خيال وزې بوختې وې، خوند مې ترې اخيسته او د وروستي ځل لپاره مې په ژور ليد ځکه کتلې چې، بيا به يې ليدل راته ناشوني وي، هر خړ کمر، دښته، بديا، غر او خړې پړې ودانۍ راته د کابل د مخابراتو اتلس منزله ښکلې مانۍ ايسېدې .

مور مې غبر راوکړ، ليمې، د بام په سر يوازې مه درېږه، دا خو کابل ندی، کوټې ته را دننه شه!

ما هم د فکرونو لمن راونغښته، پرته له ځواب ويلو کوټې ته د ننه شوم، په کوټه کې يو زوړ فرش پروت ؤ ځو ځايه په اور سوی ؤ، لاندې خړه ځمکه ترې ښکارېده، د کوټې په کونجونو کې د څکلو شويو سيګريټو پاتې شوني هم تر سترګو کېدل،کوټې يوه ورسۍ (هشه داره) لرله، په منځ کې يې يو د اوبو ترموز چې خيرن ګيلاس يې په خوا کې ؤ ومې ليده، سخته تږې وم د ترموز خوا کې ودرېدم ګيلاس مې راواخيست خو چې غوښتل مې له اوبو يې ډک کړم منځ يې له خيرو ډک ؤ، تک تور مالومېده، په ګيلاس کې د پاتې شويو اوبو په سر يوه مړه مچ وزرې



(c) ketabton.com: The Digital Library



خپرې کړې وې، گیلاس مې بېرته په خپل ځای کېښود، پلار مې دا ټوله نندراه کوله، پوه شو چې لور یې له گیلاس او ترموزه کرکه راغله، جیب ته یې لاس کړ زرگون یې زما ورور ته ونیو، ورته یې کړه د بوتلو اوبه او ټولو ته بیسکیټ راوړه .

موږ لږ همدلته دمه جوړه کړه، تنده او لوږه مو کمه شوه، د پلار ټلیفون مې وشرنگېده، له شنه بټن ټینگولو وروسته ورته وویل شول تاسې ځانونه تیار کړئ یو موټر درپسې درځي، تاسې بل ځای ته نقلوو، موږ هم له بکسونو سره راښکته شو، خو انتظار مو اوږد شو، پلار مې هغه کس ته زنگ وکړ، ځواب یې دا ؤ چې موږ د نورو مسافرو په رارسولو کې بوخت شوي یو، تاسې زرنج  ونیسئ، یو پاؤ مزل به راوکړئ تاسې ته پنچرې راځي د هغې شاته کلا ده، هلته ځانونه راورسوئ، ستاسې تگ له هماغه ځایه پیلېږي.

موږ زرنج ونیوه، په هغه لوري مو مزل پیل کړ، لنډه فاصله کې واړه دوه کلي مخ ته راغلل له هغو تېر شو له یو پاؤ مزل وروسته پنچرې باندې مو سترگې ولگېدې شاته یې لویه کلا وه ور نه وتو، کلا له گڼو کسانو ډکه وه نیږدې دوه سوه تر درې سوو تنه پکې راټول شوي ؤ، د دوی په لېدو هم ډاډه شوم او هم ووېرېدم، موظف کسان لگیاؤ دغه راټول شوي خلک یې گڼل چغې به یې وهلې، بد رد به یې ویل، نا خوښه ځیگ غږونو او بې کلتوره رفتار یې خفه کړم، ځینو خو به خوله اسمان ته ونیوله، له سیگرېټو به یې لوخړه پورته کړه له ورایه مالومېدل چې د نشو لوگیو یې د ستوني غبگږ امواج ور خراب کړی دي، افغانان چې نیږدې میرمنې وي په لوړه خبرې نه کوي، خو دوی د مېرمنو پروا نه کوله، له انسانیت لرې الفاظ به یې کارول، ورور مې وویل، تر څو چې دوی نور کسان شماري او ډلې یې برابروي، زه به دوه رکعته لمونځ وکړم بهر ووت د ژر راتلو یې وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کلا کې مې ښکته پورته وکتل لرې کونج کې مې په یوه کوړنۍ سترګې ولګېدې، د هغوی سره هم زموږ په څېر مېرمنې وې موږ هم هڅه وکړه د هغوی خواته ځان ورسوؤ، مېرمنې له مېرمنو سره اسوده وې، ورغلو، د مېرمنو سره خواکې کېناستو، مور او پیغله لور څنګ په څنګ ناستې وې، دوی د هېواد له ازبک توکمه ؤ، خو دواړه په دري ښې پوهېدې، پیغلې مخ راواړاوه، راته یې کړه، دا مو لومړی وار دی ؟

ـ هو، ولې تاسې مخکې هم تللي یاست ؟

ـ هو دا زموږ دویم ځل دی.

ـ نو ولې په تګ بریالي نه شوئ؟

پېغله رانیږدې شوه اواز یې ټیټ کړ، غوښتل یې هغه خبرې چې ماته کوي مور او د کوړنۍ نور غړي یې وانه وري.

راته یې کړه، دا مو دوهم ځل دی، موږ د ایران له پلو تېرېدو، قاچاقبر راته مخې ته ؤ نیږدې دونیم سوه نفره ؤ د ایران سرحد کې یې په پنځو ډلو ووېشلو، زموږ ډله له سرحد نه د شپې واوښته، د نیم ساعت مزل وروسته مې د خپلې ښنګر واښی وشکېده زه په هغه ټیټه شوم په دې وخت کې ایراني سرتېرو له لرې پوستو په موږ ډزې پېل کړې خلکو منډې کړې له ما مې کوړنۍ لږ مخکې تللې وه، ګډوډې شوه، سره تېر به تېر شو، کوړنۍ رانه ورکه شوه زه د ایران په سرحد کې، له اوله یوه کس ځارلم خدایزده قاچاقبر ؤ او که زموږ د لارې مسافر هغه له لاسه ونیولم، راته یې کړه ستاسې کوړنۍ به دغه طرف لاړه ما خپل لاس د هغه له لاس څخه وځانډه، ورته مې کړه، د لاس نیولو اجازه نه درکوم!

ځواب یې راکړ، سمه ده خو، د دې لپاره مې دې لاس ونیو چې له ما ورکه نشې، تر څو دې خپلې کوړنۍ ته ورسوم، د کوړنۍ تري تم کېدو په ریښتیا هم سخته خواشینې کړې وم لکه سېلاب چې سړی واخلي په ځګ هم تکیه کوي په ما هم هغه کانه شوې وه، ځان سره مې وویل دغه سړي ته مې کوړنۍ مالومه ده، د لاس غم مه کوه، که کوړنۍ درنه ورکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، دلته انساني ځناور به دې اومه وخوري، خپله مې لاس ور اوږد کړ، هغه مې له لاس ونیو، لس دقیقې مزل موږ وکړ، خلک په نورو لارو سر ؤ سړي بل لوري ته زور کاؤ، ورته مې کړه، تاسې ولې له نورو ځان گوښه کوئ، خلکو پسې ولې نه ځی ځواب یې راکړ، دوی په ناسمه لاره روان دي لاره ماته قدم په قدم مالومه ده، بس لکه د یرغمل کس کانه راباندې وشوه، نه مې سړی پرېښودی شو او نه مې ور سره مزل زړه غوښته، په هغه د باور او شک په کشمکش کې وم چې یو د خرما باغ راورسېده، باغ ته یې ننه باسلم، لاس یې رانه تاؤ کړل، مرداره، بوی ناکه شونډې یې زما په مخ کېښودې، ما مې له ملا د هغه د لاسونو د لرې کولو هڅه وکړه، خو زور مې نه پرې رسېده، له خولې یې د سیگریټو بوی زما نفس قید کړ، راته یې کړه دا مخامخ رڼا چې گورې، دا د ایرانیانو سرحدي پوسته ده که غږ دې اوچت کړې هغه په موږ ټکان کوي، هم به تا له منځه ویسي او هم به ما ختم کړي، که ژوند غواړې چوپه اوسه، هر څه په چوپه خوله وزغمه!

حق حیرانه شوم، تقدیر کله، کله انسان د پاڼ او پړانگ تر منځ راولي، زه یې د سلو بلاؤ خوله کې ورکړم، د مور او پلار نادرکی یو مرگ، د چغو په وهلو د ایراني عسکرو وسله کارونه بل مرگ، مردارخواره وحشي راسره انسان ته ځان تسلیمي بل مرگ وه، نه پوهېدم، څه وکړم؟

بس وحشي انسان ته بخت ورکړه، تر هغو یې خواري وکړه چې نور پکې شیمه ختمه شوه.

لږ وروسته یې راجگه کړم، له لاسه یې ونیولم، راته یې کړه، غوښتل مې د تل لپاره د یرغمل کړم او د تل لپاره دې په جسم سودا وکړم خو زما هرڅه دې په چوپه خوله ومنل زه هم درسره یوه مېړانه کوم اوس تا خپلې کورنۍ ته رسوم، بس زه لکه یرغمل چوپه وم د کورنۍ پیدا کول راته ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهم ؤ، د مهم څه تر لاسه کولو لپاره هم باید انسان په احتیاط قدمونه واخلي، کنه زما په څېر به له مهمو، مهم څه وبایلي.

ځان سره مې وویل، دا هسې بهانې راته کوي، اوس د ځناورو په لومه کې راګېره شوې، نور له ژونده، عزته او عفته لاس ومينځه، اوس به دې مور او پلار ته د تلو په بهانه په کومه جسم فروشي سوداګرو خرڅوي، خو نه پوهېدم سړي د کومې نشې په خمار کې دا ریښتیا په خپله کاذبه خوله کې راته وویل، تګ مو پيل کړ، فکر مې نه کاؤ څه چې وايي هغه به عملي کړي، ځکه په لومړي ځل یې هم په همدې بهانه، د خپلو ناولیو هیلو لپاره دروغ راته ویلي ؤ، نیم ساعت وروسته یو ځای ته ورسېدو پنځه خلک ناست ؤ، ور نېږدې شو، سړي راته وویل که د مور او پلار ته خوله چوله کړه او د یو ساعت مخکې پیښې په اړه دې څه ورته وویل، خیر دې نشته، د هغه په خبرو مې باور نه راته ومې ویل کېدای شي دا خلک یې هم دې پرې ملګري وي، خو چې ورنږدې شوم د پنځه خلکو په سر کې زما مور او کورنۍ ناسته وه ډېره وېرېدلې وم، له موره مې غېږ تاؤ کړه!
ورته مې کړه مورې شکر دی چې پیدا مې کړې کنه مابه څه کول، دوی هم زما په ورک کېدو سره نه مړه ؤ او نه ژوندي، مور مې ماچ کړم راته یې کړه زما زړه دې درېدو ته نيږدې کړی ؤ لورې!
د پلار مې هم په تیاره کې له خوښۍ شنې سترګې وځلېدې، کس وویل که زه نه وایئ لور به دې د تل لپاره له لاسه ورکړې وه، پلار مې د منني په دود هغه ته په ټېټر لاسونه ونیول، ما د هغه قیامت په اړه چې په ما راغلی ؤ هیڅ هم نشو ویلی، سړی ستون شو، د نورو خلکو په ګڼه ګوڼه کې تری تم غیب شو بیا مې ونه لیده.

نیم ساعت دلته کیناستو شپه نیمایي ته رسېدلې وه، د اسمان ستورو ځلا دومره رڼا کوله چې لاره کې لویې تیږې ښکارېدې، احوال راغی چې مخکې لارې ټولې ایراني ځواکونو محاصره کړې دي د تګ هیڅ امکان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشته، همدا تیار غنیمت وګڼئ بیرته ستانه شئ،ځکه ورځ راروانه ده د ورځې په سرحد نشو اوښتی، سفر بې ګټې شو، هر چا پکې تاوان وموند خو زه هغه بدبخته وم چې دغه سفر راته د ژوند په بیه پرته له کومې ګټې تمام شو، موږ هم د نورو خلکو په څېر بېرته را ستانه شو، له سرحد راواوښتو، یو ساعت نور مزل مو هم وکړ یو ځای راورسېده هلته دمه شو.

قاچاقبر وویل نن ماښام تیاره بیرته د ایران په سرحد ور اوړو، خو زما ستونی سره ورغلی ؤ سخته تبه راباندې راغله، لکه په یخچال کې ناست انسان په دوو نه تکیا کېدم، پلار ته مې وویل بېرته نیمروز ته ځو؟! زه خو د تګ نه یم.

هغه راته کړه، لورې تر ماښامه به ښه شې دوباره نشو راتلی، ما ورته کړه ما همدلته په مرمیو وولی، مړه مې کړی تاسې نور لاړ شئ خون مې هم دربښلی، زه ژوند نه غواړم.

مور مې زما په خبرو ودردېده ویې ویل ایران ته نه ځو، بیرته نیمروز ته ستنېږو، پلار مې هم نور دلایل ونه ویل، لږ چې زما حالت ښه شو نیمروز ته راغلو دلته مو دوه اونۍ کیږي چې راغلي یو اوس مې یو څه روحي او جسمي وضعیت ښه دی زما خو زړه نه کیږي، لکه چې د اغزو په څوکو ځم، خو کورنۍ را سره ده، دوی هم یوازې نشم پرېښودی باید ور سره لاړه شم، خدای خبر چې دا تګ به په څومره قیمت راته تمام شي.

د جلی له خبرو سره مې هڅونه ځیګه شول، ومې ویل لیمې له دغو لارو خو چې روغه وځې څو بخته به لرې، په همدې چورتونو کې ننه وتم.

د فکر لړی مې هغه وخت وشکېده چې زموږ مخې ته هم یو سړی ودرېده. هغه زموږ د شمېرنې لړی پیل کړه، موظف کس وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ستوري ډله بیله شئ، ستوری هغه کس ؤ چې زموږ د ټیم مشري یې په غاړه وه، موږ یوه کونج ته شو، په شمارلو یې پیل وکړ هغه شمار وکړي یو کس پکې کم شي دوباره بیا له سره حساب پیل کړي، بلاخره سړی په قهر شو ویې ویل:

تاسې کې څوک کم دي لس دقیقې وروسته حرکت کوو، ما او کورنۍ مې هم ورور له یاده وتلئ ؤ پنځه دقیقې وروسته مې ورور راڅرګند شو، زموږ سره یوځای شو موظف کس هغه ولېده چې پوه شو زموږ د ډلې ورک کس همدغه دی، په کنزاؤ یې پیل ورته وکړ، مور، خور نیکه یې ورته یاد کړل، څه یې چې په خولې راتلل ورته ویې ویل، زما ورور ورنېږدې شو، هغه یې له ګرېوانه ونیو، ورته یې کړه، زما مور او خور ستا مردار خور لېاره ندي!، چې په دې پلیته خوله یې یاد کړې، بیا یې د ښي لاس موټی د هغه له تندي سره پیوند کړ، شور جوړ شو، موظف کس منډه کړه، د کلا کونج کې یې د اوسېدو کوټه وه مخې ته یې برنډه جوړه وه د دېوال په یوه میخ کې ترکی کوټ راځړېده ځان یې ور ورساؤ په بېړه یې یوه جیب کې لاس د ننه کړ لوی چاقو یې ترې راوباسه، د چاقو په لیدو مې زړه په لړزان شو، پلار ته مې وویل، هله، ورور مې ترې را ګوښه کړه وهي یې دا خلک وحشي صفته دي، په هیڅ هم ندي بند، موظف کس له لرې له چاقو سره رامنډه کړه ما او د مور مې بې واکه کوکه له خولې ووته، په خلکو مې غږ ورکړ، هلی د خدای ج لپاره ورور مې په چاقو ووهي، هغه وژني مرسته وکړئ.

دوی زما د تمې خلاف، ټولو دا هر څه لېدل یوازې ننداره یې کوله، زموږ د مرستې غږ په دا دومره کسانو کې یوه هم وانه ورېده، چا مداخله نه کوله، ټول په خپلو ځایو ولاړ ؤ، لکه د قیامت، هر سړي سره د خپل سر غم ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ له خوا چې د پنځوسو شپیتو نفرو ډله به وه  یو دنګ ځوانکی ور مخې ته شو په بېړه یې د هغه لوري ته ګامونه اوچتول، له چست والي مالومېده لکه چې تمرین یې کړی وي موږ ته یې شا وه ښکلي ځلېدونکي ویښتان یې کړندیو ګامونو کې ښکته پورته کېدل، پرته له څه ویلو یې د هغه مړوند ونیو، بل لاس باندې یې د موټي خلاصوولو هڅه پیل کړه، چاقو وال چې ځواکمنې متې یې درلودې لاس یې شاته کش کړ، د هغه د لاس کش کولو سره، مې زګیروی واورېده، ګواښونکی ځوان ګرد پر خپل ځای تاؤ شو، چاقو واله ځان خلاص کړ، خو چې حملې ته یې ځان سماؤ، ګواښونکي ځوان په یوه ځواکمنه لغته په مړوند کې وواهه چاقو پورته والوت، څرخکې یې کولې، هغه یې په هوا کې ترې ونیو، خلکو هم جرئت پیدا کړ، راټول شول، جنګ یې خلاص کړ، ځوان لا هم ماته شاه وه لاس ته مې پام شو موټي کړی یې ؤ، خو د ګوتو له منځو یې څاڅکی، څاڅکی وینه تویېده، سخت زړه مې درد وکړ، پلار مې راغبږ کړ راته یې کړه دغه ورور خو دې زموږ نه مني، نصیحت ورته وکړه چې زغم ولري، کنه تر اروپا به مو خداېزده په څو نورو غمو واړوي.

زه هغه ته ورغلم چې  بیا دداسې پېښو د نه تکرار زغم ته یې راوبولم، ځوان مې  هېر شو، ورور ته مې وویل:

دلته نه څوک زموږ تروبور دي چې پیغور درکړي نه دوښمن ښه پوهیږې چې څوک قاچاقبري کوي هغه د کوم نسل څخه وي، له دوی سره ځان برابرول، موږ ته هیڅ حیثیت نه راپرېږدي او د وژلو د قرباني په بیه هم راته تمامېدی شي، نو دوی سره ځان تمبه کول بې ګټې وي.

د هو په دود مې ورور د سر په خوځولو راسره د خبرو موافقه په ډېره سختي ومنله بېرته مې د خپلو بکسونو خواته لاړم، په تلو کې د هغه ځوان موټی لاس چې په وینو سور او څاڅکی، څاڅکی وینه ترې تویېده رایاد، شو ځان راته بیخي خجالت مالوم شو ځان سره مې ویل یوه مننه باید

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې وشي، يوه او بل لور ته مې پسې سترګې وغړولې، له تور جامپره مې وپېژانده، بيا يې هم ماته شاه وه ورنېږدې شوم، بکس يې خلاص پاتې ؤ سپين بنداژ يې له خوږ لاس تاواؤ، غوټه يې نشوه تړلی ځکه يو لاس يې تپي ؤ، په يوه روغ لاس يې غوټه نه شوه تړلی، د غوټې کولو په وخت کې هم هڅه کوله خپله يې وتړي له کوم بل چانه مرسته يې نه پوهېږم ولې نه غوښته، رغوي ته مې پام شو، د تاو شوي بنداژه له منځه هم غوټې، غوټې وينه راوتله، د هغې په لېدو مې نور صبر ونه شو، مخې ته يې ودرېدم، چې سترګې مې پرې ولګېدې، ومې پېژاند هماغه ځوان ؤ چا چې زموږ په موټر کې هم ملتيا کړې وه، پرته له کومې تمې او اړيکو يې زما د مور خوندي توب لپاره د يوه بې حيا په سر سوکان ورکړي ؤ، دا يې دوهم ځل ؤ چې زموږ لپاره يې ځان په خطر کې واچاؤ. نو پرته له ځنډه مې د هغه له بکسې نور پاتې بنداژ راواخيست، مکتب کې مې د لومړنيو مرستو عملي درس ويلی ؤ.

کلک، کلک مې د هغه له لاسه تاؤ کړ، غوټه مې ورکړه، زه په شنه چادري کې وم هغه نه پوهېده چې زه څوک يم، ښکته او پورته يې راته وکتل خو هېڅ يې هم ونه ويل،

ما ورته کړه ډېر يې خوږ کړې ؟

ـ نه ډېر خوږ نه يم.

ـ په چاقو ولګېدې ؟

ـ نه، ما هم په لومړي سر کې فکر کاؤ چې هغه کس سره چاقو ده، خو دواړه خواوې يې تېرې وې، په اصل کې خنجر ؤ غوښتل مې خنجر ترې واخلم، ګوتو کې مې ونيو، هغه شاته لاس ځنډ واهه خنجر مې له ګوتو تېر شو راټيي يې کړ، زه يې اړ کړم له لغتې کار واخلم او خنجر ترلاسه کړم، وېرېدم هغه ځوان ته څه زيان ونه رسوي.

ـ مننه کوم، موږ د احسان مند يو

ـ نو ته د څه شی مننه کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هغه چې د قاچاقبر ورسره جنګ ؤ هغه مې ورور دی، که ته نه وایې اوس به خدای زده زما په ورور څه شوي ؤ.

ـ که زه نه وای هم هیڅ نه پرې کېدل، خدای ج د مظلومانو دفاع لپاره یو نه یو څوک وسیله کوي.

ـ سره ددې چې تاسې یو زړه ور او خواخوږی انسان یاست او زموږ د اوږد مزل هملاری هم یې، کولی شم وپوښتم چې له دې مو نور هم زیات وپېژنم ؟

ـ ولې نه زه بلال نومېږم پکتین تخلص کوم د پکتیا د هسکو غرونو،نښترونو او د سرشاره سیمې شډل سړی یم.

ـ لا خو سړی نه یې !

ـ ولې څناور یم؟

ـ اه، نه، داسې مه وایه،زما مطلب دا نه ؤ، لا تر اوسه خو هلک یاست.

ـ هغه لنډه مسکا وکړه ویې ویل، پوهېدم چې ستا مطلب څه دی، غوښتل مې لږ ټوکه جوړه کړم او د پېښې یاد ته مو په ذهن کې بدلون ورکړم، په رېښتیا سږ کال مې اتلس کلنی پوره کیږي، ستا په خبره لا هلک یم.

ـ یوه غوښتنه مې منې ؟

ـ هو ولې نه، چې په وس کې مې وي.

ـ دا اوږدې او له خطرونو ډکې لارې ستا غوندې یوه زړه ور ځوان ته اړتیا لري، زما پلار، مور او ورور خو په خوب هم دا لارې ندي لیدلې، که په دې مزل کې راسره مرسته وکړې او یوازې مو پرې نه ږدې سخته احسان منده به دې یم.

ـ د بلال پکتین نري بریتونه سره ډډ شول شونډې یې وغوړېدې، د زړه په زور یې وخندل، ویې ویل، چېرې چې زه وم او د چا اړتیا وي نو د چا ویلو او احسان ته اړتیا نه پرېږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پوهېږم ستاسې په دغه دروني خواخوږي زه باور لرم، موخه مې داده چې له موږ سره يوځای اوسه که ته راته نيږدې نه وې او موږ په ستونزه کې ؤ بيا خو به ستونزه موږ له منځه ويسي.
- سر يې د هو په دود وخوځاؤ، خو الفاظ يې ونه ويل
په پنډغالي کې يوه غبر کړ ځانونه چمتو کوئ د تګ وخت دی ژر، ژر مو بکسونه راواخيستل، موټرو کې کېناستو يو نيم ساعت مو نور هم مزل وکړ يوه ډاګ کې موټر ودرېدل.

موږ ترې ښکته شو، قاچاقبر وويل دلته شل دقيقې لرې، عينکي، کتره (يو لوی دوسمال ته ورته ټوکر ؤ چې بايد له سره تاو شوی وای ) او اوبه در سره واخلئ، دلته دوکانونه نه ؤ خو کسان ولاړ ؤ همدا توکي يې خرڅول، له ټاکل شوي وخت مخکې مو دغه توکي واخيستل، ځانونه مو چمتو کړل په بلال پسې مې سترګې يوه او بل لور ته واړولې، ومې ليده، له موږ نه په لږ لرې فاصله کې ولاړ ؤ، هغه د حيا يوه بېلګه وه انساني غرور يې اجازه نه ورکوله چې زموږ سره نږدې و اوسي، ساعت تېر کړي ټوکې ټکالې وکړي، ما وليده چې موږ يې د سترګو له کونجو څارولو.

پوهېدم، دا کار ددې لپاره کوي چې ما سره يې د هو په دود سر خوځولی ؤ، ما د پکتيا تاريخ لوستی ؤ، کيسې او تاريخي جګړې د انګريزانو د ماتولو لومړي سنګر په توګه د پکتياوالو تاريخ راته مالوم ؤ، يوازې تش افسانې راته ښکارېدې، خو په پکتين کې مې په ريښتوني مانا د خپلو پلارونو غيرت، همت او زړورتيا حس کوله .

له پکتين نه مې نور ډار نه کېده لکه د کور غړی په صفت مې احساساؤ د ببرک خان ځدراڼ، سنک، نايب سالار زلمي، مولوي منصور، عبدالحی ګردېزي، ملک عصمت الله خان د عفت سازي، وطن دوستي، ايسار د ارثيت لېږد مې پکې وموند، ډاډه وم چې نه به مې خپله بې عزتي ته زړه ښه کړي او نه به بل چا ته اجازه ورکړي چې زما عزت لوټ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغو لارو کې د مېرمنو د عزت لوټ کېدل د سهار او ماښام ډوډۍ خوړلو په څېر ؤ.

د انسانی قاچاق په څنګ کې جنسي قاچاق هم یوه عادي خبره وه .

زموږ د ازمایښتونو لړۍ، له سختو لارو تېرېدنه، له مرګ سره لوبې، خطرونه، او له ځان سره وحشت له همدې ځایه پیل کېده، خو موږ نه پوهېدو چې څه وخت ور سره مخ کېدونکي یو.

له لرې مو څو ډاډسنې ولیدې، زموږ په لور رارواني وې، د دوړو اوږده لیکه یې په ځان پسې پرېښوده، له لږ ځنډ وروسته ډاډسنې راورسېدې.

غږ یې وکړ، د ستوري نفر یو څنګ ته شئ، دغه نوم زموږ د ډلې د مشر نوم ؤ، موږ یوې ګوښې ته ودرېدو، اوزبکه پېغله مې خواکې ولاړه وه غاړه یې زما غوږ ته را اوږده کړه ویې ویل دا خلک پېژنې ؟

ـ نه

ـ افغان بلوڅان دي، بیخي بل ډول خلک دي، همدا یې کار اوبار او د ژوند روزي ګرځېدلې بلوڅانو غږ وکړ، سیټونو کې د نفر په سر یو لک تومن کیږي، باډی پیسې نلري، دغو خلکو دغه پیسې اضافه اخیستې ځکه زموږ پیسې یې مخکې له مخکې زموږ له قاچاقبره اخیستې وې، غږ یې وکړ کترې مو له سره ووهی، عینکې په سترګو کړئ، زه د عینکو په سترګو کولو په راز نه پوهېدم، خو کله مو چې حرکت وکړ پوه شوم چې عینکې نه وې سرې د ګردو له لاسه ړندېږي، موږ هم عینکې په سترګو کړې عینکو ځانګړي ربړونه لرل چې له سترګو ګرچاپیره به له پوستکي سره پیوند شول، پلار مې ما او مور ته اشاره وکړه، ور پسې شو د یوې ډاډسنې مخته سیټ ته د ختو یې وویل، ډاډسن ته پورته شو زه د موټر وان لور ته شوم او مور مې د ښیښې خواکې کیناسته، ما کلکه چادري په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر کړې وه، له سره مې نه لرې کوله، شاته سيټ د دريو نفرو ؤ، هلته مې يو ناممکن کار ته پام شو، دوی د شاه سيټ څوکۍ کې پنځه نفره کېنول، زما پلار او پکتين په سيټ کې ؤ وررور مې د پلار د پښو په منځ کې لاندې په فرش وليده دوه نفره د نورو پښو په منځو کې ناست ؤ شاه سيټ کې اته تنه ځای پر ځای شول، د شاه سيټ کې د اته کسانو ځايول په يوه موزه کې د دوه پښو ځايول ؤ، د ډاډسن له شاه غبړ راوشو موټروان ته يې ووېل دوه ويشت نفره دې باډۍ ته وختل، ورته ووېل شول، ستا موټر حرکت ته چمتو شو، ددې غبړ په اورېدو حق حيرانه شوم، ځان سره مې ووېل، دوه ويشت نفره څرنګه د يوې ډاډسن په باډۍ کې ځايږي، بيا مې ځان ته قناعت ورکړ چې دغه خلک په درې نفري سيټ کې اته نفره ځايولی شي نو باډۍ کې خو بيا دومره نفر اوس هم کم دي.

ډرايور موټر ته راوخوت غټو برېټونو يې پاسنی شونډه پټه کړې وه يو ځنځير يې په غاړه کې زنګېده، د زنې لاندې غاړه يې ببره وه، ډارونکې څهره يې درلوده لاسونه يې پر سټرينګ کېښول، ويښته لرونکې ګوتې يې له غټې غمي لرونکو ګوتميو ډکې وې، موټر کې يې کيلي تاؤ کړه، بيا يې غړۍ له ښيښې وباسله د باډۍ کسانو ته يې ووېل ځانونه مو ښه کلک کړی يو بل ونيسی، که بې پروايي مو وکړه د هرڅه پېښېدو امکان شته او مسوليت مو هم په خپله غاړه ده.

حرکت مو پيل کړ، موټر ژر، ژر سرعت اخيست سړک خامه وه خو هوار ؤ له لږ مزل وروسته مې د موټر د کيلومتر ښيښې ته پام شو يو سل او شلو ته يې عقربه ختلې وه شاته مې وکتل موټر د يوې ځواکمنې برېښکۍ په څېر اسمان ته ګردونه پورته کول د عقب نما له ښيښکې مې شاته وکتل د ډاډسن د باډۍ کسانو مخونه له ګردو سم نه ښکارېدل يوازې ښيښې عينکې به يې څرګندې شوې، يوه نيم خو به د ګردو له لاسه د عينګو په ښيښوهم لاس تېر کړ، ځکه ديد به ترې نه کېده کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



به چې کوم چمپ راغی، موټر به سرعت کم کړ گردونه به له موړ مخکې شول، د موټر په ښیښې به دومره گردونه ولوېدل چې برف پاک به نه شوای پاکولی، شاته سېټ کې مې ورور چې لږ عصبي ستونزه یې هم درلوده غږ وکړ، زما ښې خو کار نه کوي نه پوهېږم چې ښې زما دي او که د بل کس دي.

زه پرې پوه شوم چې د تنگوالي له امله یې ښو کې د وینې چلښت بند شوی او ویدې شوې دي، پلار مې موټروان ته وویل زموږ ټولو ښې کار نه کوي، لږ موټر ودروه، دمه به وکړو، موټروان نور هم ریز ته پونده ورکړه، زما د پلار په خبره یې ځان ناگاره واچاؤ لږ وروسته یې وویل ځانونه عادت کړی، دا یې پیل دی، له دې سختو پېښو سره به مخ شئ، موټر روان ؤ موټروان د چا فریاد او سپارښتنو ته غوږ نه نیوه، په دغه، منظره کې مو ساعت ته پام نه ؤ خو خدایزده څو ساعته مزل مو وکړ د شپې یوه نیمه بجه د افغانستان، ایران او د پاکستان بلوچستان گډ سرحد ته ورسېدو، په وچ ډاگ یې ښکته کړو، له ما او مور مې پرته نورو په خپلو ښو واک نه درلوده، زموږ سیټ گذاره کوله دومره تنگ نه ؤ، نور کسان نه پوهېدل چې ښې یې خپلې دي که پردی، ځینې خو مې په ځمکه ناست ولیدل چې ښو ته به یې حرکات ورکول، تر څو یې پر ښو واک حاکم شي او د تگ جوگه شي، د پلار او ورور مې هم همدغه حال ؤ، بلال پکتین څو وارې جگ او کیناست بس ځان یې نورمال حس کړ، خپل روان شو، له موږ یو شل متره لرې یې خپل بکس ځان ته بالښت کړ او څملاست، په موږ هم سترگې پټې وې، سر ته مو خپل پیذار کېښود، پلار او ورور مې خواکې خپل بکسونه ځان ته تکیه کړل او نور نو لکه ډنډ ته چې تیگه واچوې، د خوب نړۍ ته لاړو او سهار لمر ختلی ؤ چې د خلکو په شور او ځوگ راوېښ شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مني پيل ؤ، يخه هوا لګېده، د خپل کور توده بخارۍ، ارامه فضا او زما پوست موست چپرکټ را په ياد شو زړه مې پسې وخوګېده، دغه ياد له مړو اوښکو پرته بله ګټه راته ونه کړه اوږده ساه مې واخيسته څکه پوهېدم چې د هېواد هوا د وروستي ځل لپاره تنفس کوم، په ډېر غور مې مخامخ اوږده دښته او بيا له موږ چار چاپېره غرونه داسې په مينه وليدل لکه څوک يې چې په ليدلو پيسې راکوي، سپيره غرونه راته ډېر ښه ايسېدل، سترګې مې ورسره ګنډلې وې، په دې فکر يې په ننداره نه مړېدم  چې بيا به خدايزده چې د خپل وطن دا خاوره، غرونه او رغونه په ژوند وګورم، کنه، خدای ج  خبر چې په مرګ به مو هم دلته څوک راوړي او کنه، زما دغو فکرونو او ننداري به مې کله کله له سترګو غټ غټ څاڅکي په لمن وورول، لمن مې راټوله کړه تر څو د اوښکو څاڅکي مې په ځمکه ولوېږي او د هېواد خاوره مې شاهده کړم چې ورپسې خپه يم د يوې ژمني لور په څېر مې، د بې وسي ننداره وکړي او ونه وايي چې ليمه  اولاد مې، د اروپا رڼاګانو لېونۍ کړې ده او ما په خوښۍ پرېږدي، ددې ثبوت لپاره مې د سترګو څاڅکي نور لکه باران يو په بل پسې لارې جوړې کړې.
دلته مې نوره چادري په دې هيله  لرې کړه چې ګوندې د هېواد د يادونو په کمولو کې مې په راتلونکي سفر کې اساني راشي، يو تور حجاب راسره ؤ هغه کې مې ځان وپيچه، پوزې ته مې ماسک واچاؤ، ځان مې ښه وپوښه، ترڅو د لارې له وګو سترګو ځان وساتم، د کورنۍ نورو غړو هم ځانونه چمتو کړل، د قاچاقبرو نماينده راغی ويې ويل:
دلته افغاني پوليس د هر سړي په سر يو لک تومن اخلي، هغه راټول کړئ، وايي چې دا زموږ رول دی، که پيسې ورنه کړو بيا د تلو اجازه نه درکوي، پېسې مو ورته ټولې کړې ور ومو لېږلې يو موټر مو مخکې ودرېده، په هغه کې سپاره شو، د لومړي مزل په توپير دا مزل بيا دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخت نه ؤ، کسان دومره تنگ نه ؤ ناست، څه ناڅه راحته ؤ پنځه ساعت پرلپسې مزل مو وکړ.

یو ځای موټر یوې گوښې ته شو، موږ یې ښکته کړو، یو لوی هال ته یې ننه باسلو د هال چت یې په سپین ترپال پوښل شوی وو، لاندې پر غولي، وړې، وړې شگې پرتې وې، له موږ نه پرته هلته نېږدې پنځه سوه کسان نور هم د یوه نامالوم انتظار په پار یوې او بلې خواته ناست ؤ او زموږ په څېر یې له هېواده د تېښتې اراده درلوده، یوې گوښې ته اوبه او بیسکیټ خرڅېدل، سړیو په لاسوکې نیولي ؤ، دلته له دمې او اوبو څکلو وروسته بیا بل ډاډسن ته وختو، لکه چې ټول قاچاقبر موټروانان په تېز رفتاري کې روزل شوي وي، دوی هم په خامه کې له یو سل او شل کیلو متره کم مزل نه کاو موټروان ښیښه ښکته کړه، غوښتل یې نسوار توپ کړي، موټر خورا ډېر تېز ؤ، زما له سره یې پړونۍ پورته کړ لږ وه چې سرتوره شم هڅه مې وکړه، په سر لاس کېږدم، ترڅو پړونۍ پرې تکیه شي او پړونۍ مې له سره ونه غورځي، خو زما له لاس مخې زما په سر یو بل لاس کېښول شو، زما لاس د هغه لاس په سر راغی، زما د لاس کېښودلو سره هغه لاس ببرته شاته کش شو ما مې لا په سر لاس ایښی ؤ چې شاته مې وکتل بلال خپل لاس ور ټول کړ، پوه شوم چې د ببرک خان ځدراڼ د سیمې زلمي هم د خپلو نېکونو د عفت ساتلو فکر په خپله کوپړۍ کې څومره روزلي دي.

د منني په پار مې ورته سر وخوځاؤ، خو په ځواب کې یې په کوم حرکت پوه نه شوم هغه سر ښکته واچاؤ.

له پرلپسې څو ساعته مزل وروسته د ایران سرحد ته ورسېدو، هلته یې یوې کلا ته ایسار کړو، له نښو نیښانو مالومېده چې دا د اوزو او مېږو د ساتنې ځای دی، د وزو له یوه شپول سره خواکې کیناستو د کلا څمکه زیاتره د وزو له پچو ډکه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ماښامه يې دلته منتظر کړي ۋ، چې ښه تياره شوه نماينده راغی ويې ويل پنځلس نفر تيار شئ، که تاسې په مرز تېر شوئ، پنځلس نفره نور درلېږم.

موږ ځانونه چمتو کړل، لومړی ډله شو چې له مرز څخه بايد تېر شو حرکت مو وکړ، په شاه، شاه مې کتل چې بلال پکتين هم زموږ ډله کې راسره شي، نظير مې پرې ونه لګېده، له ما مخکې کسانو کې مې سترګې پسې وغړولې، هلته هم نه ۋ زړه مې ولوېد، ښه وارخطا شوم، ځکه ورور مې هم داسې د تورې بنګړی نه ۋ، ځنې وخت به له کنټروله ووت، پلار مې جسما پياوړی نه ۋ، ځکه د شکر ناروغۍ يې لرله، انسولين به يې زرق کاۋ کله، کله خو به په کور کې هم درب راولوېده، شکر به يې يا ډېر ټيټ او يا هم ډېر لوړ تللی و، زه او مور مې دواړه سياسرې ۋ، سياسرې به په مسافري او هغه هم په پردي وطن کې له ګوانښ سره څه وکړي ؟

مسول کس غږ وکړ، چې تاسې لس دقيقې لری، موټرو ته وخيجئ، بيا که څوک پاتې شو، نو پاتې شو، موږ هم چې د پاتې کېدو واورېدل نو صرفه مو ونه کړه، موټر ته وختو موټر کې مې هم سترګې په بلال پسې ګرځېدې لکه د رادار سټالايټ کاسه د هغه پلټنه يې کوله.

پلار به مې تاريخ ويل چې د پکتياوالو قدونه جګ وي، ښکلي، سنګين وګړي لري، په ريښتيا هم دغسې ۋ بلال به مې په لويه ډله کې هم پيدا کاۋ، لوړ قد ښايسته ويښتان نوراني څهرې يې له نورو بېل کړی ۋ، خو په دغه وخت کې زما د سترګو پلټنې هغه نشو موندلی موټر روان شو، د هغه نه شتون ښه په وېره کې واچولم، له ښه مزل وروسته خلکو موټر کې يوه او بل ته وويل چې د ايران مرز راورسېده د داسې خبرو له اورېدو سره به زما وارخطايي نوره هم زياتېده، ځان سره به مې ويل چې زه به څرنګه په دې بېګانه لارو کې د هغه له مرستې پرته ځم او لاره به پيدا کوم، د هغې ازبکې خور کيسه به مې ذهن کې تاۋ شوه چې په څومره وحشت يې له عزت سره لوبې شوې وې، په ريښتيا هم موږ دلته له چا د کوم ترحم تمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه لرله، ځکه دلته د تمې خلک نه ؤ، د قاچاق له خلکو، کار اوباریانو همدارنګه له قاچاقي لارې به څه د خیر تمه څوک وکړي، په دې فکري کش مکش کې د ایران سرحد ته بیخي نیږدې شو، موټرې ودرېدې، موږ ترې ښکته شو، تیاره وه پردی وطن ؤ ځان مې ډېر بې وسه احساساؤ د لومړي ځل لپاره په یوه ګواښوونکي سفر روانه وم، بې خوبي، لوږه او ناکسي هم زما د ځور تشدیدونکی فکتورونه ؤ، سره ددې چې د بلال ښخه مې نوره د راتګ او یو ځای کېدو تمه پرې شوه، خو بیا مې هم تشې، تشې سترګې پسې ګرځولې، لکه د کور کوم غړی مې چې رانه ورک وي همداسې احساس مې درلوده، پلار مې وویل خوله مې ډېره وچه ده ، ډېر تګی کیږم، په اوبو نه مړېږم، مور مې خبره ورغوڅه کړه ورته یې کړه خو شکر دې پورته شوی وي، تا په سفر کې ځان ته هېڅ پام ندی، د شکر پېچکاري دې نه ده کړې ؟

ـ نه

ـ ګوره د لیمې پلاره، موږ په یوه خطرناک سفر روان یو، خدای مه کړه که کوم ځای د شکر راوغورځوي بیا به څه کوو، په دې لویو، لویو ډاګو کې د چېرې ویسو او دلته کله دومره چانس او وخت وي چې، د یو چا درملنه پکې په ارامی وشي.

له مور سره مې وړوکی بکس ؤ ځنځیر یې خلاص کړ د انسولین پېچکاری یې ترې راوباسله، د ګېډې په پوستکي کې یې پلار جان ته تطبیق کړه، یو ساعت وروسته مې د پلار رنګ خپل ځای ته ورغی، مسول کس راغی ویلې د نفر په سر درې لکه تومن راټول کړی دلته ځای ټوپک لرونکي ډله واکمنه ده هغه یې غواړي، کنه مخکې د تلو اجازه نه راکوي، موږ پیسې ورکړې لږ وروسته ازبکه پیغله چې شاکره نومېده راغله زما خواکې کیناسته ویې ویل ښه ده چې پیسې مو ورکړې دلته چې څوک له دغو خلکو سره چنې وهي او یا هم پیسې نه ورکړي دلیل وایي، هغه د پاکستان فوځ ته په لاس ورکوي، هغوی دغه کس یرغمل کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه مياشت کار پرې کوي د غرو تېرې پرې ماتوي دوی يې د مزدورانو په صفت خپلو مشرانو ته ورپېژني پيسې يې بيا هم دغه ځای واړه قومندانان په خپل جيب کې اچوي دوی تش لاس راخوشې کوي، که کومه بله سودا پرې کېدله هم صرفه پرې نه کوي، زما وېره نوره هم زياته شوه، مور ته مې وکتل، د پخوا په څېر يې بشاشه څهره نه درلوده، مړاوې څهره کې يې تکې تورې غتې، غتې سترګې ځمبولې، ورور ته خو مې هسې هم غم او ښادي يو ډول ؤ .

د عينکو واله يو سړی چې سيګريټ يې په ګوتو کې نيولی ؤ مخې ته راته ودرېده، وې ويل پنځلس کسان چمتو شئ، د خپلوانو له ډلې يې وټاکی، چې په لاره کې يو بل ته کمک شئ دلته به ډېر پام کوئ دا مو ډېر له خطره ډک ګيم دی، ازبکه پېغله راڅنګ ته شوه ويې ويل ګيم دوی هغې ډلې ته وايي، چې له مرز څخه يې تيروي، له دې وروسته ګيم يوه اصطلاح شوه چې مور هم ورسره اشنا شو له يوه ځايه به چې بل ځای ته تلو نو دوی به غږ کړ چې د شپې په اتو بجو ګيم دی، نو مور به پوه شوو، چې زموږ د ډلې تلل يادوي، عينکو واله نوره هم تشريح ورکړه، ويې ويل:

موږ له پنځلسو ډېر کسان نه لېږو، ځکه ډېر کسان د شپې تګ کې په ايرانی سرحد کې مالومېږي، ايرانيان چې لږ هم شور واوري له پوستو بې دريغه ډزې کوي، د ډزو خبر زما هم زنګنونه ولړزول، لږ وارخطا غوندې شوم، خو چاره نه وه يو طرفه جاده وه واپس کېدل ناممکن ؤ، حرکت مو وکړ، يو وخت ؤ چې د ايران او پاکستان سرحد ته ورسېدو ايران د خپل سرحد په اوږدو کې ډېره ژوره کنده کيندلې وه خاوره يې د پاکستان خواته اچولې وه له يوې خوا د خاورې لوړوالی د بلې خوا د کندې ژوروالی له مرز نه اوښتنه بيخي ستونزمنه کړې وه چې ټوپ دې واهه راساً په کنده کې غورځېدې او لاس پښه دې ماتېدل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر قاچاقبر لاره مالومه وه یو د بل په لاره نشو تللی له ښه بخته، زموږ لاره یو څه اسانه وه، له ژورې کندې د اوښتو هڅه مو پیل کړه ډېره تیاره وه، د لوړې پولې په سر روان شو پلټنه مو پیل کړه چې کوم اسان ځای پېدا کړو ترې تېر شو او د ایران په خاوره قدم کېږدو، لاره هم سمه نه مالومېده یو ځای مې قدم کېښود او پښه مې خطا شوه لکه کوهي ته چې غورځم داسې احساس مې وکړ، د سترګو په رف کې د یو چا لاس راورسېده زما د اوږې برخې کمیس په ګوتو ورغی، ښکته حرکت مې ودرېده خو په هوا ځنګېدم، راته وویل شول، خو سړی احتیاط کوي، پوه شوم چې ژورې کندې ته خطا شوې یم لاندې مې وکتل دوه متره فاصلې په انداز به مې د کندې ځمکه له پښو لرې وه ورته مې کړه ما خوشې کړه پورته ختل مې ناشوني دي اوس که لاندې ولوېږم هم فکر نه کوم دومره خوږ شم، خو هغه زما خبره ونه منله زما د پورته جګولو هڅه یې وکړه له همدې کار سره زه د هغه له ګوتو خطا شوم، پښې مې لاندې په ځمکه په یوه پوست شي ولګېدې، ونه غورځېدم، خو تیندک مې وخوړ، چې چپه کېدم د کندې په دېوال مې ځان تکیه کړ، په پښو نېغه ودرېدم، خوشبختی مې په دې کې وه چې تر ما مخکې مې بکس لوېدلی ؤ په هغه زه راولېدم، ډېره خوږ نه شوم، په خوا کې مې یو ښه درز او بیا زګیروی واورېده، پوه شوم چې زما لاس نیوونکي ته هم غم جوړ شو ما سره د نیکۍ له امله خپله په بلا کې ولوېد، دومره درز شو چې ما ویل اوس به د هغه لاس او پښې دواړه مات وي خو سړی په بیړې سره ودرېده، ځان یې ټک واهه، په شاته لمنې باندې یې لاس تېر کړ خپلې شونډې یې لمس کړې، بیا یې لاړې تو کړې راته مالومه شوه چې خولې یې هم ضربه خوړلې ده، پرته له دې چې د خپلو ټپونو حال ووایي، ماته یې وویل:

خوږ شوې؟

کوم ځای خو به دې مات شوی نه وي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو سړی احتیاط کوي!

له غبرګه مې وپېژانده بلال ؤ، ورته مې کړه بلاله زه ښه یم، تاسې زما له امله خوږ شوې لاس او پښې خو د ژوبل او مات نه دي؟!

ـ نه زه ښه یم، د پکتیاوالو هډونه په اساني نه ماتیږي .

ـ ته چېرې وې سترګو مې ته څومره وپلټلې،

اه ...

ډېر یوازې ؤ، څومره وارخطا شوې ؤم، خو شکر اوس هم ناوخته ندی چې پیدا شوې .

اخېر مې وویل چې کېدای شي له موږ سره ژمنه دې هېره شوې ده!

هغه په لنډو وویل:

پکتیا وال، ژمنې ته د ژمنې په ارزښت ګوري !

ـ ډېره مننه پکتین صیب

ـ ښه دا د ډیالوګ ځای نه دی او نه دې خبرو ته اړتیا ده مخکې ځو.

ـ اوس به له دې ژور ځایه څنګه خیجو؟

بلال په ژوره کنده کې یوه او بل لور ته منډه کړه، ترڅو د ختو لپاره کوم اسانه ځای پیدا کړي، له ښه بخته یوه ځای د سیلاب اوبو راښویولی ؤ، ختل پرې ډېر سخت نه ؤ، بلال په داسې حال کې پرې وختو چې له پښو او لاسونو دواړو یې کار اخیسته په کلیواله لهجه په څلورو له کندې وخوت، ماته پرې ختل د قوه قاب له ختو کم نه ؤ هغه بیچاره د ژۍ په سر ودرېده خپله څادر یې را اوږد کړ ویلې د څادر پیڅکه ونیسه زه دې پورته راکشوم، په څادر پسې زما لاس ونه رسېده، هغه د کندې په ژۍ په ګونډو شو، لاس یې هم را اوږد کړ ایلا مې د ګوتو سرونه د څادره تر پیڅکې ورسېدل، بلال لږ نور هم راخولم شو، د څادره پیڅکه مې ونیوله خو د یوه مهم شي په رایادېدو، مې بېرته پرېښوده، بلال راته کړه ژرکوه کنه . ما ورته وویل: یو مهم کار رانه پاتې دی.!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د څه کار وجلي؟ اوس مهال د ځان له ژغورلو او له دې کوهي راختلو هم بله مهم کار شته ؟
ـ هو شته
ـ د خدای ج لپاره وخت مه ضایع کوه!
ـ بس یوازې یوه دقیقه راکړه!

لاړم د خپل طرف په خاوره باندې مې شونډې کېښودې، ښکل مې کړه په لاسو مې خپله خاوره لمس کړه، ان مخ مې هم بې واکه پرې کېښود، بېرته راتاؤ شوم څادر مې ونیو بلال راغبږ کړ:

ته څه کوې؟ژر کوه ؟

ورته مې کړه د وروستي ځل لپاره مې د خپلې خاورې ښکلول ارمان ؤ، د سرحد خپل طرف خاوره مې ښکل کړه، زړه ته یې قوت راکړ، ارامه شوم .

وه لیونی ! دا زموږ خاوره نده دا د پاکستان بلوچستان د صوبې خاوره ده، پردی خاوره دې ښکل کړې ده!

د هغه له دې خبرې اورېدو سره ،سخته خفه شوم هغه ته مې وویل:

خو دا زما ارمان ؤ چې د ورستي ځل لپاره مې خپله خاوره ښکل کړم

ـ دا ارمان د زه پوره کوم، خو ته اوس د څادره پیڅکه، کلکه ونیسه.

ـ بلاله د خدای لحاظ وکړه ما خو څادر کلک ونیو، خو ستا له لاسه د څادره پیڅکه خطا نشي، تېر ځل خو په پښو راولوېدم دا ځل مې مغزی ماتېږي، هغه زما په خبره نرمه مسکا وکړه، په تیاره کې یې سپین ښکلي غاښونه وځلېدل او دا مې لومړی ځل ؤ چې ددې حیاناک انسان لنډه خندا مې د ځان په وړاندې ولیده، د هغه مسکا همت راکړ خو بیا هم، په ریښتیا ډارېدم، ځکه د دغه ځای ژور والي په کتو کې سم نه مالومېده یوازې هغه کس ته مالومات کېده چې زما په څېر به یې پښې وروښوېدې هغه ته دا مالومات هم کېده چې ایرانیانو د خپل مرز ساتلو لپاره څومره ژور جر باسلی دی، څادر مې د ځان له ډاره هم ښه مظبوط ونیو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته کش کړم او وختم، کله چې په خپل ځای ودرېدم، بلال جیب ته لاس کړ، یوه کوچنۍ غوټه یې راته ونیوله په یوه ټوکر کې ګنډل شوې څه وه!

ویې ویل دا ښکل کړه!

ـ د څه لپاره ؟

ـ دا د وطن خاوره ده، ما د یادګار په ډول له ځان سره راوړې ده ارمان دې پرې پوره کړه!

ـ په بلال کې مې د امانت داري، استعداد، حیا، عفت ساتنې ترڅنګ یو بله ځانګړتیا هم وموندله، چې هغه له هېواد سره بې کچې مینه وه، ځان سره مې وویل ته خو هسې د وطن د دوستي تمثیل کوې د خاورې عاشق د بلال غوندې وي.

مننه مې ترې وکړه خاوره مې ښکل کړه او بیا مې په دې ژمنه ورته ونیوله چې ورسېږو نیمه به له ما سره هم شریکوې.

پلار مور او ورور مې د کندې په امبار خاورو له پاسه د مرز هغه خوا ولاړ ؤ په یوه اندېښمن نظر یې زموږ نندارہ کوله پوهېدل له دې ځایه پورې وتل اسان ندي دوی هم زما په څېر د بلال په څهره کې هیله مندې سترګې نیولې وې چې، که ور سره په راوښتو کې مرسته وکړي، بلال غږ پرې وکړ دغه ځای دواړه اړخونه نسبتا ملایم دي پرې راوښوېږئ، ټوپ را وانه چوئ، کله چې تل ته ورسېدئ نو مقابل اړخ هم مایل دی، زه څادر در اچوم یو، یو مو پرې راخیجوم، ورور مې چې لږ روحي ستونزه یې لرله پرته له کوم ځنډه یې لخچک پرې راوواهه د ورنو د غوښو له درده سره تروش شو خو ښه ؤ، د بلال په څادره راپورته شو، مور او پلار سره هم بلال ورته مرسته وکړه، چې ټول وختو نور تم نه شو حرکت مو پیل کړ، اجینټ وویل په لاره به ډېر احتیاط کوئ د کوم کس غږ ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وځي، ایراني سرحدي پوستې ډېرې لرې ندي، که شور واوري، هغوی بیا ډېرې بې زړه سویه ډزې کوي، ډېری خلک همدلته د ډزو له امله مړه کېږي، موږ هم چابک روان ؤ شاته مو نه کتل لږ شیبه وروسته د کجورو باغ ته ورسېدو، د ازبکې خور کیسه مې همداسې سترګو، سترګو ته کېده، سخته د وېرې لړزه راباندې لګېدلې وه، ځان سره مې وویل په دغه غرونو او ونو کې به د څومره خلکو هیلې برباد شوې وي، څومره خلکو سره به د هغوی د تمې خلاف ظلمونه تر سره شوي وي، اجینټ څو ځله زما خواته رانږدې شو ما سره هم د هماغې ازبکې په سرنوښت د اوښتو وېره پیدا شوه، د بلال لور ته مې ګړندي ګامونه واخیستل، هغه مې له لاسه ونیو، بلال په حیراني راته وکتل بیا یې وویل خیرت دی ؟

ـ بلاله له تاسره په تګ کې ډاډه کېږم.

بلال چې د ناموس ساتنې یو شاهکاره زلمی ؤ له مانه یې د خپل لاس د خلاصولو هڅه وکړه، پوه شوم چې د یوې پردی مېرمنې لاس نیونې سره هغه ځان راحته نه احساسوي هغه مې خوشې کړ خواکې یې روانه ؤم خو هغه تېز ؤ، زه نه شوم پسې رسېدلی لږ وروسته مې د شاه له لوري په جامپر کې ونیو، یو څو ګامه خو یې شاته نه راکتل فکر یې کاؤ زما ورور هغه له شا نیولی، بلال زما د ورور په ستونزه پوه ؤ، له څو قدمه وروسته یې مخ راواړاو باد یې د ټنډې وېښتان په هوا کړل، تیاره وه خو سپین مخ په تیارو کې هم ځان ښی، څهره یې رڼا راته برېښېده، هغه زما په لیدو وارخطا شو راته یې کړه له شاه مې مه نیسه ماته ځان ښه نه ښکاري.

ما هغه درک کاؤ، پښتانه له پردیو مېرمنو د جسم په لحاظ ځان لرې ساتي، د پکتیا خلک خو بیا ددغه دود پیلي کولو په سر کې ځان بولي، غیرت یې اجازه نه ورکوي، خو زه ډېره ډارېدم، له یوې خوا د شپې تیارې له بلې خوا د سپېرو غرونو سخت باد چې کله، کله به یې سترګو ته هم خاورې را باد کړې، د ازبکې جلۍ کیسې دا ټولو ځان راته یو کړی ؤ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر خپله وسه یې زما وېره تر لوړ بریده رسولې وه، ما د بلال له سپارښتنې سره سره، هغه کلک په جامپر کې نیولی ؤ، هغه پوه شو چې زما خبره یې بابیزه وګڼله، نو ودرېده راته یې کړه، که ما پرې نه ږدې زه خفه کېږم، مور او پلار به دې بدګماني وکړي، د هغه د خپګان مې واورېدل، ورو، رور مې د هغه له جامپره ګوتې سستې کړې، خداېزده ولې د هغه د خپګان ارزښت له خپله ځانه هم راته مهم شو، بلال وویل پوهېږم له وېرې دا کار کوي او بله موخه نه لري، خو مه خفه کېږه تاسې ټوله کورنۍ زما زیمه واري یاست، لومړی به زه بیا به تاسې خطر ته ورکوم.

هغه لکه اسماني فرېښته چې خدای ج زموږ د مرستې لپاره رالېږلې وي، پرته له کومې تمې زموږ لاس نیوونکی جوړ شو او حیرانه په دې وم چې د بلال د شناخت سره مې یوه اونۍ هم نه وه تېره شوې، داسې مې احساسوله لکه د کلونو پېژندګلوي چې سره لرو، دومره مې د باور وړ شو لکه چې ټول ژوند ماته د باور په ازمایښتونو کې بریالی راوتلی وي، د بلال لپاره مې په زړه کې د پکتیاوالو درنښت زړه ته ولوېده، بلال د اتلس کالو په منګ مالومېده غلی ارامه طبیعت یې درلوده،ؤهلک خو د مشرانو خویونه پکې ؤ.

کتار غلي، غلي روان ؤ، هڅه مو کوله د پښو ښکالو مو هم څوک وانه وري ایرانۍ پوستې هم راته نېږدې وې وورور مې له کتاره ووت زموږ سره په خوا درې متري کې روان ؤ شغال یې له پښو ووت چغه یې کړه د شغال له چغې سره زما د ورور کوکه هم غبرګه شوه، اجینټ په بیړه ورغی زما د ورور په خوله یې لاس کېښود، خو ناوخته شوی ؤ غږ د ایرانیانو پوستې واورېد، هغوی زموږ په لوري پیرونه پیل کړل د مرمیو باران شو، له ځنګ او سر د پاسه مو د مرمیو چنګا اورېدل کېده، موږ د غونډۍ په سر ؤ چانس مو درلوده چې په لاندې ښکته کېدو د دوی له مرمیو بچ شو، لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو مو له غونډۍ سرونه نه ؤ فنا کړي چې يوه مرمی راسا راغله زما د ورور په اوږه ولګېده، ورور مې وويل:

ليمې ولی مې وسوځېده ګرم شو، ځای پر ځای کېناست، پوه شوم چې ورور مې ټپي شو، په بيړه ورتاؤ شوم له خوږ مټه مې ونيؤ لاس مې لوند شو ورور مې راته کړه، لاس د لرې کړه درد کوي.

ـ وروره دوه ګامه ځای پاتې ده ذاتي له خطر وځو، همت وکړه چې له غونډۍ فنا شو، هر څه به سم شي، په هغه ضعف راته، د جګېدو وس يې نه لاره، د مرميو باران لا هماغسې روان ؤ، بلال لږ مخکې تللی ؤ زموږ په پاتې کېدو ببرته راستون شو، ورور ته مې اوږه ورکړه په شا يې کړ دوه دقيقې وروسته د غونډۍ تنې له موږه مرمی ونيولې بلې ډډې ته يې ښکته شو.

بلال زما ورور جليل له اوږې ښکته کړ، له خپل بکس نه يې اوبه را وباسلې دوه درې غوړپه يې ورکړې جليل لږ را رينېکی شو، مور مې غېږ ترې تاو کړه په ټيټ غږ په سلګيو کې ورکه شوه بيا يې خپلې بکسې ته منډه کړه لوی بنداژ(سپين طبي ټوکر) يې ترې راوباسه، د بلال لستونۍ يې وڅېره د هغه د مټ په پوستکي تورې وينې ليکه کړې وه، ژر، ژر يې بنداژ ترې تاؤ کړ، وينه يې ودروله، زما سره يو جوس ؤ هغه مې هم جليل ته ورکړ، په سترګو يې رڼا شوه ډزې، غلې شوې، موږ هم حرکت وکړ...

دوه ساعت نور مو هم پياده مزل وکړ د غرونو په لمن کې اجينټ د دمې راته وويل، موږ هم سره راغونډ شولو، په پښو کې مو شيمه نه وه، نه پوهېدو چې موږ د کومې نړۍ انسانان يو، لوږه رانه هېره وه يوازې اوبو مو د ژوند چاره اسانه کړې وه، اجينټ وويل تر سهاره به دلته ياست دغه ځای له خطره بچ دی، سهار وختي موټر راځي .

هغه وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور د پښو له مزل خلاص شوئ، د غره په لمن کې د یوه پراخه ډاگ د پیل ځمکه وه دلته د یو متر په اندازه لوړ ازغي لرونکي بوټي شنه ۇ باد یوه او بل لوري ته په حرکت راوستل د غره لمنو ته وړې قد لرونکې شنې ونې هم زرغونې وې د دوو غرو منځ کې شنې اوبه راوتلې وې، له موږ لږ لاندې رڼې روانې وي، له تېرو سره د لگېدو شنهارى يې خوند كاۇ، ځنډه کې یې تازه د غرنیزو موټرو د ټایرونو رخې لیدل کېدې، څرگندېده چې د عامو موټرو لاره نده ځانگړې په غرو او دښتو کې د تگ قابل موټر پکې تللي راغلي دي. دلته مو لږ سترگه پټه کړه، د کوم غرني ځناور ونگارې راوېښه کړم، سترگې مې خلاصې کړې سپیده چاود ۇ، لږ وروسته مې لمونځ او اودس وکړ. په نورو مې هم غږ وکړ، ختیځ کې ورو، ورو د غرونو تر شاه د سرخی ځای سپین والي نیوه، ښه شیبه تېره شوه ، یو موټر رامالوم شو، د ماشین شور یې ورو، ورو زموږ خواته زیاتېده، بلاخره زموږ په خوا کې ودرېده، موټروان راغی موټر ته د ختو یې وویل، پلار مې ما او مور ته بیا مخې سیټ ونیو نورو افغانانو هم کوم اعتراض نه درلوده ځکه چې افغانان مېرمنو ته درناوی لري.
دوهم سیټ کې دغه موټروان هم شپږ نفره ځای کړل، پنځه ویشت نفره یې شاته باډی ته واچول، ډنگر موټروان سیټ ته راوخوت له خولې یې د سیگریټو بوی حس کېده له تورو غاښونو یې مالومېده چې نشه یي دی، موږ سخت ستړي شوي ۇ، درې ورځې مو رڼې تېرې کړې وې، د شپې په یوه دوه ساعته خوب مو هیڅ گذاره نه وه شوې .

موټروان بېرته له سیټه ښکته شو، باډی سره ودرېده خلکو ته یې وویل له باډۍ ښکته پښې مه ځوړندوئ، د ډېرو خلکو پښې، د لارې له تېرو د ونو خاښونو سره ولگېږي، هډوکي یې مات شي کله، کله خو پښې ترې کټ هم شي، نو ځان سره پام کوئ، یو بل ونیسئ پوهېږم چې بې خوبه به وئ خو په موټر کې وېده نه شئ، کله، کله موټر داسې چمپ وهي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدای شي ستاسې د لوبډو لامل شي، که تاسې ولوبړئ نو یو نه یو اړ خو به مو خامخا ماتېږي نو ښه به دا وي چې زموږ سپارښتنې عملي کړئ.

موټروان د خپل سیټ دروازه خلاصه کړه لا را ختلی نه ؤ چې بېرته د باډۍ کسانو ته بیا مخاطب شو:

ورته یې کړه، گورئ چې ویده نه شئ، د لوبډو خطر مو زیاتوي که په کوم ملگري مو سترگې پټې هم شي راویښوئ یې.

موټروان په جلب کیناست، ټلیفون یې وشرنگېده له مقابل کس سره وغگېده له ژبې یې پوه شوم چې ایرانی بلوچ دی.

موټر حرکت وکړ، لږ وروسته موټر په ځان پسې د شنو دوړو لیکه پرېښوده، کله به چې لاره هواره وه نو د پاخه سړک په څېر به یې د ریز ستن ۱۲۰ کیلومتره ته ورسېدله، ځینې وخت خو به موټر دومره جمف وخوړ چې د شاه او یا هم د مخې کوم ټایر به یې په هوا کړ، لنډه دا چې دا ډول حالات مې په تلویزیون کې د سپورتي موټرو لیدلي ؤ دلته مې عملاً د سترگو له مخې تېرېدل.

مور مې د ښیښې لوري ته ناسته وه او زه د موټروان اړخ ته ناسته ؤم سیټ یو نفري ؤ خو موږ دوه نفره پکې ناست ؤ خو داسې حالات ؤ چې موږ بیا هم دا سیټ غنیمت گاڼه، وېرېدو چې درېیم کس را ځای نه کړي، ځکه شاته سیټ کې یې بیا اته نفره ځای پرځای کړی ؤ، زه حیرانه ؤم چې ولې د موټر جمپینونه او کمانی نه ماتیږي، دغه پوښتنه مې په زړه کې وه چې له موټروانه یې وکړم، د موټروان څهره خچنه ټنډه یې تروه وه، داسې مالومېده چې یوه میاشت خو یې د وېښتانو، برېتو او ږیرې د اصلاح لپاره وخت ندی موندلی، نو پوښتنه کول هم ترې اسان نه ؤ، زړه مې نه شو کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماسک مې اچولی ؤ یوازې سترګې مې ښکارېدې، څو زړونه مې سره یو ځای کړل، موټروان ته مې وویل:

تاسې خو د موټر د توان څو چنده کسان موټر ته خیجوئ، موټر یې څنګه تاب راوړی، موټروان یوازې د سترګو له ګنجو په نه زړه راوکتل، بېرته یې مخ واړاؤ، خو چې زما څهره یې په ذهن کې ترسیم شوه، د هغه په مخ کې عجیب او غریب بدلون راغی د ټنډې کوتونه یې ویړ شول، ترشه څهره یې وغوړېده، خنده رویه شو، شونډې یې سره بېرته شوې زنګ وهلي تور غاښونه ترې رابهر شول، مخ یې راواړاؤ، ویې وېلې:

لاندې دوه چنده او درې چنده وسایل ورته قوي کوو، کمانۍ او جمپینونه ورته دوه او درې چنده کوو، ځکه یې تاب راوړلی شي.

د هو په دود مې ورته سر وخوځاؤ، نه پوهېدم د کومې انګېزې له مخې د سړي ټول حواس را ژوندي شول په خبرو یې پیل وکړ، د ځان د مردانګي کیسې یې پېل کړې، ویې ویل زه شل کاله دا کار کوم، د ایران په اخوندی ریژیم زما سترګې نه ډکیږي، دا او هغه، یو غر یې په بل او بل غر یې په بل وویشتل، ویې ویل:

زه سني یم،ځواکمن یم،غښتلی یم، په خبرو کې به یې هره دقیقه زما طرف ته مخ راواړاؤ، زما دیدن به یې وکړ، او بیابه خبرو ته تمبه شو.

اخر کې یې پوښتنې پیل کړې ویې ویل تاسې هم سنیان یاست کنه؟

هغه هڅه کوله د خبرو په جریان کې ما اړه کړي ترڅو مخ ورواړوم او زما د سترګو ننداره وکړي، خو پوه شوم چې سړی جنسي ناروغ دی، ما به یې په خبرو کې ښکته سترګې اچولې وې او یوازې سر به مې ورته خوځاؤ، چې کله پوه شو چې زما پاملرنه نشي جذبولی نو د موټر بې وخته ګیر بدلولو ته یې ځان اړم کړ، په موټر یې لوبې پیل کړې دوه ځله خو یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قصداً زما ورُن سره لاس ولګاؤ، ما دا کار وزغامه ویل مې که کوم عکس العمل وښایم پردی وطن دی، کورنۍ به مې په غم کې واچوم، په درېیم ځل یې چې دا عمل تکرار کړ، نو په دې سوچ کې شوم چې سړی په رمز کې باید داسې وپوهوم چې زما کورنۍ هم زما له خبرو کوم شک وانه خلي، ورته مې کړه استاده!

ویې ویل ها!

ـ تاسې لور لرئ ؟

موټروان مې په خبره پوه شو، پیغام یې واخیست، سخت خجالت شو، زما کورنۍ هیڅ څوک هم په دې راز پوه نشول، یوازې بلال له شا سیټ نه غوږونه راځک کړل، د عقب نما نه مې کوت د سترګو او ټنډې په حرکاتو یې پوه کړم راته ویې ویل، څه کیسه ده ؟

د نه په دود مې سر ورته وخوځاؤ، هغه مې ډاډه کړ او شکر چې دغه لوبه مې همدلته ختمه کړه.

د موټروان مرداري خولې ته هم قلف ور ولوېده، چوپه چوپتیا شوه، موټر په تېزي خپله لاره لنډوله، تېز باد له دوړو غبېږ تاووله او هوا ته یې پورته کوله، یوه لوی ډاګ ته ورسېدو بل سر ته یې نظیر کار پرېښوده، موټر هم په تېزي د خړ ډاک ځمکه له سینې لاندې کوله، صحرا ته ورته خړو مرغیو به زموږ په ورنېږدې کېدا هوا ته الوت کاؤ یوه نیمه ببره سیورى لرونکې ونه به مو هم مخې ته راغله زموږ په تېرېدو لکه چې نڅا کوي نورو اړخونو به یې راته ځان څرګنداؤ، عقب نما کې به مې د ډاډسن د باډۍ ځوانانو ته وکتل، سپین ته نږدې خړ رقمه ګردو کې یې یوازې سترګې برېښېدې چې په عینکو پوښتل شوې وې لکه له ختو جوړ انسانانو ته چې یوازې تورې عینکې ور په سترګو کړې، دوی هم له ختو جوړ بوتانو ته ورته منظره لرله، په دې توپیر چې دوی خوځښت ساتلی ؤ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې ډېر درد وکړ، د خپلو ځوانانو په حال مې بې واکه سترګې لمدې شوې بیا مې غیر ارادي خپلو مشرانو ته په ښېراؤ شونډې وخوځېدې.

پوره دوه ساعته مزل مو وکړ، بلاخره پاخه سړک ته وختو، پاخه سړک کې موږ هم لکه په پالنګ کې خوب یو څه د ارامتیا احساس وکړ، خبره سرچپه شوه مخکې به ګردونه راتلل د ځوانانو په مخونو او د موټر په باډۍ به نېښلېدل اوس تېز باد له دوی ګردونه تراشل، ورو، ورو یې څهرو پېژندګلوی پیدا کوله.

نیم ساعت مزل مو نور هم وکړ بیا موټر خامې ته ولوېده دې یوې بلې دښتې په لور یې خامه لاره کې ټایرونو په خپل چورلښت لاره لنډوله له لږ مزل وروسته دوه درې پیوسته کورونه مخې ته راغلل، د یوه دروازه خلاصه شوه ور دننه شو، درې اطاقه پکې ودان شوي ؤ، پراخه حویلي یې درلوده تر څنګ یې بل کور هم ؤ، دلته کونګه ګونګیا وه، خو د څنګ له کوره د خبرو ځوګ راته، د حویلۍ دېوال سره جوخت د درې منزله یوه کور دانچه ولاړه وه ددې کور چتونه اچول شوي ؤ خو دېوالونه او کړکي یې پکې نه ؤ جوړ کړي، اورېدلی مې ؤ، چې ایرانیان د کورونو ډانچې له اوسپنیزو قوي ګاډرو جوړوي، خو لیدلي مې نه ؤ، اول ځل مې د اوسپنو ډانچې ولیدې، تعمیر ته زینې هم ورپورته شوې وې، د تازه کارکوونکو نښې پکې نه ښکارېدې داسې مالومېده چې تر ډېره وخته راهسې پکې کار نه دی شوی.

د ورور ټپ ته مې وکتل شکېدلی لستونی یې په لاس پسې زنګېده، مخ او شاته یې له ټپ ته په تاو شوي ټوکر باندې سرې وینې وچې شوې وې، د سترړیا په شمول مې د هغه په مخ کې ښې د روحي فشار نښې هم ولیدې بیخي مړاوې او زنګېدلی یوې کوټې ته ننه وت زه، مور مې او د ازبکې په شمول د هغې مور هم یوې بلې کوټې ته ننه ؤتو.دغې کوټې کې راسره یوه بله تاجک توکمه مېرمن هم یو ځای شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نارينه ؤ، له سرونو کترې لرې کولې، لومړی به يې هغه له گردو ټک وهلې بيا به يې له کاليو پرې گردونه څنډ وهل .

د حويلی يو کونج کې يو له اوبو ډک بېلر ايښی ؤ، هر يو به په نوبت بېلر ته ځان رساؤ، مخ، لاس او پښې به يې مېنځلې، سړي خلاص شول، زموږ نوبت راغئ بېلر ته چې ودرېدم اوبه يې خلاصې شوې وې، بېرته راغلم د گاونډ کور يوه دروازه هم زموږ حويلی ته راپرې وه لږ مې ور چوله کړه د ننه مې په کوهي نظر ولگېده د لاس بنبه هم پرې نسب وه، يوازې مې زړه ونه شو کولی چې ور د ننه شم مور او ازبکه مې هم ځان سره کړل، د کوهي خواکې ودرېدو ددې حويلی هم بر سر کې درې اوطاقه اباد ؤ غگېدا مو اورېده، ازبکې د بنبې لاستی په حرکت راوست رنې اوبه راتوی شوې مخ پورې مې گردونه سم سرينس شوي ؤ ؛

ما او مور مې مخ او لاس ومينځل هلته لرې اباد شويو اطاقو کې غږونه اوچت شول د يوه کس د شيکنجې اواز مې تر غوږو شو، چغې يې وهلې، وروسته يې زارۍ پيل کړې، مه مې وهې پيسې مو راوړم،الفاظ مې واورېدل، د پټی وهلو شړکا زموږ غوږو ته راتله، د کس چغې لا پسې لوړېدې موږ هم وډار شو ازبکې مخ ته اوبه اچولې وې پښې يې پاتې وې ورته مې کړه، راځئ بېرته خپل ځای ته ځو، دغه ځای راته سم نه ښکاري، چې څو قدمه مو اخيستل يو پلن پوخ سړی چې لوړه هډوکينه پوزه يې لرله زموږ خوا کې ودرېده په قهرجنه لهجه يې وويل تاسې ته چا دلته د راتلو اجازه درکړې ده، بې تميزه خلکو!

موږ ورته وويل هلته اوبه خلاصې وې مخونه مو له گردو نه مالومېدل مجبور شو دلته راغلو کوم جرم خو مو نه دی کړی،

ويې ويل تاسې افغانان هم جرم پېژنی، تاسې ټول وحشيان يې، له ځناورو هم بدتر ياست.!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مور باندې مې دغه خبره بده ولګېده د حويلى دروازې ته نېږدې شوى ۇ، مور مې ورته وويل ځناور خپله يې!!ځناور ستاسې سرکرده دي، ستاسي وحشي خلک دي، موږ نه يو!!

مور مې نوره له حويلى په وتو شوه ايراني ته يې شاه شوه، ايرانى په قهر شو زما د مور په لورې يې ګامونه ګړندي کړل، موږ د حويلۍ د دروازي په خوله کې ۇ، هغه غټ بوټونه پښو ۇ زما مور يې په ملا کې په يوه مظبوطه لغته ووهله، لغته يې ډېره ځواکمنه وه، مور مې دروازې له وره ووته دا بله حويلى کې ولوېده، ټېکرى يې له سره وغورځېده، لږ ساعت خو يې ساه هم سمه نه شوه اخيستى، خو چې حالت يې لږ،سم شوه ژر يې خپل پړوني ته نازکې ګوتې ورتېرې کړې هغه يې په سر کړ، بيا يې سپين لاسونه په خاورو کې کېښودل، د راجګېدو هڅه يې وکړه، قاچاقبر لا هم ينه نه وه يخه شوې، د بيا وهلو هڅه يې کوله، ما او ازبکې چغې کړې، چې که بل ځل مې مور ووهې مړه به شي، زموږ له چغو سره مې پلار او ورور راورسېدل، نور خلک هم راټول شول، ورور مې په داسې حال کې چې ښي لاس يې په غاړه کې ۇ، په چپ لاس يې د ايراني ګرېوان ته لاس وروچاؤ، ورته يې کړه، دا نو کومه ځواني ده چې په يوه مېرمن لاس پورته کوې؟ دا کوم انسانيت ده چې يوه تورسرې په لغته وهې؟ او په ځمکه يې غورځوې ! ايراني هڅه کوله خپل ګرېوان مې له وروره خلاص کړي خو نه پوهېدم چې د مور غورځېدلو او سرتورېدو ځومره په قهرکړى ۇ، ايرانى په ځواکمنو متو او زور بيا هم خپل ګرېوان زما له ورور نشو خلاصولى، د ايراني بل ملګرى را ورسېده هغه سره يو لوى د لرګي کوتک ۇ لومړې ايرانى ورته کړه ويې وهه،مه پرې ګوره ! هغه په متو کې چې ځومره زور ۇ کوتک يې پورته کړ او زما د ورور ماتې اوږې ته برابر شو د ورور هډوکى خو يو ځل مرمۍ مات کړئ ۇ دويم ځل د ماتېدو خرس مې په غوږو په خپله واورېده د ورور سترګو ته مې کتل ورو، ورو مړاوې کېدې رنګ يې زېړېده د ايراني له ګرېوانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ګوتې سستېدې سترګې پرې پټې شوې، پر ځمکه راولوېده، د ورور په ليدو ځمکې ته ټيټه شوم، يوه ښه درنه تيګه لاس ته راغله د لرګي واله باندې مې ورخوشې کړه، په ځېنې غوږي مې وويشت، سر پرې تاؤ شو ځان يې تکيه نشو کړای چپه شو د ورور پښو ته مې ولوېده،کوتک هم لرې ترې وغورځېده ، پلار مې له هغه لوېدلی لرګی راواخيست د دويم ايراني ډډو ته يې ونيو، خو چې دوهم لرګی د هغه په تنه لګېده ترې وايې خيست، زما پلار يې دوه لرګيه پښتيو ته ورواهه، غوښتل يې دريم لرګی يې سرته ووهي او د خپل ملګري غچ واخلي خو چې کوتک يې پورته کاؤ د بلال سوک يې د خولې او پوزې سره پيوند شو، بلال په چټکې وڅرخېده ويښتان يې لامده ؤ څاڅکي يې تر موږ راورسېدل، سپورتي حالت يې غوره کړ، ايرانی يې په سينه کې په دومره ځواکمنه لغته وواهه چې ما فکر کاؤ د مخې پوښتی به يوه هم جوړه نه وي پاتې شوې!

ټولې به ماتې وي!

نور نو دويم ايرانی هم د کوتک وهلو له ارمان نه ووت، سر پرې ګنګس شو پر خپل ځای کيناست.

په دې وخت کې ايجنټ راغی زموږ په شور ماشور يی څنګ ته لاس کړ تومانچه يې راوباسله، غږ يې وکړ، چې هر څوک غږ پورته کړي يا هم ګذار وکړي په مرمۍ يې ولم، ټول غلي شول، اجينټ وويل تاسې غواړئ غوغا مو بهر ووځي او زموږ د ميلونونو کار او بار له منځه ويسئ، موږ په حکومت ونيسئ، په لاس کې يې د اوبو بوتل ؤ سر يې پرې تاؤ کړ، زما د ورور په مخ يې اوبه واچولې هغه ژوره ساه واخيسته، سترګې يې ورپولې، زما تېرې خوړلی ايرانی خو لا هماغسې په بې هوښه پروت ؤ لږ وروسته هغه هم په هوش شو، اوچت جګ شو.

له ايجنټ نه دغه ايراني هم ښه ډارېدل ځکه دوی يې هم د مامورينو برخه وه، غلي، غلي خپلې حويلۍ ته واپس شول، اجينټ وويل:

له دې وروسته داسې ګډوډي ونه وينم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپې يوولس بجې ګېم دی، خوبونه مو پوره کړئ، ټوله شپه بيا خوب نشته، وروړ مې راغګ شو لاس پسې ځړېده پيکه څهرې يې زما زړه اره، اره کاؤ، ايراني اجينټ او بلال له لاسونو نيولی ؤ، کوټې ته يې ننه باسه، پلار مې اجينټ ته وويل زما د زوی لاس مات دی پسې ځړېږي ،دلته کوم نېږدې کلينک ته يې بوزه، درملنه يې وکړه، پيسې يې موږ درکوو.
هغه بل شوی سيګريټ له شونډو لرې، ويې ويل:
په زوره ځان د پوليسو په واک کې ورکوئ، موږ چا ته د درملنې اجازه نلرو، کله چې د ترکيې سرحد ته نېږدې کېږو هلته خپل خلک لرو درملنه به يې وکړي، تر هغو بايد هر څه چې وي وزغمئ، مور مې هم ډاډه شوه چې دوی يې غم نه خوري، يوه کلک کارتن يې پيدا کړ د هډوکي دواړو اړخونو ته يې ورته برابر کړ ټوکر يې ترې تاؤ کړ بيا يې لاس غاړې ته ور واچاؤ وروسته مو په روغ طرف په يوه بالښت څملاؤ، هغه په يوه ژور سوچ کې لاړ، ورور به مې چې کله هم دغه چوپتيا غوره کړه نو بيا به يې څه وخت وروسته دماغي حالت له کنټروله ووت، زه مور، پلار او بلال يې خواکې کيناستو پنځه دقيقې به نه وې وتلې چې وروړ مې غير ارادي وخندل بيا يې ماته وکتل د ګوتو په اشاره يې راته وويل:
چې ورنېږدې شم، زه يې هم خواکې وم خو نوره هم ورونښوېدم.
ورو يې راته وويل:

زما خوله ماته کړې خورې!
ـ ولې خدای ج دې نه کوي!
ستا د نه راتلو مشورې ننګه مې ونه کړه، د پلار پلوی شوم ! زه مې پلار نه ښنم !!!
زه خو نه پوهېدم چې دغه لاره به له داسې ستونزو ډکه وي که پوهېدای بيا مې ستا ننګه کوله.
ـ خير، اوس خو شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ پلار مې ستا هره خبره منله، خو دلته د نه راتلو مشوره دې چې ورکړه ویې نه منله، که ستا یې منلې وای اوس به مې د مور سر نه سرتورېده، زه مې د مور زوی یم هغه مې په ټول ژوند سر توره نه ده لیدلې، خو نن هر بې حیا خپل او پردي سرتوره ولیده، نن هغه دومره بې عزته شوه چې د یوه ایراني پښو کې ولوغړېده، دا د مور بې عزتي، به مې په ځنګدن کې هم هېره نشي زما د مور بې وسه سترګې، سرتوري او چوپتیا ماته دومره درد راکړی چې یو هډوکی خو مې ایراني مات کړ نور د بدن ټول هډونه مې چې مات مات شي هم دومره درد به ونه کړي.
بیا مې پلار سره سترګې وګنډلې ورته یې کړه پلاره، تا تېروتنه نه کوله خو چې سر یې درنه وخوړ دومره لویه تېروتنه دې وکړه چې نن یې ثمره په خپلو سترګو ګورې .
د ورور خبرو زموږ هر یوه په زړه کې چاړه وهله او ورور مې درک کاؤ چې هغه مې د مور په بې عزتي باندې څومره روحي صدمه لیدلې ده،بلال هم دا هر څه اورېدل او هر ځل به یې چې زما د ورور دردناکې خبرې اورېدې مخ به یې سور کېده او شونډې به یې له غاښونو لاندې کولې.
بلال مې مور ته وویل:
ډاکترې مورکۍ، ستا په ځمکه لوېدل به ایراني ته ډېر په قیمت پریوځي، ته یې په ځمکه غورځولې یې ان شاءالله هغه به د ځمکې تل ته غورځي، ایرانۍ تر ماښامه والله که ژوند رانه وکړي، یو ځل زه په خپلو لاسونو د هغه مرۍ ورتاووم ، بیا که هرڅه کېدل پروا یې نه لرم.

د مور غټې بڼه ورې سترګې مې سرې شوې بیا لکه باران څو څاڅکي یې له غومبرو لاندې راولوېدل، د پړوني پېڅکه یې د سترګو کونجو ته وې وړه، په پرې، پرې غږ او له ژړا ډکو سترګو یې وویل:

اوس که هغه مړ هم شي، زما عزت ته به یې څه ګټه ورسېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خو اوس هر چا سرتوره  ولیدم، بې ګټې کار ته اړتیا نه شته.

مور په پردي وطن کې څه کولی شو، دا اوس مو هم چې کوم لاس ویوړ ناپوهي مو وکړه، موږ له دغو خلکو سره لکه اسیران داسې یو، که کومه بله تېروتنه وکړو، له دې به هم له بدترو پېښو سره مخ شو، ښه داده چې نوره  په هرڅه لویه تېره ږدو.

ورور مې سترګې پټې کړې خاموشه شو، موږ هم سخت بې خوبه ؤ د خوب اغېزې په هره یوه کې مالومېدې، موږ فکر وکړ ورور مې  ویده شو په دې هیله مندي ترې ووتو چې څه له خوب کولو سره به یې دماغ هم ارام شي او  شته  خپګان به یې هم کم شي، خو خبر نه ؤ چې هغه یو پټ طوفان په زړه کې ساتلی دی او غواړي په یوه خطرناکه کار لاس پورې کړي، که موږ پوهېدای چې هغه په داسې یو ناخوښه کار لاس پورې کوي، که  درې  ورځې بې خوبه وائ هم له څنګه به یې نه ؤ لرې شوي، موږ بلې کوټې ته لاړو، هلته مو ددې پېښې له امله د خفګان اظهار کاؤ، مور مې وویل:

 دغه ځای ته له راتګه مخکې مو په لاره کې  ویل دا ځل  دمه  کې به ښه خوراک او څکاک کوو څکه تېرو درېیو ورځو کې مو داسې خواړه نه ؤ خوړلي، چې انرژي یې راکړې وایي، یوازې یو دانه بیسکټ او یو بوتل اوبه به مو څکلې او لوږه به مو پرې کموله، ښه خوراک ته ترکېدو، څکه چې تل په ښو خوراکونو عادت ؤ، خو دلته مو هم شته اشتها پېښې واخیسته داسې ماړه ؤ لکه چې د ټولې نړۍ خوراکونه  موږ خوړلي وي. مور ته مې وویل خوراکونه مو زهر کړې، قیسمت به یې نلرو، لږ سترګه به پټه کړو، ترڅو په ارامه د راتلونکي سفرونو تیاری ونیسو، هغې هم راسره ومنله اوزبکې جلۍ  ما او مور ته تکیه سمه کړه هڅه یې کوله چې موږ سره دې پېښې په غم کې ځان شریک وښیي، ما او مور مې سر کېښوده، هغه زما په خوا کې وه له پورته کېدو مخکې یې زما په مخ سر راټیټ کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکل یې کړم بیا یې د ترحم لاس راباندې راکش کړ، نوره خپل ځای ته لاړه بالښت باندې هغې هم سر کېښود، په وروستی ورځ د یوې تاجکې کورنۍ یوه مېرمن هم زموږ سره په اطاق کې یوځای شوه، هغه له خپل ځایه پورته شوه او د مور خواکې مې کیناسته، د مور د سر په کیکاږلو یې پیل کړ، هلته راته ثابته شوه چې د هېواد قومونه (پښتون، تاجک، ازبک، هذاره، پشیي....) څرنگه یو له بل سره خواخوږي دي، څرنکه یو بل سره په ستونزو کې ځان شریک گڼي ورک د سیاست وال شي چې دغه ورونه قومونه یې د خپلو گټو لپاره سره وېشلي دي.

ښه شیبه ووته نېمه ویښه او نېمه وېده وم بهر چغې شوې، غږ مې واورېده هلې، هلک وژغورئ، کنه مړ به شي!

زموږ دروازه یو چا په زوره، زوره راووهله، ویلې ژر، راووځئ، هغه ته قناعت ورکړئ.

زه او مور مې بهر ور ووتو حویلۍ کې ډله کسان ولاړ دي پورته اسمان ته گوري د بلال غږ مې واورېده ویې ویل؛ خیر ده ورور مې شه، راښکته شه، داسې تېروتنه ونه کړې.

ما هم پورته وکتل ومې لیدل چې ورور مې د درې منزله کور د ډانچې د اخري چت پر ژۍ ولاړ ده او ښکته راگوري، غږ یې وکړ چې پلار ته مې قناعت ورکړئ، چې بېرته خپل هېواد ته ستانه شو، موږ له دغه سفره تېر یو.

ما غږ ور وکړ ورته مې کړه ورور دا ته څه کوې ځانته دې پام دی؟
ـ که یې راسره ونه مني زه له دې ځایه ځان اچوم، مور مې ورغږ کړ زویه دا کار زما لپاره مه کوه، راښکته شه نورې ستونزې مو هم ډېرې دي.
ځواب یې ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



موري ستا سر سرتورېدل مې سخت ځوروي، كه بل ځل در سره داسې كار وشي نو زه يې ونشم زغملی، بيرته ځو خپل وطن ته ځو. پلار مې هم له كوټې راووت زموږ په شور راويښ شوی ؤ، په يوه لاس يې په سترګو سيوری راوست، پورته يې وكتل ويې ليدل چې زوی يې د درېيم منزل د چت په يوه ژۍ ولاړ ده.

ماته يې مخ راواړاؤ ويې ويل څه چل ده ؟

ـ د ورور مې بيا عصاب خراب شوي دي، وايي بېرته خپل هېواد ته ځو كنه زه له دې درې منزله ځان غورځوم، هغه پرته له دې چې فكر وكړي او تسلا يې كړي، ور غږ يې كړ، زويه راښكته شه، وطن ته نور نشو تلی ځكه تا وليدل كور مو هم خرڅ كړ، د اوسېدو ځای په وطن كې نه لرو.

هغه له دې خبرې سره يو ګام نور هم راواخيست ويې ويل بېرته نه ستنېږې؟

مور مې ور غږ كړ زويه ستنېږو، د خدای ج لپاره كومه تېروتنه ونه كړې، پر ما زړه وسوځوه، د مور خبرې مې په ژړا بدلې شوې، ورته يې كړه كه زما زړه چوې بيا ځان راوغورځوه، زما له تا پرته څوک دي؟

يوه شوم چې د ورور په راښكته كولو كې مو خبرې پايله نه لري، بلال ته ورنېږدې شوم پټ مې ورته وويل بهر ووځه، زما ورور د ونه ويني، د شاه له لوري ور وخيځه له لوېدو يې وژغوره، پوهېدم چې ورور مې په خپل حال نه دی د كنټرول له برېده يې دماغ وتلي دي هغه هر څه كولی شي .

بلال منډه كړه، بدبختي دا شوه چې ورور مې هغه وليده پوه شو چې په ما پسې راخيجي، مخكې له دې بلال ور ورسېږي، له پاسه يې ځان راخطا كړ، كميس يې په دويم منزل كې په يوه اغزن تېر شوي سيم كې ونيښت څو ثانيې تم شو، يوه او بل طرف ته وزنګېده د كميس يو لستوڼی يې په سيم كې پاتې شو، نور لاندې راخوشی شو، زموږ مخې ته له يوه دروند درب سره د خاورو دوړې پورته شوې، يوه لوېشت د هغه تنه له ځمكې پورته شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ داسې صحنې د تلوېزيون په پرده ليدلې وې هلته به مې هم ډار ترې کېده، خو تقدير په يوه ستونزمن سفر روان کړي ؤ اوس مو دا ډول صحنې، په سترګو ليدې هغه هم د خپلې کورنۍ د غړو!

ولاړ خلک ټول زموږ په شمول يوه لحظه چوپ ؤ د ويلو حروف مو نه درلودل خولې مو ښکم شوې وې، د څو لحظو لپاره خو زه هم په ځان کې ورکه وم، ما ځان په دې ډاډه کاؤ چې يو خيال به وي، خوب به وي او کومه د فلم صحنه به وي، خو کله دومره نېکمرغه وم د مور د سويو، سويو چغو په اورېدو مې دا حقيقت ومانه چې ورور مې په رېښتيا ځان راغورځولی دی، ورنېږدې شوم له غوږو او پوزې يې وينې تللې د سر کاسه يې ګرد نه وه پاتې، وتلې او رانوتې جوړښتونه يې درلودل مور مې د هغه سر په خپل زنګون ايښی ؤ،سر يې چيت مالومېده ،مور مې اسمان ته په کتو د خپلې بدبختې فرياد کاؤ، ولاړو ټولو خلکو زما د مور فرياد سره اوښکې بدرګه کولې، د تسلې هېڅوک هم نه ؤ، شاته مې وکتل د ګاونډ ايرانيانو هم له لنډ دېوال نه سرونه رابوڅ کړي ؤ زموږ ننداره يې کوله بې واکه مې ورکريغه کړه، ظاليمانو زما د ورور ژوند خو مو واخيست، اوس يې ننداره هم کوئ؟

سرونه يې له خجالته ټيټ کړل.

دروازه خلاصه شوه موټر راننه وت، درېيو کسانو زما ورور په لاسو کې واخيست ويل يې:

موږ ټپي روغتون ته وړو، بلال هم موټر ته وروخوت، هغه يې بېرته راښکته کړ ويلې تاسې ته اجازه نشته موږ هر څه سمبالوو.

مور مې حيرانه دريانه په هغه ځای ناسته وه په کوم ځای يې چې ځواني مرګ زوی رالوېدلی ؤ، پرنډ وينې يې د زنګون پر کميس پرتې وې.

اولاد په رېښتيا د مور له وجوده جوړ وي، مور مې له خبرو لوېدلې وه، دومره بې شېمې وه لکه دا ببښه چې ددې په وجود تېره شوې وي، له هغې ځمکې سره يې سترګې ګنډلې وې چې د زوی وينې يې پکې لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلابونه ځای ځای پرتې وې، په ریښتیا چې د اولاد وینه د مور له وینې سرچینه اخلي، لکه خپلې وینې یې چې توی شوې وي، ترې راپورته کېدلو خوند نه ورکاؤ.

زما په ذهن کې هم زما د ورور د مینې راکولو یادونه لکه سریال یو په بل پسې مخې ته راتلل، زما سره یې د کوچنیوالي لوبې او بیا په ننني پېښه کې د هغه رالوېدل سترګو ته ودرېدل، په وینو لړلې څېره یې راته مخې ته شوه لویو، لویو کوکو ته مې د زړه تشولو لپاره زړه ښه کړ، خو چې د مور حالت مې ولیده، وډاره شوم چې مور به مې د زړه سکته وکړي، پلار مې هم د کوټو مخې ته د صوبې په ژۍ سر په زنګنو ایښی ؤ، د خپلې بې وسي فکرونو کې غرق ؤ، د خپل زوی په دې سرنوښت اخته کېدو کې یې ځان خجالته باله، هغه شکر هم لاره نو له ځان سره مې وویل:

لیمې همت وکړه، ورور خو دې وبایلود، اوس د مور او پلار ساتنه وکړه، کنه دا دواړه هم له لاسه ورکولی شې.

د خپل زړه په سپکولو مې خاورې واړولې، د مور خواکې کېناستم د پړوني یوه پیڅکه یې په سر وه، پړونی نور په ځمکه پروت ؤ، هغه مې ور سیخ کړ، بیا مې په اوږو لاسونه ور واچول، ښکل مې کړه ورته ومې ویل مورې!:

څه چې کېدل هغه خو وشول، ورور به مې ښه شي و دې لیدل چې روغتون ته یې وېوړ، هغې ترخه مسکا وکړه!

اه... دغم له لاسه خندی هم سړی وژني ویې ویل سر یې ریز مریز و، کله به جوړ شي.

ورته مې کړه!

بس هر څه رب ته سپارو، څه چې په تقدیر کې لیکل شوي وي هغه خو هسې هم نه بدلیږي بلا په مخ وهل کیږي، نه په څټ.

اوس مې د پلار جان، زما او د خپل سرخیر غواړه، که زړه ماتي شو نو هر څه به وبایلو د ټولو په ژوند به لوبې وشي، پلار مې وګوره نه مړ ده او نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندی، هغه شکر هم لري، که موږ خوله خلاصه کړو او وژاړو د هغه زړه به هم ودرېږي، نو نور چغې نه وهو، پریاد نه کوو، کمزوري کېږو نه، همت کوو او بس...

زما په خبرو مې د مور په مخ کې ولاړې سترګې په حرکت راغلې، سترګو ته یې د پړوني پیڅکه پورته کړه مړې اوښکې یې پاکې کړې، د خبرو کولو لپاره بې وسه وه، د سر په خوځولو یې له ماسره زما د خبرو موافقه وکړه.

کوټې ته مې دننه کړه د ورور په وینو ککړ لاسونه مې ور ومینځل، کالي مې ورته بدل کړل په وینو ککړ کالي مې واخیستل بهر وباسل ،د دېوال له سره مې بېرون وغورځول، چې مور مې دوباره ونه ویني.

بېرون مې په بلال هم سترګې ولګېدې چې زما د ورور وچې شوې وینې او خاوره ، په یوه چارې کې اخلي او بهر یې له دېواله اړوي .

له دې کاره یې ډېره خوښه شوم، له زړه مې دعاوې ورته وکړې او د ځان لپاره مې د خدای ج له لوري لکه د یوې رالېږل شوې فرېښتې په ډول حس کړ.

شکر مې وویست.

د ورور غم مې راته دروند ؤ، زما په درد یوازې هغه خور پوهېده چې ورور یې ځواني مرګ ترې باسلی وي.

ماښام تیاره موټر راننه وت مور خو مې پوهېده چې ورور مې ژوندی نشي پاتې کېدای، خو پلار مې د موټر په لیدو په یوه هیله ور پورته شو، ترې ویې پوښتل زوی مې ښه دی؟

لنډ ځواب مو ترې واورېده، هغه په لاره کې مړ شو، بیا مو یو ځای خبښ کړ او دا کار مو د ځان د افشا د مخنیوي لپاره له مجبوري وکړ، پلار مې سلګیو واخیست، یوه دېوال ته یې ځان تکیه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ له زړه هم وينې څڅېدې، خو بس له زغملو پرته مو بله لاره نه درلوده.

اجينټ وويل د شپې يولس بجې ګيم دی تاسې بل ځای ته لېږدو ، بايد چمتو وئ.

پلار مې له لاسه ونيو اطاق ته مې د ننه کړ ډېرې د ډاډ خبرې مې ورته وکړې، يو څه مې تسلا کړ، مور خو مې لا پخوا يو څه ډاډه کړې وه، زما زړه نېږدې ؤ پړق وچوي، ځکه انسان ؤم کم تر کمه مې تسلي او ډاډ ته اړتيا درلوده، خو زما د تسلي لپاره څوک نه ؤ چې غېږ مې ورکړې وای او ښه ډېر مې ورته ژړلي وای.

بهر راووتم په بلال مې سترګې ولګېدې خپل بکس يې چمتو کاؤ، زړه مې وشو چې ورشم لاس ترې را چارپيره کړم سر مې د هغه په اوږه کېږدم او ښې ډېرې سلګۍ يې په خواکې وکړم، خو پښتو وه، دا کار ناشونی ؤ د ځان دومره کمزوري معريفي کول هم راته اسان کار نه برېښېده.

خو له دې مې ځان کنټرول نه شو کړای چې نېږدې ورشم، زړه نا زړه مې د هغه په لورې قدمونه واخيستل، ورغلم خواکې يې په چوپه خوله کيناستم، هغه د بکس يوه طرف ته او زه يې بل طرف ته وم.

بلال ډېر ځيرګ زلمی ؤ، د هغه هم ايلا خط او بريت راغلي ؤ، پرته له ويلو يې هم ډېر څه احساسول، په چوپه خوله يې زما پيغام د شپېږم حس له رويه واخيست راته يې کړه.

ژوند چې څومره موږ فکر کوو دومره اسانه ندی، زه پوهېږم نن تاسې د يوه سخت حالت څخه تيرېږئ، پوهېږم يو خوږ ورور دې له لاسه ورکړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ورور له لاسه ورکولو زور له بل هرچا ماته ډېر ښه مالوم دی له ما هم د هېواد ناسور جګړې درې وروڼه واخيستل، د ورور مړينه د سړي ملا ماتوي، تا هم نن د ملا د ماتېدو درد وليده، ته به دا هم په زړه کې راته وايې چې له تا مې بيا هم درد ډېر دی، ځکه چې تا خو د وروڼو غسل او کفن ورکړ، جنازه دې وکړه په ډېر عزت د خاورو ته وسپارل، قبر يې هم مالوم دی.

له مانه خو مې ورور ډېر ارمانجن لاړ، مسافر ؤ، ډېر بې عزته لاړ، بې جنازې او کفنه خښ شو، د قبر نښان يې هم مور ته مالوم نشو .

هو، تاسې په ريښتيا نن ډېر دروند غم لرئ.

هو ته په حقه يې!

نن دې په ريښتيا له ما غم زورور دی!

خو تا نن دا هم ثابته کړه چې همت دې هم له ما زيات دی .

د ستونزو په وړاندې مقاومت دې له ډېرو نارينه ؤ لوړ دی.

هسې خلک واي مېرمنې ظريف او نازک جسمونه لري، ستونزې نشي زغملای، دا نظريې زړې شوې دي، دا د هغو خلکو فکرونه ؤ چې دنيا يې د غوايي د ښکر په سر ولاړه ګڼله.

نن، تا د يوې زړه ورې پيغلې رول ادا کړ، تا د ملالې په څېر د خپل ټولي روحيه ځواکمنه کړه، د خپل ځان غم دې هېر کړ، خو خپل پلار او مور دې مايوسي ته پرينه ښودل، ته يوه اتله يې همداسې غښتلې اوسه، همت دې همداسې ځواکمن وساته، تر څو هيڅوک احساس نه کړي چې تاسې د ژوند په وړاندې مبارزه نشئ کولی.

مبارزه اوسه، ژوند اسانه نه دی، ژوند کول سخت دي.

د بلال خبرې لکه چې تې ته ټکور ورکوي داسې راباندې لګېدې، وجود مې ور سره وغوړېده او قوت يې واخيست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پردي وطن کې داسې یوه خواخوږي پیدا کول هم له روژې بغیر د لیلت القدر شپې لیدو په څیر ؤ، د بلال هرې خبرې مې زړه ته لاره کوله او زما د هغه غم چې وړل یې راته اسانه نه ؤ، ورو، ورو یې را کماوو.

د بلال خبرې نورې هم جذباتي شوې، هغه زما ډېرې نورې ځانګړتیاوې هم په ژبه راوړې خدای خبر په ما کې به وي یانه خو خبرو یې یوه انګیزه راکړه په ځان یې باور را په برخه کړ، ځان ته مې تمه پیدا شوه، ومې ویل لکه چې یو څوک یې لیمې!

مخامخ مې وکتل د بدمرغه درې منزله تعمیر ډانچه هماغسې ولاړه وه، ورور مې سترګو ته ودرېده د رالوېدو صحنه یې سترګو ته راته مخې ته شوه، بیا مې د هڅوکو هغه خرس چې مات لاس ته ایراني په لرګي وواهه رایاد شو!

اوښکې مې کابو نه شوې کړای.

سر مې په زنګنو کېښوده هڅه مې وکړه له بلاله اوښکې پټې کړم ترڅو هغه حس نه کړې چې زما خبرې هوایي وې کوم اغېز یې نه درلوده، خو ژړا هم د لمر په دوو ګوتو پټېدل دي له سلګیو سره مې بدن لړزېده، د بلال غږ مې واورېده راته یې کړه:!

اووو، هو !! لکه چې زما خبرې، په یخ لیکل ؤ، بې ارزښته وې، هیڅ ځای یې ونه نیو، همداسې ده ؟

ورته مې کړه نه!

داسې مه وایه، ستا خبرو خو په ما کې نوې ساه وچلوله، زما کالبوت بدن یې په حرکت راوست .
ـ ښه نو بیا دا ژړا او اوښکې د څه لپاره ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د ورور مظلومیت مې راته یاد شو، څنګه ټوک، ټوک شو، اخیرنۍ غوښتنه یې هم موږ پوره نه شوه کړای ویلې چې بیرته هېواد ته ستنېږو.

ـ همدا یې تقدېر ؤ همدلته ورته له دغه درې منزله مرګ لیکل شوی ؤ، تقدیر په تدبیر سره نه بدلېږي، نور هر څه هېر کړه اوس د مور او پلار یوازې تاته هیله لري.

ـ ولې تاسې به نه یاست راسره ؟

ـ ما کله ویلي چې زه نه یم درسره! ترڅو مې چې تر خپل ځایه نه یاست رسولي درسره یم، ځکه زما هم همدغه لاره ده .

ـ چې ورسېږو بیا؟

-بیا نو د تقدیر کار دی چې چېرې به مو دانه او اوبه لیکل شوي وي.

ـ نه ته به له موږ ه نه جدا کېږې! لکه یوه کورنۍ یو ځای به اوسېږو.

ـ د یوه پکتیاوال په توګه ژمنه ترسره کوم او تاسې تر منزله رسوم

ـ د پکتیا د تاریخي عظمت او د مېړانې تخم یې په اولادونو کې له ورایه ښکاري، چې رازرغون دی، ویلو ته اړتیا نه لري، تاسې تل د خپل وجدان دنده په ډېره ریښتینولي سرته رسوئ نن سبا له تمې او شخصي ګټې، هیڅوک د چا لاس نیوی نه کوي.

زه په تظاهر باور نه لرم، له تظاهر پرته وایم، چې ستا له رویې دومره اغېزمنه شوې یم چې، ستا د پاک نیت او سپېڅلتیا له امله، د پکتیا خلک خو څه چې د پکتیا ځمکه، کاڼي، بوټي او دښتې هم راته ګران شوي دي.

دا مې هم په زړه کې راجوړه کړه، چې ورته ووایم ته هم راته مهم او ګران شوی یې، خو هغه حیاناک شخصیت مې جرئت را صلب کړ، ومې نه شوای ویلی، یو نغښتی پیغام مې ورکړ، ځکه چې بلال هم پکتیاوالو کې راته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای ج هیڅ چېرې هم سړی ناهیلې نه پرېږدي، خپل مرسته کوونکي ورلېږي خو که موږ صبر وکړو او د پېښو په وړاندې وارخطایي مو د بې صبرۍ تر حده ونه رسوي.

********

د شپې یولس بجې شوې، یو کرولا ډوله موټرحویلۍ ته رادننه شو، پوه شو، چې نور له دغه ځایه د تګ وخت دی، مسول کس بلال ته  وویل:

ته مخې سیټ کې کینه، زه، مور مې او پلار مې هغه شاه سیټ ته رهبري کړو، فکر مو کړه چې، ځه نوره استودګي راځي، د پخوا په څېر په ژوندوني د تنګو قبرونو مسله پکې نوره ختمه شوه.

سیټو کې کېناستو، عقب نما کې مې وکتل د موټر ډیګۍ ته تنکي ځوانان  ولاړ ؤ، ټول د بلال په عمر خط او بریت ؤ، مسول کس هم یو، یو دغه ځوانان ډیګۍ ته ورخیجول او دوی هم په پټه خوله دغه تنګ قبر ته د ورتلو زړه ښه کاؤ شاه طرف دروندوالي د موټر ماشین طرف ورو، ورو راپورته کاؤ، یوه مسول کس د موټر ډیګۍ پورې کړه موټروان ته یې وویل:

نور حرکت کوه  شپږ کسان مې پکې ځای کړل، ددې خبرې په اورېدو، حق حیرانه شوم، ځان سره مې وویل:

دوی خو اوس هم د پخوا په څېر مسافرو ته له تنګو قبرونو نه دې تېر شوي، موټر حرکت وکړ او په لنډ وخت کې یې د خپلې تېزي سرعت خپل کړ، زما ټول فکر د دغو تنکیو ځوانانو سره شو، په فکر کې ډوبه شوم ځان سره مې وویل:

اخخخ اخېر دا هم انسانان دي په د صندقچې کې به څرنګه ګذاره کوي، دوی به څرنګه دغه تنګ ځای او تیاره وزغمي، زړه مې ورته څورېده، خو په وس کې مې هیڅ هم نه ؤ د دوی په اړه  فکر داسې کړم چې  خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان مې هم د دوی سره یوځای حس کاؤ داسې مې په فکر کې انګېرله چې زه هم ورسره یم او دا هرڅه تحمل کوم.

خو مجبوری وه څه مې نه شوای ویلای، یوازې دروني په زړه کې ویلې کېدم، ددغه خامو ځوانانو معصومې څهرې مې له سترګو نه وتې، موټر لاره لنډوله، له اته ساعت مزل وروسته ښکلې ودانی په مخه راتلې د ایران سیمه په ریښتیا چې ښیرازه وه، شنو ونو، سمسور باغونو رنګینو کورنو یې ښکلا د پام وړ ګرځولې وه.

له ښه مزل وروسته د یو لوی ښار څنډو ته د ننه شو، په کوڅو کې یې تاو، راتاؤ کړو بلاخره موټروان خپل موټر د یوه کور مخې ته ودراؤ، ویلې ښکته نه شئ، موټر چې کور ته داخل شي دروازه وتړل شي بیا به ښکته کېږئ، دروازه خلاصه شو، موږ دننه شو، چې دروازه یې وتړله په حویلۍ کې ښکته شو، حویلۍ لنډه انګړ درلوده، د یوه دېوال مخې ته دوه، درې ونې زرغونې وې، د ونو منځ کې ګلان کرل شوي ؤ، کوچنۍ کور پکې ودان شوی ؤ، دوه کوټې لاندې یوه یې په سر درلوده، اطاقو ته د ننه شو راته وویل شول همدلته به درې ورځې یاست، تاسې اوس په کرمان ښار کې یاست، له ذاهدان نه په کبه لاره راغلو، بل ګیم به درې ورځې وروسته کوو.

زه پلار او مور مې یوې کوټې ته ننه وتو، بلال او نور کسان بلې کوټې ته ننه وتل، د کور مسول وویل دویم منزل ته څوک ونه خیجي، تاسې هلته د ختو اجازه نه لرئ.

مور مې یو بالښت ته ډډه ووهله، سترګو ته مې وکتل په مخ یې شل ځایه اوښکې را روانې وې، پوه شوم چې د ځواني مرګ زوی ناشودی مرګ یې ځوروي او د هغه تشه دلته محسوسوي، خواکې یې کېناستم، ما هم زړه ورسره تش کړ، مور او لور دواړو ښه سره وژړل، نه کېدله انسان چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څومره د همت هڅه هم وکړي، بیا هم کمزوری دی، خپله کمزوري، نشي پټولی، خو هغه وخت مې زړه تکیه شو چې مور دواړو ته مې پلار د تسلي خبرې پېل کړې، ومې ویل څه د پلار حالت دې یو څه ښه شوی.

لږ وروسته مې پلار له اطاقه ووت، غوښتل یې بهر لاړ شي او مور ته د خوراک څه راوړي، خو د کور ساتونکي بهر نه پرېښود ویلې یې چې اجازه نه لرئ، پیسې مور ته راکوئ هر څه چې فرمایش راکړئ دلته یې درته رارسوو .

پلار مې یو چرګ ترې راوغوښت، څو ورځې مو څه نه ؤ خوړلي د ورور مرګ خو مو بیخي اشتها له منځه وړې وه له لوږې مو ذاتي نس له ملا سره نیښت، د چرګ له نوم سره مې یو څه اشتها پیدا شوه، مور مې هم ورته احساس څرګند کړ، لږ وروسته پوخ چرګ او ګرمې ډوډۍ مې پلار په لاسو کې نیولې وې، د څو سختو ورځو لوږو او تندو وروسته لومړۍ ځل یوې مناسبې ډوډۍ ته کیناستو، څو ګولې مې چې وخوړې، چرګ یې ډېر خوندور پوخ کړی ؤ، بلال مې سترګو ته ودرېده، ډوډۍ مې په ستوني کې ونیښته، مور مې ژر اوبه راته ونیوې، خو پلار مې بیا په نصیحت پیل راته وکړ ویلې لورې، وړې، وړې ګولې کوه، دا ډېر وخت مو بیسکیټ او اوبه څکلي دي، ددې ډوډۍ سره مو ستونی سم ندی بلد شوی، خوحقیقت بل ډول ؤ، زه یې په اصلي لامل پوه شوم.

د بلال مېړانې به د ډېر بې غیرته سړي هېرېدې، ښځه ذات وم او زمونږ په ټولنه کې نارینه له مېرمنو خلک غیرتي بولي، خو مامې په ډېرو نارینه ؤ خپل غیرت نه ورکاؤ.

نه پوهېدم څرنګه له چرګ نه یوه برخه وشکوم او په ډوډۍ کې یې ونغاړم له مور او پلاره یې پټه بلال ته ویسم.



(c) ketabton.com: The Digital Library



شاید په ښکاره هم زما مور او پلار زما په دې کار کومه نیوکه نه وی کړې، خو ما مې چاته چېرې دومره په اسانی خپل برید ماتاؤ.
ډوډۍ مې بس کړه، مور مې وویل ولې یې نه خورې ورته مې کړه ستونی مې خوږ شو، یوه وچه ډوډۍ مې راواخسیته له چرګه مې یو ورون او وزر وشکاؤ په ډوډۍ کې مې نغښت، د الماری په سر مې کېښوده دوی ته مې وویل زه به یې لږ وروسته وخورم.
لا مړه نه ؤم وګې وم خو د بلال لپاره مې خوراک لپاره بله پلمه نه لرله، مور او پلار مې ډوډۍ وخوړه، ښه ستړي ؤ، سرونه یې ایلا تر بالښتو ورغلل او ویده شول .
ما ژر تاو شوې ډوډۍ او چرګ راواخېست بهر ووتلم دهلېز کې ودرېدم د بلال د کوټې ور پورې ؤ ټک، ټک مې کړ، یو بل مسافر ځوان سر راښکاره کړ، ورته مې کړه بلال ته ووایه، دروازه یې بنده کړه لږ شیبه وروسته له وره، بلال سر راښکار کړ، د لاس په اشاره مې ورته بهر د راوتو وویل، هغه بهر راووت، فکر یې کاؤ کومه بله پیښه شوې وارخطا، وارخطا یې زما سترګو ته کتل چې کوم ناسم خبر به راځخه اوري، مخې ته مې چرګ او ډوډۍ ونیول ورته کړه ستا د ټولو ملګرو نه کېږي، پاس وخیجه ژر، ژر یې وخوره سوړ شوی به وي خو چې نور سوړ نشي.
چرګ او ډوډۍ ته یې لاس راتېر کړ، سر یې وخوځاؤ بیا یې لنډه مسکا وکړه، زه مې هم نوره کوټې ته ننه وتم.
وګې وم، خو مړه شوم، د لومړي ځل لپاره په دې حقیقت هم پوه شوم چې دا هم شونې ده چې ډوډۍ یو کس وخوري او موړ بل کس شي.
لاړم د مور خواکې اوږده وغځېدم، یو وخت مې سترګې خلاصې کړې، مازدیګر سترګه لوېدو ته نېږدې وه، مور او پلار مې په ګډه ځادره لمونځ کاؤ زه هم ژر پورته شوم مخ او لاس مې وکړه، په لمانځه مې زړه ارام کړ.
یو عادت مې لاره چې لمونځ مې نه قضا کاؤ، ډوډۍ مې قضا کوله خو نه لمونځ، خدای ج دې ښښنه راته وکړي ددې ناخواسته سفر یو زیان راته دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم، ؤ چې ډېرى وخت لمونځ را څخه قضا کېده، ځکه ماته سخته وه چې د نارینه ؤ مخکې مې اودس کولی.

ددې ځای دوهم سهار هم راورسېده د کور ساتونکي نه مې هیله وکړه چې ما بهر پرېږدي او لږ گرځم، ځواب یې دا و چې، ددې ځای لهجه دې نه ده زده، کوم څوک به دې وپېژني موږ به په کومه بلا کې واچوې، په هراتي ژبه ورسره لگیا شوم، زما یوه ټولگیواله د هرات وه، له هغې مې هراتۍ لهجه زده کړې وه هراتۍ لهجه له ایرانۍ سره ډېر توپیر نه لري، ایرانۍ هم راته حیران شو، ویلې، ته خو له موږ هم ښه پوهېږې ور یې راته چوله کړ، بهر اجازه یې په دې ژمنه راکړه چې تر نیم ساعت ډېر وخت به نه تېروې.

حجاب مې په تن کړ د ایرانیانو سره مې توپیر نه کېده، بهر ووتم، ښکلي نظافت لرونکي ماشومان مې مخې ته راتلل، د مکتب بکسې به یې شاته اچولې وې، یوه نیم سره خو به یې مور هم مله وه، تر څو خپل ماشوم مکتب ته ورسوي، ایرانیان هم موزونې ښکلې څهرې لري زیاتره یې زموږ د هزاره گانو پرمختللي ټیف ته ورته ؤ، گرد مخونه نسبتا غټې سترگې او پوزې یې له هزارگانو غټې وې خو ډېرې لوړې او اوږدې هم نه وې زیاتره یې ښکلي برېښېدل.

د ښار کوڅې یې په کاشیو پوښلې وې، هر څه پاک او ستره تر سترگو کېدل، دغه کوڅې مې د کابل د هغو کوڅو سره پرتله کړې چې ړنگې ړوچې له ښه کانالایزیشن څخه بې برخې دي. او کله کله خو د انسانانو په سرو وینو رنگېږي، بې واکه مې اسمان ته وکتل او دعا مې وکړه چې خدایه ج هغه لاسونه هم په خپلو وینو سره کړه څوک چې زموږ وینې تویوي او وطن مو ړنگوي، ومې ویل خدایه ج هغه خلک هم زموږ په سرنوېشت اخته کړې چې زموږ په شر کې خپل خیر لټوي، مخ مې واړاؤ، په یو سپین ږېري باندې مې نظر ولگېده د سړک په سر یې مېز ایښی ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیان یې خرڅول په کابل کې به موږ دغسې کار ته دست فروش اصطلاح کاروله، سپین ږېري هم د خرڅلاو شیان پرې کتار کړي ؤ.

د مېز په یو څنډه کې یې د تازه ګلانو ګېډۍ هم اېښې وې، زړه مې اوشو وایي خلم او د بلال مخې ته یې په دې هیله ونیسم، چې خوښ شي څکه ډېر غمونه یې زموږ لپاره وګالل او ور سره دا پیغام هم ورکړم چې موږ مو د لاسنیوي احسان مند یو، هیڅ وخت هم ستا دغه نیکي نه هیره ؤ، خو ځواني مرګ ورور مې سترګو ته ودرېده، غونی مې ځیګ شو، سترګې مې بې واکه راډکې شوې، دا کار راته مناسبه ونه برېښېده، د ګلانو ګېډۍ مې بېرته په مېز کېښوده.

ژوند هم عجیبه وي، که ته خفه یې او یا خوشحاله خو کول غواړي، چې ژوندی یې نو ژوند پورې تړلي کارونه به حتما کوي، که یې غواړي او یا هم نه، خو کولو ته به یې اړ یې.

ساعت ته مې وکتل درې پاوه تېر شوي ؤ، ځان سره مې وویل، اوس به ساتونکي څه درته وایي، په بېړه راتاؤ شوم په پنځو دقیقو کې مې تر دروازې ځان ورساوو، دروازه مې ټک، ټک کړه، چا خلاصه نه کړه، ځنډ شو بیا مې وټکوله، د ساتونکي په ځای بلال خلاصه کړه.

ورته مې کړه ساتونکی چېرې ؟

ـ هغه مو د خوراک توکو لپاره ولېږه.

ـ بیا خو کاشکې لږ ناوخته راغلې وای، ماویل ساتونکی به راته په قار شي.

ـ نو څه دې کول؟

ـ بس د پام غلطولو لپاره مناسب فرصت ؤ

ـ نو ماته دې څه راوړل؟

ـ راوړل مې خو بېرته پښیمانه شوم

ـ داسې څه دې اخیستل چې ته پرې پښیمانه شوې؟

ـ پرېده یې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زه نه پوهېږم چې پرون ستاسې د غرمني چرګ غوښې راکولو څخه په کومو الفاظو مننه وکړم او خدای زده، ترکېدلی وم که څرنګه په ټول ژوند مې دومره خوند له کوم خوراکه نده اخیستی ډېر خوندور چرګ ؤ.

ورته ومې خندل، بیا مې ورته کړه، عادي چرګ ؤ، خو په لوږه هر خوراک مزه زیاتوي .

هغه سترګې ښکته واچولې ویې ویل دا خوند به رانه په ژوند هم هېر نشي.

بې واکه مې له خولې ور ووتل ورته مې کړه، او... ډالۍ کونکي یې؟!

بلال، وشرمیده، رنګ یې والوت، غوښتل یې ځان خلاص کړي او هیڅ هم په دې اړه ونه وایي، خو مجبور ؤ بې ځوابه هم ځان ورته بد ښکارېده په نه زړه یې په پرې، پرې خبرو کې وویل:

هغه هم...

بلال د خپل اطاق په لوري وخوځېده .

زه هم د مور او پلار کوټې ته د ننه شوم.

په سبا یې زموږ دغه د پټ پټوني سفر بیا پیل شو له یوه ښاره بل او له بل ښاره بل ته مو سفرونو، دوام درلوده لومړی، له کرمان نه اصفهان ته او بیا تهران او له ترکیه سره مرز مهاباد ته په سختو ستونزه ورسېدو، ځینو ځایو کې به اجینټ له پولیسو سره جوړ جاړی کاؤ ډېره سختي به نه ؤه او ځینې ځایو کې به چې پیسو او واسطې کار نه کاؤ هلته به یې پټ د تیلو په ټانګونو، د کالیو ماشینو، د چرګانو لویو قفسونو منځ کې تېرولو، د کرولا ډوله موټرو ډاله خو عادي خبره وه چې درې څلور او له هغه هم زیات به یې پکې اچول، ددغو شیبو بیانولو لپاره، په نړۍ کې داسې الفاظ نه دي پیدا شوي چې بیان یې کړي، ځکه خو زه هم ترې تیرېږم.

لنډه دا چې خدای د دغسې حالت د چا په سپي هم نه تېروي، کوم چې موږ تجربه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهاباد کې چې ښکته شو، د کلي منځ کې یې یوه کور ته دننه کړو، ساده کور ؤ، خو پراخه حویلی یې درلوده، د حویلی منځ کې د ناکو او منو ونې ولاړې وې یوه لرې کونج کې یې دوه درې کوټې ابادې شوې وې، ماشومانو یې مخې ته لوبې کولې یوه نیمه مېرمن به هم د کور کارونو لپاره بهر او د ننه کېده د دروازې سره یې دوه کوټې لرلې هغه یې موږ ته وسپارلې، د دې سیمې د مېرمنو جامې زموږ د گران افغانستان خلکو په څېر وې پړوني به یې هم په سرول.

یوې کوټې ته سړي او بلې ته موږ مېرمنې ننه وتو زوړ فرش پکې پروت ؤ نري، نري توشکونه پکې هوار شوي ؤ د بالښتونو منځ برخه تورو خیرو نیولې وه، له یوه نیم نه خو به رنگه مالوچ هم راوتلي ؤ، کېناستو، د خېرو په اړه موږ هم نور بې تفاوته شوي ؤ، خپله هم په اونۍ او لس ور ځو کې د حمام کولو موقع په لاس نه راتله.

نوکان مې لوی شوي ؤ، د پرې کولو لپاره مې څه نه درلودل، یوازې منځونه مې په خلیو پاکول، چېرې به مې چې اوبه پیدا کړې، که یو ساعت مخکې به مې هم مخ او لاس مینځلي ؤ بیا به مې پریمینځل.

همدلته مېشت شو او غرمه هم راورسېده، د کور واله، یوه وچه ډوډۍ او یو خام سور بانجه د نفر په سر را وویشل!

لږ وروسته اجینټ هم راښکاره شوو، هغه وویل نن ماښام گیم دی، څلور ساعته به موټر کې مزل کوو بیا به د ترکې سرحد ته رسېږو، هلته به دمه کوو او د شپې دوه بجې به د ترکې له سرحد نه اوړو.

ساعتونه ژر، ژر پوره کېدل ماښام راورسېده، موټرو ته وختو، له څلور ساعته مزل وروسته دې یوه غره لمنې ته ورسېدو، یو ساعت مو موټر نوره هم په پټو څراغونو لاره لنډه کړه، ځکه له ترکې عسکرو وېرې شتون درلوده بلاخره د غره هغې برخې ته ورسېدو چې موټر نور پکې مزل نشو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای، غر له ګڼو ځنګلونو غني ؤ، د غره په بېخ کې مېشت شو، لرې، لرې د ترکې، د برېښنا څراغونه لېدل کېدل.
د هغو رڼاګانو سره زما زړه هم رڼا کېده، یوه هیله مندي یې راسره پیدا کوله، ویل مې چې اوس مو سختی ذاتي پای مومي، نور له هر ډول ګواښونو ژغورل کېږو، ترکې ته اوړو سبا به په ترکیه کې یو، خو دا چې د ترکې له مرزه د تېرېدو به مو تقدیر څه لیکلي وي په هغه مور هم نه پوهېدو، د یوه ارامښت په انتظار ؤ، ځکه ډېر ستړي شوي ؤ.
کابل کې مې ترکي سریالونه په تلوېزیون کتل، خلک یې ډېر با فرهنګه، مالومېدل، بل دا چې زیاتره یې سني مسلمانان دي زما هم د ترکې خاورې لیدو ته تلو تلوسه وه .
د شپې دوه بجې راورسېدې، بې ډوله او بې ثلیقې درې ایراني کسان راسره شول، په لاسونو کې کړیو او د غاړې ځنځیرونو یې هېڅ خوند را نه کړ، مور ته یې وویل اوس حرکت کوو هېڅوک باید له لاسي ګروف او رڼا څخه کار وانه خلي، حرکت مو باید ډېر خاموشه وي، خبرې بندې دي، که خبرې کوی هم یو بل ته په غوږ کې وغګېږئ، ترکې سرتېري خپل سرحدونه ډېر کلک ساتي، دلته واسطه ډېره کمه او ناشونې ده، ترکان سر بایلي خو وطن ساتي، که لږ هم شکمن شي، نو ځانونو ته خپله قبرونه وباسئ سیمه دربانديې سور اور کوي.
له دې تشریح سره د ترکانو عثماني خلافت رایاد شو، د اسلام او خلافت ساتلو لپاره د ترکانو قربانۍ رایادې شوې کومې چې ما د ترکې تاریخ په یوه ژباړل شوي کتاب کې لوستې وې.
ومې ویل ترکان په رېښتیا هم یوازې د ویلو نه بلکې د عمل خلک دي.
حرکت پیل شو، درې تنه ایراني یو مخکې دوم د قطار منځ او درېیم یې اخر کې موقیعت غوره کړ، خو د دوی په هر قدم او رفتار کې یې کچګي له ورایه ښکارېده، ما او مور مې د سفر له پیله ځان ښه په حجاب کې پېچلی ؤ، ازبکې ته مې هم ددې کار سپارښتنه وکړه، هغې ومنله خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ایراني ډوله جامې کړې وې، حجاب يې نه درلوده، مجبوره وه په هماغه کاليو کې لاړه شي.

په ښنو مو مزل پيل کړ په ځنگلونو کې مو د تريخ، بې خونده او خطر ناک سفر لاره لنډوله، په لاره کې څو ځايه د قطار د منځ برخې ایراني د ازبکې سره اوړه وجنگوله، ما هم دغه کار د سترگو له کونجو څاره، په دریيم ځل هغه اړه شوه خپل ورور ته ووايي:

ورور يې ایراني اجينټ ته په غوصه شو او له گرېوانه يې ونيو، خو په عوض ددې چې ایرانی وشرمېږي او خجالت شي، د ازبکې د ورور لاس يې څنډه واهه گرېوان يې ځينې خلاص کړ، ازبکې ته ورغی هغه يې په غېږ کې ونيوله، په زوره يې دوه درې مچکې ترې واخيستې.

وروسته يې چاقو راوباسه، ازبک ته يې وويل:

اوس غواړې دلته دې کولمې وباسم، دا افغانستان نه دی، دا ایران دی، دلته زموږ امر چلېږي، په دې لارو کې چې راځې ناموسي غيرت به دې خپل وطن کې پرېږدې، که دې بل حرکت وکړ، کولمې دې باسم، تياره کې ټيټه شوم، يوه گرده درنه تېږه لاس ته راغله خو ازبکې او د ازبکې ورور له ما مخکې تېږې په لاسو کې وې د ایراني له دې خبرې سره يې د ازبکې تېږه په اوږه ولگېده، بيا يې ورور پرته له دې چې فکر وکړي ایرانی په کوم ځای وولي وار يې پرې وکړ، د هغه د سينې ډب او زگېروي پورته شو، د سړي ساه يې ور بنده کړه کيناست، ازبک په بيړه ورغی لاس يې په تاؤ کړ چاقو يې ترې واخيست، د هغه په خپل چاقو يې د وهلو لاس پرې اوچت کړ، د هغه د پلار غږ مې واورېده، ويې وهه، سر ترې پرې کړه، خو بل لاروني يې لاس ونيو ويې ويل که دلته مو نور هم غږ پورته شي د ټولو د ژوند په بيه به راته تمام شي دوه ایرانيان د کتار له سر او اخره هم راورسېدل، هغوی زارۍ پيل کړې، ويلې، ډېر د خطر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای دی نور له دې کاره تېر شئ، که ترکي عسکر مو شور واوري دا سیمه به راباندې سور تنور کړي او دا کار به د ټولو د ژوند په قیمت تمام شي.

ګواښ وشو او جنګ خلاص شو، خو زما تېره لا هماغسې زما په لاس کې پاتې شوه کنه په ککرۍ د ویشتو مې ایراني ته اراده وه.

د مزل لپاره بېرته زمینه برابره شوه او په غرونو کې مو یو په بل پسې ګامونه اخیستل، ازبکه ډېره ډاره شوې وه زما د ملا کمربند یې نه خوشې کاؤ، غبرګه راسره روانه وه، زموږ د منځ برخې قاچاقبر هم بدل شو، شاته لاړه، شاتنی کس همدلته راغی تیاره وه خو د مخکې کس په پلونو مو لیکه جوړه کړې وه، ځینې ځایو کې خو لاره دومره باریکه وه چې په خاپوړو مخته تلو، یا به هم چې ښکته کېدو په کونوړې به ښوېدو، ځکه چې د لوېدو چانس ؤ پاڼونه ؤ، کندې وې ډېرې لوړې او ژورې پکې وې، کله، کله خو به زما پښه وښوېده یو متر به وځکېدم.

ازبکې کمک کاؤ چې لوېدو ته به کږه شوم هغې به مې تیار لاس نیولی ؤ له لوېدو به یې وژغورلم.

درې ساعته مو مزل وکړ د ترکې سرحد ته بیخي نږدې شو، زموږ د کمبختي له لاسه خدای خبر، له کوم ځایه مو ترکي پوستو ته څرک ولګېده، په موږ یې ډزې پیل کړې، مور او ازبکې ته مې پام شو دواړه لکه پاڼې رپېدې .

زما هم طاقت نه کېده، د ایران نه د را اوښتو وخت یې راته یاد کړ، زما ورور چې مرمۍ وخوړه، د هغه وینې مې یاد شوې، سخته په ډار کې شوم، فکر مې کاؤ که مې کوم د کور غړی دلته رانه ولګیږي، زه به څه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه دقیقې مو په سرو مرمیو کې مزل وکړ، کله منډه او کله په ملا ماتي تګ کې د غره سر ته ورسېدو له لږ مزل وروسته مو غر زموږ او دوی تر منځ سېمتي دېوال شو، ښکته لور ته په حرکت شو د مرمیو له اصابت مو سرونه پنا کړه.

موږ د غره بېخ ته ورسېدو خو بیا هم ډزې نه کرارېدې، د غره بېخ کې د دمې لپاره سره را پنډ شو، د اجېنټ ټلیفون وشرنګېده، غګ يې پورته ؤ،ورته وویل شول چې له ستاسې مخکې سل کسیزه ډله د مرز نه دې تېرېدو په مهال د ترکي عسکرو د کمین سره مخ شوې، ډزې پرې شروع دي، دوی اوس تیت او فرق شوي، بېرته در روان دي، تاسې راتګ ته زړه مه ښه کوئ.

ټنډه مې ووهله، د خپلې بدقیسمتي مې وویل:

ازبکې جلۍ وویل مه نارامه کېږه، څوک پوهېږي په دې کې به مو خیر وي، ورته مې کړه د پلار مې شکر دی دوه ورځې کېږي انسولین ستنې یې خلاصې شوې دي، مور مې هم نیمه پاتې نشوه غوښین مخ یې هلهوکو پورې وچ شو، هسې نه چې په پلار مې څه وشي.

وېې ویل:

رب ته به ځان سپارو بله چاره نه لرو.

اجېنټ راغی وې ویل ګیم کنسل شو، د تګ لاره بنده ده، ترکي عسکر چې یو ځل راووځي، بیا څو ورځې په هغه لاره کې تم کېږي تر سهاره به دلته یو چې لږ رڼا شي بېرته خپل ځای ته ځو بله لاره به هلته وټاکو.

تر سهاره مو شپه رڼه سبا کړه کله مو چې یو بل ولیدل، ډله ډله مسافر راغلل د ځینو خو جنازې په اوږو وې ځېنو خپل ټپیان په شاه کړي ؤ یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس مې ولیده په سیم خاردار کې یې خوله بنده شوې وه، تر غوږو څېرې وه، شونډې پسې څړېدې، توبې مې وباسلې .

ټول افغانان ؤ، له یوه دوو مې اردو هم پکې واورېده، د افغانانو په حال مې افسوس وکړ، د ښکلي ښکلي، ځوانانو جنازې په اوږو وې، په چوپه خوله یې د ملګرو غم ژړا، ځینې پکې نګوښېدل، پښه به یې په څیره ترلې وه، پایڅه خوله به یې په وینو لړلې پسې ښکېده .

موږ همدوی ته او هم خپل ځان ته د زړه وینې خوړلې، دعا مې وکړه یا ربه هغه څوک چې موږ او دغه ځوانان یې د خپل ګل وطن پرېښودو ته اړه کړي خدایه پاکه یې تبا کړې، بیخ او بنیاد یې وباسې، خپل اولادونه یې همداسې خوار و زار کړې، لکه موږ یې چې خوار او زار کړي یو.

له مخته تګه مو تمه پرې شوه، اړ ؤ بېرته په شاه حرکت وکړو، ځنګلونو کې روان شو په بېرته تګ کې مو یو نیم هغه ژور ځای هم ولیده چې موږ پرې د شپې تېر شوي ؤ، که له دې ځایه لوېدلي وای ټوټې به مو هم چا نه وې را ټولې کړې، خو ښه وه چې د شپې پرې تېر شوي ؤ او ژور والی مو نه لیده، قاچاقبرو هم نه راته ویل چې دغه ځایونه ژور دي احتیاط پکې کوئ، هغوی هم ملامت نه ؤ، څه یې کولو، د پردی مور اولاد ؤ.

قاچاقبرو بېرته هغه کور ته ورسولو له کوم کوره مو چې په دې لوري حرکت راکړی ؤ په تلو کې یې مخ راواړاؤ ویې ویل:

سبا په نوې لاره ګیم دی مازدیګر حرکت کوو چمتو اوسئ.

همدلته دمه شو، شپه راغله، خو ټوله شپه مې پلار ویښ ؤ هر نیم ساعت وروسته به تشناب ته ووت، سهار مې د هغه ستونزه مور ته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور مې وويل د پلار د شکر جگ شوی او نن يې درېيمه ورځ دی چې د شکر انسولين ستنې يې خلاصې دي، هغې وويل چې که انسولين ستنې ورته پيدا نشي کېدای شي بې هوښی ته لاړ شي او د مرگ لامل يې شي د مور له دې خبرې سره سخته وارخطا شوم.

ومې ويل که په پلار مې خدای مه کړه څه وشي نو، مورې به څه کوو؟

ژر بهر ووتم بلال لمر ته ناست ؤ کوچنی جان پاک يې ويښتانو ته نيولی ؤ وچول يې، تار، تار ويښته يې په غومبرو راپراته ؤ مخ يې سور او سپين ځلېده، غټې سترگې يې صابون تکې سرې کړې وې، زما په لېدو وشرمېده، د مخ کومه سرخي يې چې وه هغه هم وتښتېده ژر يې دسمال شاته ونيو، هڅه يې کوله حمام کول له ما پټ کړي، پکتياوال په ريښتيا ډېرحياناک خلک دي، شايد دغه کار يې هم دې ډېرې حيا له کبله کاؤ زما په ليدو لږ ټکنی غوندې شوه، وې ويل ليمې خيرت دی؟

ـ د پلار شکر مې جگ شوی، که په بېړه يې پيچکاري پيدا نه کړو، وضعيت يې خرابېږي؟

ـ خو مخکې به دې ويلي ؤکنه ؟

ـ پلار مې غلطي کړې، مورې اوس پرې پوه شو!

ـ ته انديښنه مه کوه، زه يې پېدا کوم.

بلال ته مې د ستنو ډبی د نښې په ډول ورکړ او له څلور ساعته ځنډ وروسته هغه د انسولين پيچکاری زما مخکې ونيوې، ويې ويل دوه ساعته مزل له دې طرفه او دوه ساعته له هغه طرفه مزل سره مې ايله په دې توانېدم چې پيچکاري تر تاسې راورسوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستنې مې ترې واخیستې، ځینې خلک چې ښه در سره وکړي، نو مننې ویلو ته په تمه وي، خو بلال ژر بېرته روان شو، تر څو وخت ونه وځي او ستنې مې پلار ته ورسوم، غږ مې پسې وکړ بلاله!

مخ یې راواړاؤ د مخ سورخي او سپيين والي يې گردو پټ کړی ؤ، زړه مې پرې وسوځېده، لکه څه مې چې کېږي، ورته مې کړه!
موږ خو مرگ لرو کنه؟!
ـ هو ولې؟
ـ ستا ښېګڼې به په ځنگدن کې هم راته يادې وي، ستا احسانونه به هېڅ وخت رانه هېر نه شي.
ـ سرې شونډې يې ويړې شوې، د هغه مهينو سپينو غاښونو کې ډېرې جالبې ښکارېدې، راته يې کړه هغه نو کوم ښه دي چې د احسان سره يو ځای وي، ښه بايد بې احسانه وي.
ـ زړه مې درته دعا کوي تاسې څو ځله زموږ د کورنۍ ژوند وژغوره.
ـ که ستاينه مې ختمه شوې وي پيچکاري د پلار ته ورووړه کنه حالت به يې نور هم خراب شي .
هغه نور روان شو خپله ستاينه يې نه خوښېده!
کوټې ته ننه وتم، مور مې په يوه ژور غمجن فکر کې ډوبه وه، پلار مې هم تازه له تشنابه راغی، راته يې کړه، موږ به دې اوس پلار په لوی لاس ووژنو .
د پلار څهرې ته مې وکتل سترگې پکې ننه وتلې وې، په ملا هم څه کړوپ شوی ؤ رنگ يې بيخې خاسف مالومېده.
مور ته مې چې د شکر پيچکاری ونيوې، ښکته او پورته يې راته وکتل بيا يې وويل:
دا خوب او خيال دی، که ريښتيا دي ؟
ـ ريښتيا دي مورې!
ـ له کومه دې کړې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس دلته یو زلمی دی چې خوبونه هم ریښتیا کوي، پکتیاوال زلمی، د خپلو نېکوونو په پلونو قدم اېښودونکی زلمی، مورې بلال یادوم.
مور مې ستنې په ځمکه کېښودې او دواړه لاسونه یې لپه کړل، د زړه له تله یې د هغه لپاره د ښېرازه ژوند غوښتنه وکړه او ما هم پرې امین ووایه.
پلار ته مې مور ستن ورکړه، پاتې یې په یوه کوچني ترموز کې په یخو اوبو کې واچولې همدا ترموز مو له ګران هېواد افغانستانه ورسره راوړی ؤ، یو ساعت وروسته مې د پلار د مخ سپیره والی ورو، ورو په ښه کېدو شو.

نه تشناب ته، ته او نه یې هم ډېرې اوبه چکلې.

تر مازدیګره بیخي هغه د چا خبره مزل ته برابر شو.

د ګیم وخت هم راورسېده له نوموړي کوره ووتو او د اوو ساعت پرلپسې مزل وروسته هغه ځای ته ورسېدو چې د ایران او ترکې د دېوال تر منځ د مترونو فاصله وه.

دلته یو خوړ تېر شوی ؤ هغه خوا د ترکې دېوال ؤ، د ایران له خوا یو اوږد نل د اوبو لپاره تېر شوی ؤ دا سیمټي نل د انسان د تنې پنډوالي نه لږ لوی ؤ د ایران له ځمکې ترکې ځمکې ته پکې اوبه تلې، زموږ نماینده وویل یو، یو په همدې نل کې ننه ؤځی، نل د ترکې له دېوال هم تېر شوی بس چې ووتی نو هغه خوا ترکیه ده خو که ونیول شئ، نو داسې به نه ورته وایئ چې موږ قاچاقبرو راوړو، ځواب به مو دا وي چې خپله په دې لاره راسیخ شو.

د شپې یولس بجې دي پر نل یو، یو ننه وتو، سخته تیاره وه، تګ هم پکې بیخي سخت ؤ نېږدې شل متره اوږدوالی یې درلوده، زما نوبت راورسېده، چې ور داخله شوم، تکه توره تیاره وه له یوې خوا د شپې تیاره له بلې خوا ددې نل خپله تیاره د بلې خوا د نل تنګوالی، نفس راتنګ کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو بیا مې هم خپل همت وساته حرکت ته مې پکې دوام ورکړ لکه ماهي پکې وخوځیدم، په ډېره سختی ترې ووتلم.

بلال ازبکه مور او پلار مې هم په نوبت ترې سرونه راوباسل.
بکسونه مو ډډې ته کړل او مخامخ مو حرکت پیل کړه، زړونو مو هوا کوله، ویل مو په رېښتیا هم ذاتي له ستونزو وژغورل شو، نور به د مرګ ګواښونه او د مرمیو بارانونه نه وي .
یو، دوه کیلو متره مزل مو وکړ دومره مخ ته لاړو چې نېږدې سړک د موټرو شور مو هم تر غوږو راته.
هر قدم اخېستو کې مو حوس پیدا کېده او د خوښیو خیال مو ځواکمن کېده .
خو خبر نه ؤ چې د راوښتو سره د لګېدلیو امنیتي کامرو څخه څارل کېږو، څو قدمه مخکې چې نور هم لاړو د پلار او بلال په اورمېږو ترکی عسکرو د ټوپک شپیلۍ کېښودې، له دې پېښې سره مو هیلې بېرته مړاوې شوې، ومو ویل موږ هسې هوس کاؤ، هغه له سرابه مو د تندې د لرې کولو هیله درلوده، ترکي عسکرو لکه د مېږو ګله رانه جوړه کړه، نارینه ؤ ته یې لاسونه ور وتړل، په یوه لوري یې روان کړو، یو پاؤ مزل به مو کړی وې د پولیسو یوې حوزې ته یې ننه کړو موږ مېرمنو ته یې وویل:
تاسې هغه کانتینر ته لاړې شئ، زېړ اوږد کانتینر له دوی سره په سل متري کې ایښی ؤ یوه مېرمنه راته مخې ته شوه عسکری جامې یې په تن وې،موږ یې تر کانتینره ورسولو، نارینه یې په هماغه میدان کې کینول موږ کانتینر ته ننه وتو، یو دوه چپرکټونه پکې ؤ، یوه طرف کې یوه دراز چوکۍ هم اېښودل شوې وه، د هغه لپاسه کیناستو.
کانتینر یوه شیشه یي کړکۍ هم لرله له هغه کړکي مو زموږ نارینه لیدل، سره ددې چې له موږه څخه یو سل میتره لرې ؤ.
ماسره مې د پلار او بلال په اړه ډېره اندېښنه وه چې له دوی سره به ترکي پولیس څه کوي له ښیښې مې سترګې نه باسلې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکي عسکرو، د دوی په وړاندې خپل پلان شوې کړنې پیل کړې!

یو، یو کس یې راوست لومړی به یې ښه تلاشي کاؤ، پیسې موبایل هر څه به چې ورسره ؤ هغه به یې ترې اخېستل، بیا به یې کمیس ترې وویست، له هغه وروسته به یې پتلون ترې وباسه بې ادبې معاف یوازې نېکر به یې پکې پرېښود.
دا ټول شیان یې یو ځای جمه کول، لویه کوټه(ډمبار) یې ترې جوړه کړه، اخر کې یو چاغ پوخ سړی پاتې شو، هغه یې هم مخې ته ودراؤ، نور کسان یې لپ لغړ په یوه نېکر کې یخ ته درولي دي، په چاق پنډه سړي باندې یې کمیس وکېښ، وروسته یې ورته وویل پتلون هم وباسه.
هغه پتلون نه باسه، ترکی عسکر راغی یو کیبل ورسره ؤ سړی یې ملا ته دوه کیبله وواهه.
شور یې راته په ترکي ورته غګېده حتما یې همدا ورته ویل چې پتلون وباسې، کنه نور یې هم وهي، سړی پتلون وباسه خو ملامت نه ؤ چې د پتلون له باسلو یې انکار کاؤ، ځکه چې نېکر یې نه درلوده، ترکي قومندان او نورو چې ورته وکتل، ټولو په یوه وار وخندل، لپ لغړ کسان له یوې خوا یخ لړزول، له بلې خوا د هغوی هم خندا نه ورته درېده، ما ته هم دلته په کانتینر کې خندا راغله ښه په کړس ،کړس سره مې خندل مور مې راته وویل:
لورې دا څه کوې ؟ لکه چې لېونۍ شوې، مال مورې بهر ونه ګورې سړي قیامت جوړ کړی غمجن او ښادمن ټول ورته خاندي!
ترکي قومندان خوله، له خندا ډکه وه، په ژبه یې نه پوهېدم خو د لاس په اشاره یې پوه شوم چې ورته ویل یې له پتلونه دې هم تېر یو، خو اوس یې ژر پورته کش کړه .
لږ وروسته د کالیو، موبایلونو، پیسو او بیګونو له انباره لوګي پورته شو، هرڅه ته یې اور ورته کړ نارینه کتار ولاړ دي لوڅ لپړ، له نېکر پرته یې بل هیڅ څه هم په تن نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ډېر لوکس فوځي موټر را د ننه شو!

قومندان او نورو سرتېري ورته په بېړه پورته شول سلامي يې ورته وکړه، فوځي موټر زموږ د کانتينر په لوري را روان شو، خواکې مو ودرېده .

په يوه فوځي يونيفورم کې يوه مېرمن ترې ښکته شوه دوه نورې سرتېرې هم ورسره وې، مېرمنې تورې عينکې په سترګو وې خدای ج شته پوزيشن يې سخته خوند راکړ، ځان سره مې وويل زموږ وطن چې دا ډول پرمختګ ته رسېږي او د يوه ښه نظام څښتن کېږي، تورې مرغۍ به سپينې او سپينې به تورې شوې وي، زما سوچ د دوی په راننه وتو پرې شوه دوی ټولې زموږ کانتينر ته را دننه شوې، يوې مېرمنې په دري ژبه موږ ته وويل:

زه عايشه نومېږم، د افغانستان يم، دلته دوی سره د ترجمانې په توګه کار کوم، مېرمنه غواړي له تاسې پوښتنې وکړي؟

زما مور د افغان ترک له ليسې فارغه شوې وه له عايشې يې مننه وکړه ورته يې کړه زه کولی شم په ترکي ژبه له دوی سره وغږېږم.

ـ اه..، تاسې ترکي ژبه زده ده

ـ هو

ـ ولې نه، خبرې ور سره وکړه، زما کار به هم اسانه شي.

ـ مور مې ترکۍ مېرمنې ته سلام واچاؤ .

زه په ترکي ژبه نه پوهېدم خو دلته د مور له قوله ليکل کوم.

فوځي مېرمن، حيرانه او بيا مسکۍ شوه، ويې ويل ترکي ژبه د چېرې زده ده ؟

مور مې ځواب ورکړ د ترکانو په کمک يوه ليسه په کابل کې شته افغان ترک ليسه نومېږي هلته مې درس ويلی دی.

فوځي ترکۍ خوښه شوه ويې ويل :

ويلی شئ ولې مو دلته د راتلو خطرناکه لاره وټاکله؟.

ـ مجبورؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د څه مجبورۍ مو لرله؟ هم ځان ته کړاؤ  ورکوئ او هم موږ ته کړاؤ جوړوئ.!

ـ میرمنې، زه هم په دې افسوس کوم چې موږ افغانان تاسې ته  ولې بار، بار د کړاؤ سبب کیږو، خو بیا هم خبره تر مجبوري رسیږي.

ـ د مجبوري لامل راته ویلی شې؟

ـ زه ډاکتره یم لوړې زده کړې لرم، په افغانستان کې مې په خپل مسلک کې ډیرو ته تن نه ورکاؤ ښه کار مې جوړ ؤ، د ځان او کورنۍ ساتنه خو څه کوې، دوه بې وزله نورې کورنۍ مې هم له ځان سره ساتلې.

بس ظالمانو حلقه راباندې تنګه کړه، باج به یې رانه غوښته، دوه ځلې خو یې هغه پیسې رانه واخیستې کومې چې ما ګټلې وې په درېیم ځل مې نه ورکولې او نه راسره وې، د اولادونو د اختطاف یې راته اخطارونه راولیږل، اخیر مجبوره شوم، ډیره مجبوره، کنه څوک خپل هیواد پریږدي، د چا له هغه هیواده زړه کیږي چې هلته یې خاپوړې کړې وي، که ته زما په ځای شې او له داسې ګواښونو سره مخ شې نو ایا ته به ورته اقدام ونه کړې؟

ته به د خاپوړو وطن پرېښودو ته اړه نه شې ؟

ما مې په لاره یو ځوان زوی وبایله، راته ځوانۍ مرګ شو، بې غسله او بې جنازې مو خښ کړ، زما د زړه ټوټه رانه بیله شوه، ایا چې سړی ډېر مجبور نه وي دا خطرناکې لارې په ځان مني په ځان د چا لوریږي چې د مرمیو په باران کې یوه غره ته پورته کیږي او له بل کوزیږي، بلاخره پای یې هم دا شي عسکر یې ونیسي، لپ لغړ یې کړي او په یوه نېکر کې یې ودروي او بیا یې بېرته په هغه لاره وشړي په کومه چې راغلی وي،.

فوجي مېرمنې موږ سخت مجبور شوي ؤ او دلته ستا په مخ کې چې ولاړ یو دا له مستي نه یو ولاړ، بلکې له مجبوري ولاړ یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فوځي مېرمن سترګې له اوښکو راډکې شوې، عینکې یې له سترګو لرې کړې، په دسمال یې اوښکې پاکې کړې، خو خبرو ته غوږ وه، زما مور هم لا هماغسې په خبرو لګیا وه ویې ویل خاوند مې هم عادي سړی نه دی د پوهنتون استاد دی، د هغه لپاره هم خطره وه یو ځل تېپي شوه خو خدای ج راته روغ کړ، ایا دویم ځل مې هم همداسې ګواښ ته پرېښی وای. ؟

پوهېږم ترکان سخت هېواد پال خلک دي، خو زه هم د خپل هېواد په پاللو کې له ترکانو کمه نه وم، یو هېواد پال انسان چې وطن پرېږدي ته یې حد ټاکلی شي چې هغه به څومره اړ وي، هیڅ بله لاره نه وه راپاتې، پرته له دې اقدامه چې ستا په مخ کې ولاړ یو.

ترکۍ مېرمنې د ژړا په وجه د سترګو له کونجو وتلي رانجه په خپل دسمال پاک کړل بیا یې ووېل خاوند د هغو خلکو کې دی ؟

ـ هو

ـ نوم یې څه شی دی ؟

ـ استاد زلمی

ترکۍ ترجماني ته وویل ددې پوستې قومندان ته ورشه ورته ووایه چې، زلمی ځان سره وساته نور خلک ولېږه، ترجمانې راته سترګه ووهله مانا یې دا وه چې کېدای شي تاسې سره مشره مرسته وکړي او واپس مو ونه لېږي.

مور ته مې وویل موري!

هغې ښکلې سترګې راپورته کړې د خپل ځان د مظلومیت کیسې کولو ته یې خپله هم سترګې سرې شوې وې، ورته مې کړه:

خیر دی ورته ووایه چې هلته د بلال په نوم مې یو زوی هم دی

ـ کوم بلال ؟

ـ ولې هغه چې ستا مېړه یې له مرګه بچ کړ او څلور ساعته د شکر په ستن پسې ورک ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ مور مې ټنډه ووهله، بیا یې فوځي مېرمنې ته وویل خاوند او بلال زوی مې هم هلته دي.
فوځي مېرمنې زما د مور خبرې په اورېدو، ترجمانې ته وویل قومندان ته ووایه چې بلال هم وځنډوي نور کسان ولېږئ.
ترجمانه لاړه او مور ته فوځي مېرمن سمه معجزه شوه، خو لا مو هم سم باور نه کېده چې فوځي مېرمن مور سره څه کوي او له دې کاره یې موخه څه ده!
فوځي مېرمنې مې، مور ته وویل:
سخت زړه مې دربادنې وسوځېده، او دا لومړی ځل دی چې په غیر قانوني لاره یو څوک نیسم او زما له عذابه بچ پاتې کېږي، ځکه مور ته لومړی ترکیه دی بیا انسانیت.
خو نه پوهېږم زړه مې ولې دومره نرم شو او له سخت زړه مې اوښکو تویلو ته اړ کړم.
پوهېږم دا کار مې نه یوازې له وطن سره خیانت دی، بلکې ماته هم په یوه لوی خطر تمامېدای شي، ځکه زه چې څه کوم هغه غیر قانوني دي، زه په دې نه پوهېږم چې، ولې نن په قانون پښه ږدم او د زړه خبره مې منم، خو نن دا جوارگري خامخا کوم.
مېرمنې، فوځي خولی په مېز کېښوده خبرو ته یې دوام ورکړ.

زه ددې سیمې د سرحدونو نظامي مشره یم او ددې حوزې قومندان هم زما ورور دی، پوهېږم که لوړ مقامات زما په دې راز پوه شي چې ما له تاسې سره مرسته کړې او په خپل موټر کې مې له سرحد را دننه کړي یاست نو دنده مې ځنډېږي کېدای شي بندخونې ته هم ولېږل شم.
خو بیا هم دغه کار کوم، هڅه کوم څوک خبر نشي، شونډې یې بیرته شوې مسکا یې وکړه بیا یې وویل ځان ته ښه چانس.
مور مې د هو، په دود ورته سر خوځاؤ بیا یې په داسې حال کې په دعاؤ لاس پورې کړ چې له سترگو یې د خوښۍ اوښکې توېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمانه راغله، د امر د تعمیل ډاډ یې ورکړ

فوځي مېرمنې ترجمانې ته وویل:

هغه دوه کسانو ته د جامو غم وخورې، کله هم چې چمتو شول بیا احوال راکړه، لږ شیبه وروسته یې، د هغوی چمتو والي غږ هم واورېده .

د بهر راتلو یې راته وویل:

کانتینر ښه ګرم ؤ، غوږونه مو پکې تاؤده ؤ، خو بهر هوا تونده یخه وه سم نیښ یې لګاؤ، موږ ټول د مېرمنې په موټر کې کېناستو له لږ مزل وروسته د یو کوچنۍ ښارګوټي څنډې ته راورسیدو، ویې ویل دلته مو ښکته کوم، باقي مو خپل کار دی ترکیه کې ژوند درته جوړوئ او که له ترکې وځئ خپله خوښه مو ده خو د نن نه پس که د کوم نظامي پوښتنو سره مخ شوئ، نه ما لیدلي یاست او نه مو زه لیدلې یم.

هیله ده زما په پیغام پوه شوي یاست!

مور مې ورته وویل:

که څوک مې غوښې هم په امبور کې ونیسي نو ستا لخوا به ورته ونه وایم، ډاډه اوسئ، افغانان احسان فراموشه خلک نه دي!

هغې زما د مور په غوښین مخ لاس تېر کړ، ویې ویل ستاسې د غیرت کیسې مې اورېدلې، افغانانو د تاریخ په یوه پړاؤ کې له موږ سره نه هېرېدونکې همکاري کړې ده، له دې خبرې وروسته یې زما مور سره مخ پیوند کړ او موږ نور له موټره ښکته شو.

یو ځای کې د لویو بسونو هډه وه هغه ځای ته مو حرکت وکړ،لږ شیبه وروسته هلته ورسېدو، یوې ګوښې ته کیناستو، ډېر وګي شوي هم ؤ، مور مې یو څه د خوراک لپاره راواخیسته، ځکه په ترکي ژبه پوهېده له خوندور خوراک وروسته مو لوږه، ختمه شوه، قاچاقبرو په ایران کې موږ ته یو سیم کارټ راکړی ؤ، ویلې چې ترکې ته واوښتی په دې شمېره به زنګ وکړئ، زموږ نفر درته راځي، خوشبختي مو په دې کې وه چې سیم کارت مو د مور سره ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د پلار یا هم بلال سره وایي، نو په اور کې سوځېده، مور مې هغه راواخیست، زنګ یې پرې وکړ، کس رخ شو، مور مې موقیعت ورته وښود، یو ساعت لا نه ؤ وتلی چې، موټر مو مخې ته ودرېده،موټر ته وروختو بلال هم راسره ؤ، نور بلال، لکه زموږ د کورنۍ غړی داسې شو.

کله، کله به مې چې د سترګو له کونجو ورته وکتل، ده بیچاره ته به هغه د ترکي عسکرو د جامو ویستلو حالت ور په یاد شو، وبه شرمېده او له ځمکې سره به یې سترګې وګنډلې.

دې ترکي قاچاقبر یوه کور ته بوتلو، کور وړوکی ؤ خو په ښکلي ډیزاین جوړ شوی ؤ ځلور اطاقونه یې درلودل بس همدلته میشت شو:

له تلو مخکې قاچاقبر وویل:

دلته به درې ورځې یاست دا ځای امن دی، حالات چې ګیم ته چمتو شول نو بیا احوال درکوو، شپه مو په ارام تېره کړه، نه ویره وه او نه د سفر غم ؤ، سبا سهار یوه کس دروازه وټکوله، زه ور ووتم هغه بېګانی قاچاقبر ؤ، څه یې وویل زه پرې نه پوهېدم، مور ته مې غږ وکړ:

هغې ته یې وویل:

تاسې په ترکۍ ژبه پوهېږئ، بهر وتو کې درته کومه ستونزه نه جوړېږي، زه راغلی یم ځان سره دې ولم، چکر دربادې وهم .
دا خبره مې په مور لکه تندر داسې ولګېده، سره او شنه شوه، موږ ته یې د ترکي خبره ترجمه کړه، غوښتل یې قاچاقبر د سپکولو الفاظ په ذهن کې راټول کړي، خو دا هر څه د بلال مداخلې خاموشه کړل، مور ته مې ویل ته مه ورته په غوصه کېږه، دا ځای د غوصې کولو نه دی، یوازې دومره ورته ووایه چې موږ د چکرو لپاره دلته نه یو راغلي، یوازې غواړو تر منزله ورسېږو، مور مې هم زغم پیدا کړ او په حوصله یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروره موږ یوازې غواړو له ترکې ووځو زه د چکر علاقه منده نه یم له تا مننه کوم.
د ترکي، رنگ والوت، لاړې یې په خوله کې وچې شوې، د ښه خجالت سره یې مخ واړاؤ او په خپل کار پسې لاړه، خو درس یې وانه خیست، په زړه کې یې څه ؤ چې باید سرته یې رسولي وایی.
دریېمه ورځ هم راورسېده، کومه چې زموږ د گیم لپاره ټاکل شوې وه یو پک اف ته ورته موټر راغی موږ هم پرته له ځنډه وروختو،حرکت مو پیل کړ، ترکي زما د مور په مخ کې سترگې ځښې کړې وې یوه او بل لوري ته یې نه کتل، هغه زما د مور شاه نه خوشې کوله، هر ځای به یې یوه پلمه جوړوله ترڅو مور مې له موږه جدا کړي او ځان سره یې بوځي مور مې هم احساسوله چې د سړي ارادې ورته سمې نه دي، پرې پوهېده خو ځان یې ناگاره اچاؤ، هر چال به یې ورته په نرمي شنډاؤ.
د دووه اونیو پټ پټونی سفرونو په لړ کې د ترکي او یونان تر منځ سرحد ته ورسېدو، زموږ او یونان یوازې یوه لوی بهر سره بېل کړي ؤ، قاچاقبر لا هم سترړی شوی نه ؤ، له خپلو شومو هڅو یې لاس نه اخیست.
موږ د بحر په یوه ساحل کې کېناستو، له وچې مو سفر بدل شو، لاره مو په بحر کې شوه، قاچاقبر په بحر کې په یوه خونکاره لاره د تلو او تابیه نیولو راته وویل:

بله چاره مو نه لرله یو طرفه جاده وه برگشت یې نه درلوده

دا هغه لاره وه چې ډېرو پکې سرونه خوړلي ؤ د مړي او ژوندي نوم ترې همدلته اخیستل کېده، خو بس د ناچاری مېرمنه واخلم!

سړی څه، څه ته اړ کوي، سفر چمتو شو، مور مې بلال ته ورغله، هغه ته یې وویل بلاله، ته مې لکه زوی داسې یې، ددې قاچاقبر سترگې او پلمې ماته خوند نه را کوي، خامخا څه په زړه کې لري!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور خو ددې سفر نه تر دې دمه دا زده کړل چې کور، هېواد، خپلوان، پیسې، شخصیت، توهین،... دا هر څه مو له لاسه ورکړل، یوازې عفت او عزت راپاتې دی، که دا هم لاړ شي نو بیا خو نور ددې نړۍ د اوسېدو جوګه هم نه ګرځو، دغه پک مردارخور زما لپاره ښه نیت نه لري، ته په مور باندې پام کوه، خاوند مې شکر لري، هغه د داسې خبرو تاب نه لري اوس ته زمور یوازینۍ هیله یې.

بلال وخندل:

بیا یې وویل، کاشکې تاسې راته داسې په عذر او خواره خوله د ځان د حفاظت نه وایئ ویلي، ماته مور، پلار او نیکونو داسې درس راکړی چې، ستا ویلو ته یې اړتیا نه ده پرېښې.

پوهېږم دلته مو بل څوک د لاس نیوی نشته، ماته مو هیله ده خو ډاډ درکوم، که چېرې تاسې ته څوک دلته په بده سترګه وګوري او زه یې یوازې ننداره وکړم، زه به بیا د خپل ضمیر سره څرنګه ژوند تېر کړم، څرنګه به مې بیا خپل ځان وبښم، د وجدان عذاب خو به بیا ما ووژني، بېرته په ستنېدو کې به بیا خپلې خاورې ته څرنګه ګورم، څرنګه به د خپلې خاورې او ناموس د ساتنې درس خپلو اولادونو ته په خوله راوړم، هغه درس چې مور ته نیکونو پرېښی دی.

زه له اوله لکه سیوری درسره یم، دا چې نېږدې او ګډ مزل درسره نه کوم، دا بېله خبره ده خو هېڅ مې له سترګو خالي نه یاست، تاته ګوانښ زما مور ته ګوانښ بولم، تاته زیان به لومړئ ما زیانمنوي او بیا به تر تا رسېږي.
هیله ده له دې وروسته ماته عذر نه بلکې د یوې مور په صفت امر وکړې .
مور مې د بلال سر په دواړو لاسو کې ونیو، هغه یې په ټنډه ښکل کړ بیا یې ورته وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



جميل زوی خو مې تورو خاورو وخوړ، خو تاسې يې ځای راته ډک کړ د خپل زوی غوندې مې درباندې ډاډه يم.

وړې، وړې کيښتۍ راغلې مسافر ور وختل ډکېدلې او تلې، زموږ نوبت هم راورسېده کښتۍ ودرېده بکسونه مو اوړو ته کړل، مسافر ور وختل، زه تر ټولو اخېر کې وم، هماغه قاچاقبر راغی ماته يې وويل ته مه ورخيجه، سره ددې چې د يوه نفر ځای پکې ؤ، هغه بيا کيښتۍ ته ورنېږدې شو زما مور ته يې وويل ته هم ترې راښکته شه، کيښتۍ درنه شوه د غرقېدو چانس يې زياتېږي په بله کيښتۍ کې به کېنئ، مور مې بلال ته وکتل، هغه يې د کتو په پيغام پوه شوه، بلال ژر له کېښتۍ ټوپ کړل ويي ويل، کېښتۍ درنه شوه زه به ترې ښکته شم، دوی دې لاړ شي موږ به په بله کېښتۍ کې لاړ شو.

د مور او پلار کېښتۍ حرکت وکړ، قاچاقبر د بلال مخې ته ودرېد، له څه ويلو پرته يې په مخ په څپېړه ووهه، په ايرانۍ ژبه يې ورته وويل:

ته څه کاره يې چې زما په کارو کې مداخله کوې، هغه غوښتل په بلال پټکې وکړي، خو بلال نور پرې نه ښوده، هغه ته يې سوکان بند کړل په دوه درې سوکانو سره يې سړی ګنګس کړ، په خپل ځای کيناست.

د هغه نور ملګري راغلل، خو مسافر ډېر ؤ يو بل يې ګواښ کړل، لږ وروسته بله کېښتۍ راغله موږ حفاظتي واسکټونه واغوستل، زه او بلال دواړه جوړه وروختو، ما بلال او بلال ماته تر ډېر کتل پرته له دې چې يو بل ته خبرې وکړو د کتو په پيغام سره پوهېدو موږ دواړو احساسوله چې کېدای شي دا مو وروستی ليدل وي که کومه پېښه وشي نو يو بل بايد وبښو ما هم هغه ته په همدې وېرې کتل .

دغه کېښتۍ د لسو دولسو نفرو لپاره بسنه کوي، خو دوی شل، پنځه وېشت کسان ورخيجوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیښتۍ تګ ته تیاره شوه، حرکت مو پیل کړ، زما خو لومړی ځل ؤ، چې په یوه داسې بحر کې حرکت کوم چې نه یې سر مالومېږي او نه بېخ د کېښتۍ له پیله مې زړه په درزا پیل وکړ.

یو ساعت مزل مو وکړ، کېښتۍ په حرکت وه مخکې یې شنې اوبه ځېرلې او شاته به یې یوه لاره پرېښوده، ورو، ورو به مو شاتنی له اوبو جوړه شوې لاره بېرته اوبو ډکه وله، اسمان هم تک شین مالومېده، یوه نیمه الوتونکې مرغۍ به پکې ښکاره شوه، وزرې به یې مالومېدې چې په هوا کې یې د توازن او تلو لپاره ښوري، کېښتۍ لاره لنډوله له سمندري موجونو او د یونان او ترکي د سمندري ځواکونو له وېرې به مو یوه او بل لوري ته سترګې غړولې، مخ لوري ته مې پام شوه د بحر یوه څپه لکه غونډۍ پورته کېده او بیا به ښکته کېده، څپه زموږ په لور راروانه وه، په چټکي زموږ لوري ته په خوځښت وه، په کېښتۍ کې ځوګ او شور شو، ناستو خلکو هم دغه لویه څپه لیده چې د کیښتۍ خواته رانېږدې کېږي، کیښتی کې ناست خلک زیاتره د افغانستان، عراق، سوریې او پاکستان ؤ، په وارخطایي دوی یوه او بل ته کتل، له څه ویلو پرته یې یو بل ته د لېدو په وسېله پیغام ورکاؤ چې حالات بېړني دي او دوی د خطر سره مخ دي، لااله اله الله محمدرسول الله مې د ځینو په خوله واورېدل.

ما هم کلیمه تېره کړه، بلال ته مې وکتل د هغه رنګ الوتی ؤ څپه راورسېده کېښتۍ یې پورته کړه، له کېښتۍ سره د څپې ټکر زه هم په هوا کړم، هر یوه د کېښتۍ په منځ کې په تاو شوې رسۍ منګولې لګولې وې خو زما لاس لا مخکې ترې خطا شوی ؤ، بلال زما د نیولو هڅه وکړه، هغه لاس راپسې راواچاؤ خو زه د کېښتۍ له چوکاټه وتلې وم، هغه مې هم ځان سره راواخیست.

په بلال پسې بل کیښتی کې ناست مسافر لاس وروغځاؤ، هغه ته د بلال حفاظتي واسکټ په لاس ورغی، حفاظتي واسکټ د بلال له غاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخوت، په کیښتی کې ناست مسافر ته په لاس کې ور پاتې شو، زه دې اوبو په منځ کې ولګېدم، بلال هم زما د ژغورلو لپاره زما په سرنوېشت څه چې له ما په بدتر سرنوېشت اخته شو، پرته له کومې وسیلې اوبو ته ولوېده، ماسره خو حفاظتي واسکټ ؤ، اوبو نه ډوبولم، خو بلال سره، هېڅ هم نه ؤ،هغه همداسې لاس او پښې په اوبو کې وهل ترڅو یې اوبه ډوب نه کړي، هغه زما نه په یوه څه فاصله کې لرې ؤ، کېښتۍ د څپې بل لوري ته واوښته، ډوبه نه شوه، خو تم هم نه شوه.

د خپل مرګ لومړۍ پړاؤ مې په سترګو ولیده، په دې عقیده شوم چې نور هر څه خلاص شو، کېښتۍ په خپله مخه لاړه ځکه د بحر منځ هم د قیامت په څېر وي هر سړی د خپل ځان غم کوي، د بل چا غم کول ناشونی وي، بلال ته مې کتل لاس او پښې یې وهل، سر یې هسک نیولی ؤ، له ما نېږدې پنځلس متره لرې ؤ، کله، کله به سر هم ترې ډوب شو، زه د واسکټ له برکته اوبو په سر ګډولم خو په خپل واک کې نه وم، بلال ته مې غږ ور وکړ :!

بلاله زما واسکټ شته زما لوري ته هڅه وکړه، دغه لوري ته رانېږدې شه، زما واسکټ د دواړو لپاره کفایت کوي، که هر څه راځي یو ځای دې راشي، که ژغورل کېږو هم یو ځای دې وژغورل شو او که ډوبېږو هم یو ځای دې ډوب شو.

چې سړی ډوبېږي، په ریښتیا چې ځګ ته هم لاس اچوي، هغه زما په لور هڅه پیل کړه خو چې را نېږدې به شو، بېرته به شاته څپو واخیست، رانه لرې به یې کړ، بلاخره د ډېرو هڅو په پایله کې رانېږدې شو دوه متره فاصله کې شو، خو هغه بې حده ډېر ستړی شوی ؤ، اوبو ډوب کړ غتې، غتې مهربانه سترګې یې راته ښکارېدې، ښکلي طلایي ویښتان یې څپو لکه د مرغۍ وزرې ښکته او پورته کول له خولې مې چیغه ووته ورته مې کړه بلاله د خدای ج لحاظ وکړه، ما چاته پرېږدې، نفس یې قید شو، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسونو يې لږ دمه واخيسته بيا يې لاسونه او پښې وخوځول، سر يې راپورته شو نفس يې وکيښ، ما هم څه نا څه هڅه وکړ، ورنېږدې شوم، لاس يې زما د حفاظتي واسکټ تر يوې پټې راورسيده، ځان يې پرې تکيه کړ، ژوره، ژوره ساه يې واخېسته، خو ډېر ستړی شوی ؤ غوښتل يې خبرې وکړي خو نه يې شوې کولی، ما ورته کړه بلاله ځان دې مه ستړی کوه دمه شه ژغورل کېږو موږ دې خدای ج له زړه سوی نه ناهيلې کېږو، زما يې ومنله، غلی شو زما په واسکټ يې ځان تکيه ؤ. لاس او پښو وهلو ته نه اړ کېده، تن يې له ما ډېر لرې ؤ، يوازې لاس يې زما د واسکټ په يوه پټه تکيه کړی ؤ، ښه په تکليف ؤ، ما ورته کړه بلاله رانېږدې شه دومره لرې، فاصله کې په تکليف يې، ځواب يې راکړ، نه ! همدلته ښه يم که درنېږدې شم، د بحر څپې به مې وجود، درسره ولګوي او دا کار زما ضمير، نه قبلوي!

د بلال دې خبرې حق حيرانه کړم، ورته مې کړه، ته د مرګ او ژوند تر منځ ساه کاږې بيا هم د داسې خبرو پروا ګير يې ؟

هو، ژوند مهم دی، خو له ژونده ځينې ارزښتونه مهم وي.

ـ بلاله، ته اوس يوازې نه يې زه هم درسره يم، وارخطا نشې ؟

راته يې کړه ليمې لکه چې ژوند تر همدې ځايه ؤ، لکه چې ژوند نوره ياري نه راسره کوي، خو ډېرې هيلې به هم دلته راسره ډوبې شي، د ورونو ډېر واړه او يتيم ماشومان مې کور پرېښي دي، هغوی سره مې ژمنې کړې دي چې په تاسې به زده کړې کوم، لګښتونه به درته رالېږم، لکه چې هغوی ته بې وعدې کېږم.

ما ورته کړه، بلاله، ته خو يو زړه ور نارينه يې، ته بايد ماته تسلي راکړې، نه دا چې دومره بې همته خبرې وکړې، موږ ژغورل کېږو، ته دې هم هيلو ته رسېږې، زه هم، ژوند کوو او په ګډه بيا خپل هېواد ته خدمت کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه سترګو کې غټې، غټې اوښکې ښکاره شوې، خبرو ته یې شونډې بېرته کړې، وې ویل، ځان ته دې ډېر پام کوه، ته له ما ډېر چانس لرې، دغه مهال د لومړۍ څپې په څېر یوه بله څپه راغله موږ دواړه یې په خپله غېږ کې تاؤ کړو، د یوې دقیقې لپاره خو په اوبو کې وم د هوا په ځای مې ترشې اوبه تېرولې، له هغه وروسته د حفاظتي واسکټ له برکته د اوبو سر ته راوختم، ژوره، ژوره ساه مې واخېسته خوا او شاه مې په بلال پسې لاس وتپاؤ هغه زما خواکې نه ؤ، پوه شوم چې د هغه وېره او اندېښنه بې ځایه نه وه، هغه پوهېده چې ځواني مې د دغه ځای د ماهیانو خوراک او د ګېډې مړېدا لپاره زرغون شوې ده، باوري شوم چې نور د هغه ښکلې ځواني اوبو رانه اخیستې، لنډ مهال مې حواس له لاسه ورکړه، د هغه سرښندنې، فداکاریانې، غیرت، کم ساری همت او زما سره ښیګڼې مې سترګو ته ودرېدې!

د بحر څپو سره په خبرو کې شوم فکر مې ورته مخاطب شو ورته مې کړه!

ناځوانو، دا سړی بېرته راوخیجوی، دا کوم عادي انسان نه دی، دا د ګوتو په شمار کس ده، ده ته دا نړۍ او خپل هېواد یې ډېره اړتیا لري، دلته د داسې همتي او پاک نفسو خلکو ډېر کمی دی، د ده په ځای، ما واخلئ، په ما هیڅوک هم نه خوارېږي، که په ما مو هم زړه سوی راځي، د ده په ځای په دې بحر کې د خونخوارو قاچاقبرانو بېړی ډوبې کړې، هغه د ځمکې تل ته د ننه کړې تاسې په یوه بې ګنا انسان باندې شکمن شوي یاست، هغه ډېر زبردست سړی دی، د مرګ سزا لایق ندی!

خو د بحر څپې خوځېدې، ماته یې ځواب نه راکاؤ زما د خبرو اورېدو ته یې غوږونه نه لرل، په ټوله لاره کې، مې احساسوله، چې بلال یو بې جوړې هلک دی، ډاډه وم چې، په هیڅ قیمت به یې له ځانه لرې نه کړم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژوند تړون به ورسره وکړم، د واده کولو منګ ته چې ورسېږم واده به ورسره وکړم، خاوند به يې کړم!

په مناسب وخت کې به دا وړانديز هم ورته وکړم، خو زه څه خبره وم چې هغه به دلته ما يوازې پرېږدي او زما د ژغورلو لپاره به خپل ځان د مرګ په کومې کې ور کوي.

هغه ځای ته مې وکتل چې بلال پکې ډوب شوی ؤ، ورته منتظر شوم چې بېرته به يې هغه ښکلي ويښتان او ښه ورې سترګې راپورته شي، مګر بحر په چوپه خوله راته ويل چې کوم فکر ته کوې دا خيال دی، مهال دې او هيڅ ممکن نه دي.

د بلال د وجود دې غرق کېدو سره زما د وجود يوه برخه هم ډوبه شوه، هغې برخې ته زړه وايي، زه څه پوهېدم چې دا جادوګر پکتياوال به په خپله سنګينې زما ماشوم زړه غلا کوي، هغه چې لا يې مينتوب ته ډېر وخت ؤ، د مينې تاب يې نه درلوده، ځکه خورا تنکی ؤ.

په وجود کې مې يو بل ډول احساس را ژوندی شو، دا ځل زما وجود په شور راغی داسې شور چې د زوروړو څپو زور ورته هيڅ هم نه ؤ، زړه مې له يوه بړاسه ډک شو، بړاس مې ستوني ته راغی بې واکه مې له خولې داسې ځواکمنې چغې ووتې چې زما په سر په هوا تېرېدونکو، دوو مرغانو يې په اورېدو وزرې ووهلې ودرېدې لکه چې څوک د تېرې وار پرې وکړي،د تګ مسير ته يې بدلون ورکړ، بېرته په شاه تاو شوې، بحر زما د وجوده له زوره د څپو سرچينه اخيسته، دا ځل د بحر موجونه زما فرياد په شور راوستل، چغو او فرياد مې دومره لوړ شول چې، ډاډه وم په پنځه کيلو متره کې به هر چا زما د چغو اهتراز د هغه د غوږونو پردې لړزولې، ځان ته مې پام شو د سترګو خوا او شاه رخسارونه مې په اوښکو لامده ؤ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نرمو څپو مې حفاظتي واسکټ تخناؤ کله يوې او کله به يې بلې خواته ويوړم.

خاموشي وه، د هوا د مرغانو رپېدونکې وزرې به مې کله، کله تر سترګو کېدې، زما چغې هم د بلال د ژوند په څېر ځواکمنې وې، خو بحر يې زور اوبه کړی ؤ، چا نه اورېدې، نه يې څوک په کيسه کې ؤ هيڅ څه هم بدلون نه کاؤ.

زه هم نوره د بحر غلامه شوم، د بحر د څپو په اشارو به نڅېدم، هر طرف ته به يې چې خوښه وه وړلم يې، کله، کله خو به ماهيانو هم زما پښې وتخنولې، يا به يې په پنجه خوله راولګوله، خبرداريئ راکاؤ چې، وګي يو ته کله زموږ خواته راځې.

نېږدې شپږ ساعته اوبو په سر، لکه د اوبو څګ وګرځولم، زما ژغورلو لپاره د کوم څرک روښنايي مالومه نه شوه، او نه مې دلچسپي لرله چې څوک دې راشي او ما دې وژغوري، او بلال دې دلته يوازې پرېږدم، دا کار ډېره ناځواني راته مالومېده، ځکه خو مې د بلال د ډوبېدو له ځای سره سترګې ګنډلې وې، چې ګوندې پيدا به شي او يو ځای به له دې خونکاره ماحول سره خدای پاماني وکړو، خو بلال قسم کړی ؤ چې نوره مې ښکلې حياناکه څهره نه درښيم.

اه ...!

په رېښتيا چې د مينې لپاره قانوني عمر ته اړتيا وي، خو زه بې وخته مينه شوم، زما زړې د عمر په اندازه خام ؤ د بلال د ډوبېدو تاب يې رانه وړ، زما ذهن ته يې پرېکړه ولېګله، ورته يې کړه، حفاظتي واسکټ دې له تن څخه خلاص کړه بلال سره دې ژمنه کړې وه، چې يا به دواړه ژغورل کېږو او يا به هم دواړه غرقېږو، نن هغه تقدير ډوب کړ او زه لا هماغسې د اوبو په سر ګرځم او د ژوندي پاتې کېدو هيلې ته منتظره يم، دا کار مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مناسب نه ؤ په ریښتیا هم مناسب نه ؤ ځکه د پکتیاني ژمن انسان سره مې دې کم وخت په تېرېدو ډېر څه زده کړي ؤ، د ژمنې په پاللو یې پوه کړې ؤم، هغه د ژمنې لپاره سر نذرانه کړ، خو ما لا د ژوند ژغورلو فکر کاؤ،ځان سره مې وویل:

زه هم باید د هغه په پله پل کېږدم ورپسې ډوبېږم، که دلته سره یوځای نشو اخیرت کې خو خامخا سره یو ځای کېږو،دلته به یوازې څه وکم ،دغه د مکر او فریب نړي کې ژوند هم ډېر د ارزښت وړ نه دی، د لمر سترګه ډوبه شوه ورو، ورو تیاره خورېده، د ماښام اذانو وخت ؤ، چې شاته مې د اوبو د څیرې کېدا غبږ تر غوږو شو، خو ما بیا هم لکه لېونۍ هماغه لور ته کتل، کوم لوري ته چې بلال رانه ورک شوی ؤ، د خپل حفاظتي واسکټ یوه توکمه مې خلاصه کړه چې نوره له واسکټه تېرېږم، ځان ډوبوم او د بلال خواته ځم، خو له شانه چا ونیولم.

پورته مې ورته وکتل، ګورم چې وړه د قاچاقبرو کېښتۍ ولاړه ده او پکې یو کس ما د کېښتۍ خواته کشوي، لکه چې سړی خوبویني، په ترکی ژبه راته وغګېده، خو زه نه پرې پوهېدم، هغه هم درک کړه چې زه یې په ژبه نه پوهېږم، ایراني فارسي کې راته وویل کېښتۍ ته راوخیجه؟ زه دې ژغورم، د سړي څهرې ته مې وکتل د پنځه څلوېښتو کالو په عمر ښکارېده، خریل شوې بږیره ترې یو څه لویه شوې وه د زنې په ویښتانو کې یې له سپینو تور ډیر ؤ، ګګر ګوړګوتی، تاو شوي ویښتان یې درلودل

وروختم، سړي ښکته او پورته په حیراني راته راکتل!
کله، کله به زما د وجود هغو لمدو اندامونو ته ځیر شو، چې جامې به مې ورسره سرېښ وې، له ځنډه به یې ورته وکتل، لکه چې یو څوک دې کوم غنیمت مال پیدا کړي، په څهره کې یې خوښي محسوس کېدله.
راته یې کړه!
دلته څرنګه وموندل شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-کېښتې مې تصادف وکړ
- ډوبه شوه ؟
- نه، هغه په خپله مخه لاړه، یوازې زه او یو ملګری مې ترې ولوېدو.
-هغه څه شو ؟
-دلته ډوب شو، خیر دی که ممکن وي راویې باسه ؟
- څومره وخت پرې وتلی ؟
- شپږ ساعته ؟
- ښه نو بیا لاس ترې ومینځه؟
- مړی یې راته پیدا کړه، زه به قبر پرې جوړ کړم، جنازه به یې وکړم
- نه کېږي،جلې نه کېږي!
- خیر دی که ممکن وي، هغه د ماهیانو د خوراک وړ نه دی، په ماهیانو نه پېرزو کېږي.

هغه د نه په دود سر وخوځاؤ، پوه شوم چې نور زما له غوښتنو تنګ شو او منلو ته یې تیار نه دی، له ځانه مې په بېړه واسکټ لرې کړ هغه په حیرانۍ راته کتل، ټوپ وهلو ته مې ځان چمتو کړ، هغه په وارخطایي له خپلې څوکۍ راپورته شو زه یې ونیولم راته یې کړه ته لېونی یې، ته شکر نه باسې چې له مرګه وژغورل شوې ؟

ورته مې کړه: یا هغه را وکاږه او یا هم ما وروغورځوه، په دې دوو کارونو کې یو انتخاب خامخا وکړه، سړي له جیبه خنجر راوباسه ویې ویل کینه کنه په دا سر، سر دې وهم، زه لا هماغسې ولاړه وم، هغه یوه درنه لغته په تشي کې راکړه، وتنبېدم او بیا وغورځېدم، یوه تاري پټه ورسره وه زما دواړه پښې یې پرې وتړلې د پټې بل سر یې د خپلې څوکۍ له اوسپنیزې پښې سره وتاړه، سړي وویل ته دا وخت ته وګوره او دې خطرې سیمې ته وګوره او ته دې تا نخرو ته وګوره!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو له اخطار سره یې تسلي هم راکوله، راته یې کړه ته بختوره یې چې زما کېښتۍ درباندې برابره شوه کنه د شپې له ډاره هم مړه کېدې، زړه د چاوده، عمر دې کم دی.

ما څه نه ویل، کېښتۍ مزل کاؤ .

له ساعت مزل وروسته د بحر ساحل ته ورسېدو، له کېښتۍ ښکته شو سړي ته موټر راغی کسانو خبرې ور سره وکړې د هغو له خبرو پوه شوم چې ترکان دي، زه یې هم موټر ته ورخیجولم، له درې ساعته مزل وروسته موټر یوې ښکلې ماڼۍ ته ودرېده، دروازه خلاصه شوه د دروازې دننه خوا کې یوه وړه غرفه هم د ساتونکو لپاره جوړه شوې وه داسې مالومېده چې سړی یوازې نه دی، بلکې یو ګروف په ډول کار کوي.

کور ته په ننه وتو سره نور کسان هم د ماڼۍ له خونو راووتل، زما سره کس ته یې په درناوی سرونه ټيټول، دوی ته یې څه وویل، بیا یې عمومي دروازې ته وکتل ځوانانو به لومړی ما او بیا خپل دغه مشر بیا دروازې ته کتل، فکر مې وکړ چې ورته ویې ویل له هغې دروازې یې بهر پرېنه ږدی، کور درې منزله لرل، د پورته منزل لپاره د ختو یې راته وویل زه په همدغه سړي پسې وم په حرکت کې مې شاته وکتل ځوانانو یوه بل ته د حیرانتیا شونډې بوځې او لاسونه یې تاؤ کړل، یوې ویرې پسې واخیستم چې دلته خو منظم څه روان دي، خدایږده ما سره به څه کوي دا خلک.

زه یې وورستي منزل ته وخیجولم.

هلته یوه ځوانه مېرمن رامخې ته شوه، معصومه څهره یې لرله، پړونی یې په سر ؤ هغې ته یې هم په ترکي ژبه څه وویل، یوه خونه یې راته وښوده، زما په څېر دغه کس چې زه یې راوستم هغه هم ډېر ستړی ؤ، هغه بلې خونې ته لاړ، لږ وروسته مېرمنې ماته کوبای پتلون او یخن قاق راوړ ویې ویل، کالي دې خراب او لانده شوي دي، په فارسي مې ورته وویل زما د جامو په څېر عامې جامې نشته؟

په درې یې ځواب راکړ، شته خو رییس همداسې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته مې کړه د رییس څه یې ؟

ـ هیڅ

ـ معاش درکوي ؟

- نه

- نو په کومې اړیکې دلته اوسې؟

- دا لویه کیسه ده، لومړی ته ووایه، چې له کومه یې کړې؟

- کېښتۍ مو تصادف وکړ زه ترې ولوېدم، بیا ددغه کس کېښتۍ رابانديې راغله، زه یې له ډوبېدو وژغورلم.

- الحمدالله چې له مرگه بچ شوې یې

-کاش چې نه وای بچ شوې.

- ولې؟

- په ماپسې یو ځوان چې بلال نومېده زما د ژغورلو لپاره هغه هم راپسې را ولوېده د هغه واسکټ نه ؤ، زه وژغورل شوم خو هغه زما لپاره خپل ژوند له لاسه ورکړ.

- ددغو خلکو په هغه ساحه کې دوه کېښتۍ وې یوه له مشر سره وه چې ته یې راوستې او بله یې د بل کارکونکي سره وه اوس د هغې بلې کېښتۍ واله هم راورسېده دوی ته یې ویلې چې ما هم یو ځوان چې حفاظتي واسکټ یې نه ؤ او ډېرې اوبه یې هم تېرې شوې وژغوره کېدای شي دا هم هغه ځوان وي.
ـ نو هغه ځوان اوس چېرې دی؟
ـ نه پوهېږم



(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ خو ته له هغه کس نه پوښتنه وکړه.
ـ له ما د پوښتنو کولو حق دلته اخیستل شوی دی .
ـ په خوله مو برکت کاشکې همداسې شوي وي زه د بلال ژوند غواړم، ځکه بلال ته دا نړی ډېره اړتیا لري، خو فکر نه کوم چې زما بخت دې دومره بیدار وي.
ـ هغه دې څه کېده ؟
- هیڅ!
- نو بیا یې ولې دومره په کیسه کې یې؟
- که دې پېژندلی او درک کړی دې وای ته به یې هم همدومره په کیسه کې وې لکه زه چې یم.
- نو دوی څه وویل چې هغه څه شو؟
- ویلې د ساحل غاړې ته مو کوز کړ.
- په لومړي ځل مې ټوټه، ټوټه زړه راټول شو د خوښي لپاره پکې یو ، حس پیدا شو، ومې ویل کاشکې بلال ژغورل شوی وي، هغه زما لپاره د ژوند بایللو قیمار وواهه.
- مېرمن له ځایه پورته شوه، ویې ویل ښه زه نوره ځم، دا خلک د زړه سوي په نوم څه نه پیژني، ځکه چې زړه لري نه،که راباندې پوه شي چې له تاسره مې د پېژندګلوي دومره خبرې کړې دي وژني مې .
- له دې خبرې سره پوه شوم چې، کیسه لکه چې زما د تمې خلاف ده، له دې مخکې ما ویل چې سړي په ما زړه سوی کړی او د یوه مهربانه شخص په توګه یې زما د ژغورلو هڅه کړې ده، فکر مې وکړ، اوس لکه چې د ژوند په یوه نوي ازمایښت کې ولوېدم او د داسې چا لاس ته ورغلې یم، چې خداېزده څه به راسره کوي !
ورته مې کړه دوی خو د کومې مافیه غړي نه دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې په خوله گوته کېښوده، د چوپ کېدو يې راته وويل، له خپل ځايه پورته شو ور يې چوله کړ، بهر دهلېز يې له سترگو تېر کړ، ځان يې ډاډه کړ، بېرته راغله ويلې په ورو خبرې کوه.

له مافيا نه هم بدتر دي، له انسانيت بهر دي، په دوی د ځنگلونو وحشيان هم ښه دي، خو ودې داړي ژوند درنه واخلي او کيسه ختمه شي، دوی دې وژني نه، خو له مرگه دې بدتره وي .

زړه مې نور هم ولوېده، خپل پلار ته مې ښېراوې وکړې ورته مې کړه: پلاره ته خو به اروپا ته هم رسېدلی يې خو زما په سرنوښت دې څه وکړل ؟

زه دې په څه غم ککړه کړم.

بيا مې مېرمنې ته وويل:

ته دلته څه دنده لرې ؟

ـ د غلامي کار رانه اخلي .

زما په اړه يې چې څه فکر ته راشي، هغه راسره کوي، په هيڅ څه هم صرفه نه کوي.

ـ ته دوی له کومه کړې ؟

هغه بيا سپکه له ځايه پورته شوه يو ځل يې دهلېز وکوت، بيا يې ور بند کړ راته يې کړه زه دې سوريې يم، غوښتل مو اروپا ته لاړ شو، کېښتۍ کې سپرېدو چې ددغه سړي کسانو زما کورنۍ ته وويل تاسې کېښتۍ درنېږي، د ډوبېدو خطر پيدا کوي، دغه جلۍ راتلونکي ډله کې در لېږم، مور او پلار مې ور سره ومنله، هغوی لاړل، زه دوی له ځان سره يرغمل کړم، بله کېښتۍ کې يې ور وا نه ستولم، دلته يې راوستم .

ورته مې کړه نو دا فارسي دې له کومه زده کړه ؟

ـ ويې ويل يو ځل يې ستا په شان ايرانۍ انجلۍ راوستې وه يو کال دلته اوسېده له هغې مې زده کړې.

ـ ښه دوی بيا څه قناعت درکړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دوه ورځې وروسته يې راته وويل چې ستاسې کورنۍ ډوبه شوې ده، مور تا نشو لېږلی، زه فکر کوم چې هغوی ته به يې هم زما په اړه ورته پلمه کړې وي.
د هغې له دې خبرو سره د وارخطايي په وروستۍ مرحله کې شوم، هغه مې له زنې ونيوله ورته مې کړه، د هغوی کومه جاسوسه خو نه يې ؟
هغې قسم وخوړ بيايې وويل:
جاسوسه نه يم، بس يوه د ازاد انسان په جامه کې دې يوې غلامې کار رانه اخيستل کېږي، همدا مې دنده ده، بس ...
زه له ځايه پورته شوم ورسۍ ته ودرېدم، د ځمکې تل ډېر ژور ؤ، د حويلۍ دېوالونو ته مې وکتل سيم خاردار پرې تاو شوی ؤ، دا هيله مې هم ختمه شوه چې گوندې ټوپ به واچوم او وبه تښتم.
هغې ته مې زاری پيل کړې ورته مې کړه خير دی، مرسته وکړه، ماته له دې ځايه د تيښتې لاره برابره کړه، د هغې ځواب دا ؤ، چې څوک له ځان سره مرسته نشي کولی هغه به له بل کس سره څه مرسته وکړي.
له دويم منزل د غگېدا اواز راغی، مېرمن په بېړه رانه ووته، په تلو کې راته وويل دغه اطاق حمام هم لري حمام وکړه او کالي مو بدل کړئ، چې سهار سيد محرم درته په غوصه نشي، هغه لاړه او زه يوازې د يوه نامالوم برخليک په انتظار په کوټه کې پاتې شوم، حمام مې وکړ، مجبوره وم چې کوبای واغوندم ځکه چې پوه شوم دلته د يوه بندي په څېر بايد امر ومنم. کنه په زور يې هم راباندې تحميل کوي،
تر سهاره مې خوب ونه کړ، د ملا اذان سره مې سترگه تللې وه، يو وخت ؤ چې د مېرمنې د پيالو د کړنگا سره راويښه شوم، سترگې مې پرانيستلې مخامخ يو دېوالي ساعت لگېدلی ؤ د سهار نهه بجې وې حمام ته لاړم، اودس مې وکړ دوی پېرونی نه ؤ راته راوړی، هغه خپل چې راسره ؤ هغه مې د شپې مينځلی ؤ هغه مې په سر کړ قضايي لمونځ مې وکړ بيا مې دوه رکعته حاجت لمونځ وکړ، دعاوې مې وکړې چې يا ربه د يوه ښامار

(c) ketabton.com: The Digital Library



خولې ته لوېدلې يم، خلاصون ترې ناشونی دی خو ته هغه ذات يې چې ناشوني کارونه شونې کوې، ربه ماته له دې خلکو نجات راکړه!

دروازه مې وټکېده مېرمن راغله راته يې کړه که چای د څکلی وي سيدمحرم دې غواړي ؟

زړه مې په درزا شو، وارخطا شوم، له ځان سره مې وويل:

لکه له دې ځايه دې چې بدبختي پيل شوه، دنيايي ژوند خو دې هسې هم تبا شوی ؤ د اخيرت ژوند دې هم لکه چې تبا کېږي.

هغې ته مې د هو په دود سر وخوځاؤ، چې چای مې څکلی، چای مې هسې هم له ستوني نه تېرېده، هغه په دروازه کې راته په تمه وه ور ووتم او مخامخ يې يوه خونه راته وښوده چې هلته ورشم، هغه بېرته رانه ستنه شوه ورته مې کړه ته هم راسره لاړه شه هغې د لاس په اشاره پوه کړم چې زه اجازه نلرم.

کوټې ته ننه وتم، ومې ليدل چې هماغه محرم د يوه مېز مخې ته په يوه ظريفه څوکۍ ناست دی، د مېز په سر يو بوتل اېښی، دوه وړې وړې پيالې يې هم په خواکې اېښې دي، د اطاق يوه لوري ته ښکلی تخت پروت دی، فکر مې وکړ چې د هغه دې خوب کوټه ده .

د سړي مخامخ يوه خالي څوکۍ هم ايښودل شوې وه، د لاس په اشاره يې راته هلته د کېناستو وويل.

زه هم ورغلم مخامخ ورته کېناستم، په زړه مې د وېرې يوه خفيفه لړزه خپره وه، زړه مې زما په حالت وير کاؤ، په فکر کې ډوبه شوم، څه وم، څه شوم او څه به کېږم؟

هغه شايد ډېر غگونه راباندې کړي، خو زه هغه وخت د سړي سترگو ته متوجه شوم چې مېز يې راته په سوک ووايه په قهرجنه لهجه مې ترې واورېدل، نوم دې څه دی ؟

ـ ليمه نومېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د کوم ځای یې؟

- د افغانستان

- دا په سر دې څه دي.

- پړونی

هغه راپورته شو زما له سره یې زما ټیکری لرې کړ، ویې ویل دلته پړوني په سر کولو ته اړتیا نشته، دا نه افغانستان دی او نه ایران،.

- خو زه یوه مسلمانه یم!

- پوهېږم، خو دلته خلک پړونی نه په سروي، د پولیسو شک لاندې راځو

- ما خو هسې هم بهر نه پرېږدي؟

- چې وخت یې راشي، بهر ته دې بیایم.

- هغه څه چې زه درته وایم په غور یې واوره!

- ښه

- د نن نه پس ته لیمه نه یې!

- ولې ؟

- لیمه مړه شوه، په سیند کې ډوبه شوه، نو نوم یې بیا له کومه شو؟

- دلته د اصولو له مخې هر څوک چې راځي هغه ته نوم بدلوو، له نن نه پس ستا نوم قاچاقبره شو، زموږ د ټیم غړې یې، له دې وروسته دې زموږ ټیم په همدې نوم پېژني، دا نوم دې یوازې زموږ په ټیم کې کارول کېږي.

زموږ له اجازې پرته چې هر چېرې پل کېږدې سخته سزا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه درته د کورنۍ په لټه کې یم چې درک یې ولګوم، ژمنه کوم، هغوی ته دې سپارم خو شرط به دا وي چې له موږ سره په اخلاص کار وکړې .

دواړه ګیلاسونه یې له بوتله ډک کړل، یو یې ماته ونیو.

ما ورته د نه په دود سر وخوځاؤ، ځواب یې راکړ، سمه ده، زه ټینګار نه کوم خو دا دې، د نه ویلو وروستی ځل وي، ځه لاړه شه خپل اطاق کې ارام وکړه، سمه ده مې ورته وویل او نوره ترې راووتم خپل اطاق ته لاړم.

ورځ تېره شوه، ماښام شو، د خپل اطاق کړکۍ خوا کې د خپل راتلونکي لپاره په سوچ کې ولاړه وم، زما له اطاقه د حویلي انګړ هم ښکارېده، بېرون د عمومي دروازې لوري ته، شور ماشور جوړ شو، ما هم سر ور هسک کړ، دروازه بنده شوه ومې لیدل چې یو کروزین مخکې ده دوهم شاته ولاړ ده او په منځ کې یې یو کرولا ډوله موټر ولاړ ده، د کرولا ډیګۍ ته څو نفره منتظر ولاړ دي، ډېګۍ خلاصه شوه یو کس ترې سوټکې بوټکې راولوېده، لاسونه او پښې یې شاته تړلي وو.

په سر یې هم توره کڅوړه ور اغوستل شوې وه پړی یې له پښو او لاسو خلاص کړ، خو توره خولۍ یې هماغسې په سر وه دوو نفرو په دواړو لاسونو کې نیولی زموږ په خوا را روان کړ، ځان ته په نوي نوم مخاطبه شوم قاچاقبرې لکه چې د مافیه په ډله اوښتې یې، ژوند د تبا شو، له دې خلکو خو به یا په مرګ خلاصېږې او یا به هم ژوند له دوی سره وحشي کوې.

بې واکه اه مې له خولې ووت.

خدای ج ته مې لاسونه لپه کړل په قبله ودرېدم، ومې ویل یا الله ما خو په ژوند هم له چاسره بد نه دي کړي، ما خو د چا یوه پیاله اوبه هم ندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړولې او نه مې داسې کومه سرکشي کړې ده، چې خپل ضمير ته پرې خجالت يم، له ماسره ولې داسې کيږي ؟
يا الله ج بيا هم انسان يمه، کېدائ شي پوه شوې نه يم، کومه تېروتنه رانه شوې وي، په کوم څه چې راته په قهر شوی يې، خدايه ج توبه کوم، په سلهاوو توبه کوم، ما له دې عذابه خلاصه کړه!
له يوې خوا پردی وطن دی، له بلې خوا کم عمره پيغله يم له بلې خوا له کورنۍ بې درکه شوم او په داسې وحشي صفته خلکو واوښتم چې څناور پرې ښه دي، اوس له تا پرته هيڅوک هم نه لرم بس يوازې تا لرم ربه ج!
نوره هيله پرې ده ما وژغوره، ماته نجات راکړه، ما د خپل ترحم په وزرو کې له دې خلکو وژغوره خدايه !
زما د دعاو له ختم سره يې سړی راووست او زما د څنګ په اطاق کې يې واچاؤ.
ور يې پسې قلف کړ، نور کسان ترې ښکته شول، لږ وروسته سورياييي جلۍ راغله فاطمه نوميده، په وارخطايئ يې ماته وويل:
خبره شوې ؟
ـ نه
ـ دوی، يو ډېر مهم سړی راوړ، ستا د اطاق خواکې يې قلف کړ!
ـ هغه څوک دی، ګنا يې څه ده؟!
ـ دا کس په ايران کې د انساني قاچاق د مافيه غړی دی، په ترکيه کې د هغې مافيه نماينده ګې کوي زموږ رييس پر هغې مافيه د انسانانود لېږد رالېږد يو مېلون ډالر دي اوس هغه دغه رقم زموږ رييس ته نه ورکوي!
بهر کړپ شوو فاطمه په بيړه زما له کوټې ووته، زه يې په دې خبرو نوره هم ووېرولم، نارامه شوم څمکې ځای نه راکاؤ، ماخوستن يې ډوډی راوړه، څو ګولې مې وخوړله، نوره مې له ستوني نه تېرېده، لوښي مې يو کونج ته ټول کړل، لږ وروسته فاطمه د لوښو وړلو لپاره راغله، راته يې کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړل شوي کس ته سزا ورکوي، ستا نوم يې، هم واخيست ويل يې چې د سزا په وخت کې يې درسره ودروئ، ترڅو زموږ له کارو سره بلده شي.
هغه د خوراک له لوښو او دسترخوان سره ووته!
زه غلې ناسته وم لکه انسان چې په بله نړۍ کې وي په ځان سمه نه پوهېدم دا هرڅه بيخي بل رقم راته مالومېدل، کله، کله به مې ورته د خيال فکر وکړ، بيا به مې چې ماحول ته وکتل، په غړېدلو سترګو به مې ځان وليده چې يرغمل شوې يم، نو وبه مې ويل کاشکې خيال واى .
په همدې فکرونو کې د شپې نهه بجې شوې دروازه راخلاصه شوه پنځه کسان د دروازې مخې ته ولاړ ؤ په فارسي يې راته وويل راووځه!
زه هم ور ووتم، راسا يې د بندي کوټې ته بوتلم اطاق بيخي تياره ؤ، هلته د ورسيو پردې کش شوې وې، ګروف مړ ؤ، تپه تياره وه بندي به يوه کونج کې پروت ؤ، يوه کس د موبايل ګروف روښانه کړی ماته يې ونيو ويې ويل موږ چې څه کوو دې هغه ويډيو وکړه، دوی اوربزونه ووهل بيا يې سپارښتنه وکړه چې زموږ سرونه پکې رانه ولې، يوازې هغه څه عکاسي کړه چې موږ يې کوو، زما لاسونو لړزه پيل کړه، زړه مې ټکان کول خوله مې وچېده، نه پوهېدم چې اوس به څه کېږي، خو مجبوره وم، دا کار مې بايد کړی وای، کنه زه هم د دوی د پلار لور نه وم، له ماسره يې هم هغه څه کول چې زړه يې غوښتل.
عکاسي پيل شوه، په بندي يې شاته لاسونه وتړل، د رخت واړه واړه ټوکر يې راوړل، د بندي مخې ته يې واچول حيرانه شوم چې په دغه ټوکرو څه کوي!
يو، يو ټوکر يې را اخيسته د بندي په خوله کې يې ورتخته کاڼ خوله يې تر ستوني پورې له همدې ټوکرو ورډکه کړه وروسته يې يوه ټوټه راواخيسته د بندي له خولې يې تاؤ کړه او شاته يې ور وتړله، بندي د پنځه دېرش کالو په عمر مالومېده غټې سترګې يې وې، يوه او بل لوري ته يې خوارې، خوارې اړولې، پوه شوم چې خوله يې ددې لپاره وربنده کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د لویې سزا اراده ورته لري او په لویه سزا کې خو د چغو وهل حتمي دي ،دوی د چغو مخنیوي په خاطر د هغه خوله بنده کړه .
له سړي یې کمیس وباسه یوازې پتلون یې ور پرېښوده، کله یې چې ښه سزا ته اماده کړ هغه کس بل کس کې سترګې ونیوې، د سر په اشاره یې راوغوښت، هغه یې خواکې ودرېده له جیبه یې اوږد پیچکش راوباسه، په سړي یې پرته له کوم زړه سوي، پیل وکړ، د هغه ملا، ډډو ته، سینې ته، تشو ته یې پېچکش ونیو، په هر ځای کې به چې لګېده پیچکش به پکې ننه وت او بېرته به یې ترې راوباسه.
د یوې دقیقي په اندازه به مې ویډیو کړې وي، نوره په ځان نه یم پوه شوې، غورځیدلې وم، موبایل مې له لاسه لوېدلی ؤ.
یو وخت نیمه په هوش کې شوم، په مخ مې د یو چا لاس ښکته او پورته کېده، کله، به مې غومبورى کش شو، سترګې مې وغړولې، خپل اطاق کې وم، خواکې مې یو بدرنګه کس ناست ؤ، ورته ومې کتل په ناولې څهره کې یې شونډې د خندا لپاره بېرته شوې زما له بیداري سره بیا هم لګیا ؤ، زما مخ یې د یوه لاس په دوه ګوتو منځ کې ونیو، په ډېر قوت سره مې خپل مړوند د هغه د لاس سره وجنګوله، د هغه لاس لرې والوت، په لاس کې مې دوه بنګړي ؤ د بیلېدا په وخت کې اوزبکې راچولې ؤ، د دواړو ټوټې په څمکه ولوېدې، هغه زما له دې شدید عکس العمل نه سخت وډار شو، ویره خوله یې قلف شوه، تڼده یې تروه او ګونځوره شوه، په یوه کونج کې غلی ودرېده، لږ وروسته یې زما په لوري دوه قدمه واخیستل، زه ترې وډاره شوم چې حمله رابانديې ونه کړي، ځکه له وحشي انسانانو له دې پرته بله تمه نه کېږي، خو هغه د تمې خلاف په ګوډه ماته ایرانۍ ژبه په زاریو پیل وکړ، راته یې کړه زموږ رییس ته ونه وایې، کنه ما وژني!
د لاس په اشاره مې وره ته ګوته ونیوله ورته ومې ویل ووځه، همدا شیبه ووځه، هغه له بل کوم دلیل ویلو پرته په وتو شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته هم د ده د ضعف يو نقطه په لاس راغله، چې وره ته ورسېده غږ مې پسې وکړ، رييس ته نه وايم خو زما يو شرط به منې ؟

ـ د څه شرط؟

ـ اوس يې وخت نه دی!

ـ چې ماته د ژوند خطره پکې نه وي منم يې

ـ د موافيقې په دود مې سر ورته وخوځاؤ، نور سړی لاړه!

د څنگ له کوټې مې د ايراني بيچاره، د ستوني نه راپارېدونکې زگېروي اورېدل، درک مې کړه چې د هغه له خولې يې اوس هم توکري نه دي لرې کړي، خوب نه راته، په يوه او بل لټ به اوښتم، بهر ووتم، د هغه سړي په دروازه پسې يې لوی قلف اچولی ؤ کوم څه مې ورسره د لاسه نه ؤ پوره، بېرته خپلې کوټې ته را ننه وتم.

د هغه د زگېرويو نه ډېره په تنگ شوم، د هغه بيچاره هر زگېروي، زما زړه پرې کاؤ د هغه د وهلو صحنه يې زما سترگو ته دروله، د هغه ناتوانه سترگې به مې مخې، مخې ته کېدې، چې ناهيلې به يې يوه او بل لوري ته اړولې، د هر پيچکش وهلو سره به چې د هغه وجود کوم د درد له لاسه حرکات کول، د تېرې زړه يې هم نرماؤ، ډېر زيات خواشينه ونکي ؤ.

د هغه زگيروی مې تر غوږو راته، خواکې مې يوه الماری وه، کاغذ تشناب پکې ايښی ؤ، د هغه نه مې دوه وړې، وړې غوټې جوړې کړې، په غوږو کې مې ورکړې، ښې مې پکې تخته کړې، لږ شيبه وروسته په ډار او بيم کې ويده شوې وم.

سهار وخته پورته شوم، لمونځ مې وکړ، مور به مې په وطن کې راته ټينگار کاؤ چې د سهار لمانځه نه وروسته صورت ياسين لوله ما به هم د هغه تلاوت کاؤ، د وخت په تېرېدو سره مې پرته له دې چې د يادولو هڅه يې وکړم ياد مې شو، نو هغه مې هم تلاوت کړ، خپل پلار ته مې له زړه نه ښېراوې وکړې، ورته مخاطب شوم پلاره تا خو زه تبا کړم د خپل ځو ورځو پاتې ژوند لپاره دې زما ژوند ته اور ورته کړ ته به اوس د اروپا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رڼاگانو په ښار کې اوسې او خبر نه یې چې زما سرنوښت دې له کوم برخلیک سره مخامخ کړ.

دروازه مې وټکېده سوریایي جلی راغله د هر قدم سره یې د پتنوس د چایو پیالو ترنگا کوله پتنوس یې په یوه مېز کېښود، زما سترگو ته یې ځیر، ځیر کتل ترڅو زما نه د بیگانۍ پېښې په اړه یو څه واوري، ما هم په تمه پرېنه ښوده ورته مې کړه:

دا خلک خو له هغه هم بدتر وحشیان دي چې تا راپېژندلي ؤ، خدایزده چې له تاسره به یې څه کړي وي.

هغې په خوله راته لاس کېښوده، ویې ویل، ورو غږېږه، تا دا خلک اوس هم نه دي پېژندلي، زما ژوند، هیلې او راتلونکې خو یې تبا کړ، اوس دلته د گېډې مړلو لپاره پاتې یم، هسې نه چې ستا هم تبا کړي، زه یې له کاغذ تشناب نه هم بې عزته کارولې یم.

ورته مې کړه له تا ما ښه پېژندلي دي، زما په څنگ کوټه کې مې چې د دوی ظلم له یوه انسان سره ولیده هغه به د بشریت د ظلم په تاریخ کې ثبت شي، د ځنکدن په سخت وخت کې به هم راته یاد وي، هیڅ وخت به مې هېر نشي، هغه بیچاره یې په پیچکشو سوری، سوری کړ.

فاطمې وویل دا د پیچکشو سزا زما وجود هم لیدلې ده!

ـ هغه څنگه ؟

فاطمې وویل:

بل وخت یې درته وایم، زه اوس ځم د رییس د راتلو وخت دی، که دلته مې تاسره په خبرو ووینې پوستکی مې رانه باسي .

ـ نو ته ولې له دې ځایه نه تښتې؟

ـ په هغه څه چې ډارېدم، هغه دوی رانه لوټ کړ اوس د وېرې څه نه دي راپاتې، اوس نه شم تښتیدای، ان زما د تلو جرئت یې هم رانه صلب کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ووته، لږ شیبه وروسته د دوی مشر سید محرم راغی مخکې له دې چې خپل اطاق ته لاړ شي زما اطاق ته راننه وت .
مسکی، مسکی کېده، راته یې کړه، خبر شوم چې بیګاه دې ضعف کړی ؤ!
ورته مې کړه هو، تر اوسه په خپل حال نه یم .
ـ نو داسې وړو، وړو خبرو ته هم سړی ضعف کوي ؟
ـ اه، تاسې ته وړې دي، د نړۍ خلکو ته تاریخي دي، نوې دي، نه سترګو لیدلې، نه غوږونو اورېدلې او نه هم کومې خولې ویلې دي.
ـ قاچاقبرې ! ته باید د داسې پېښو سره بلده شي، بل ځل ضعف نه شې، کنه په زیان درته تمامېږي، ښه وه دا ځل د د ویډیو اخیستو په اخر کې ضعف کړی ؤ پیغام پکې نېمګړی نشو، د دوی مشر ته مې ولېږه ترڅو ورته وښایم ماته چې څوک پیسې رانه کړي داسې سزا هم ورکولی شم کنه د یو مېلون ډالرو له خطر سره دې مخ کړي ؤ .
او تاته به یې جبرانول سخت ؤ.
ـ د ښه په دود مې ورته سر وخوځاؤ.
هغه لاړ، په غوصه کې یې مخ رانه واړاؤ.
بس زموږ دغه کا ر شو نورو ته د سزا په ور کولو کې یې زما زړه سوی له منځه وړ، دا ډول سزاګانو ته به یې غوښتم ترڅو د دوی په څېر سخت زړې شم.
یو ورځ یې یو تنکی ځوان راوست، د شپې اوو بجې یې زما خواکې اطاق کې بندي کړ، په نهو بجو یې زه هم ور وغوښتم ځوان مې نه پېژانده چې د کوم ځای دی دریشي یې اغوستې وه، ښکلې وېښتان یې درلودل سپین نوراني مخ کې یې تنکۍ د ږېرې ویښتان شنه ؤ پر پاسنۍ شونډه یې نري بریت راغلي ؤ، هغه باندې یې هم کمیس وکیښ، خوله یې ور بنده کړه، لاسونه یې شاته ورته وتړل، ډارېدم چې بیا به له پیچکشو کار اخلي، کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیچکش يې چې د مخکيني کس لپاره کارولي ؤ، خو دغه کس ته د دوی سزا بل ډول وه .

اوسپنيز کيبل يې راوړ، ماته يې وويل موږ وېډيو کوو او ته يې کيبل ډډو ته ونيسه !

ما ورته انکار وکړ، وروسته يې د وېډيو کولو وويل:

مجبوره وم کمره مې ورته ونيوله، تنکي ځوان خوله تړلې وه يو څه وخت خو يې د کيبلو وهلو ته تاب راوړ، وروسته يې بيخي حالت خراب شو، په ټنډه يې خولې ماتې شوې، کله په يوه اړخ او کله به په بل اړخ شو تر دې چې وبه درېده، کله يې چې ښه ځان پرې ستړی کړ، بيا يې خوله پرې خلاصه کړه ورته يې کړه اوس دې په خپله ژبه خبرې وکړه چې کورنی ته يې ور ولېږو...

هغه په پښتو خبرې پيل کړې، ويې ويل پلاره دغه خلک ما وژني،دوی هيڅ زړه سوی نه لري، پيسې ورته راولېږئ زه دوی يرغمل کړی يم، واي چې پنځه زره ډالر بايد موږ ته جمه کړې کنه ما وژني...

اه، مې له خولې ووت ورته مې کړه ته افغانی يې ؟

ځواب يې راکړ، هو افغانی يم.

ـ ما له دوی خلاص کړه، خير دی افغانيت راسره وکړه، کور مې په ډېر سخت بد وضعيت کې پرېښی ده .

ورته مې کړه کاش مرسته مې در سره کولای شوای، زه له تا بدبخته يم، زه هم برمته شوې يم، ستا په څېر يم ،ته خو نارينه يې خو زه ستاسې ناموس يم، دلته په يوه نامالوم برخليک له دوی سره يرغمل يم، نه پوهېږم په کوم سرنوښت به اخته شم؟

دوی زموږ په خبرو شک واخيست يوه کس پورې وهلم راته يې کړه قاچاقبرې، خبرې دې ترجمه کوم که زموږ په اړه دې لږ هم کږه خبره کړې وه، وژنم دې!

بهر يې راوباسلم! او خپلې کوټې ته يې د تلو راته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس همدا مو کار شو، د سزا ورکولو لپاره به یې زه گمارلم، له ما بې زړه یې زمرئ جوړوله خو هر بار به په شاک کې له کوټې باسل کېدم او یو دوه ساعته وروسته به په هوش راتلم، یوه میاشت خو مو په همدې کش مکشونو کې تېره کړه .

یوه ورځ سهار مهال مې دروازه ټک، ټک شوه ور ووتم، هماغه محرم ؤ ورته مې کړه مهرباني وکړه.

ویې ویل:

نن مې ستا لپاره ځانگړي کالي فرمایش ورکړي، لږ وروسته رارسېږي، فاطمه به یې درته راوړي، هغه په تن کړه، تا نن ماښام یوې ځانگړې ځای ته بیایم، ساعت به دې تېر شي، هلته ما هیڅوک هم نه دي بولي، یوازې ته مې د هغه ځای وړ وبللې، ځکه ځای ځانگړی دی او ته هم ځانگړې یې!

له دې خبرې سره یې ووېرېدم، ورته مې کړه زه دلته ارامه یم، زه هیڅ چېرې نه ځم !

ـ نه، دلته د هیڅ چا فرمایش نه چلېږي، یوازې هغه څه به کیږي، چې زه یې غواړم، د سرغړونکو پوښتنه بیا له هغې خدمتگارې وکړه چې تاته ډوډئ او چای راوړي، زه اوس ځم او ماښام درپسې راځم.

هغه ووت او زه یې د ځان په اړه چې څه به راسره کوي د یو عالم سوچونو سره په کوټه کې پرېښودم.

*********

د بند خونې کوټه چا راوټکوله ور مې ورخلاص کړ، گورم بل بندي دی، هغه راننه وت راته یې کړه وه وروره، مړ یې ژوندی یې؟ تنکۍ غرمه چې خپل اطاق ته ننه وتلی یې، نه د اشپزخانې ډوډی ته لاړې او نه بهر راووتې، ناروغ یې او که څه ستونزې سره مخ یې، هغه زما په خواکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليمې گڼو ورقو ته پام شو، کومې چې ما لوستې وې، حيران شو ويې ويل دغه څه دي؟

ورته مې کړه دا د هغې مېرمنې د ژوند کيسه ده چې ما په موټر وهلې ده.

د کوټې خوا اوشا مې وکتل، بيا مې د ورسۍ نه بهر وکتل د شپې نهه بجې شوې وې، پښو مې تخمار پيل کړ، مېږي، مېږي کېدې پوه شوم چې په پښو کې د وينې چلښت درېدلی، د جګېدو توان مې له لاسه ورکړی ؤ، پښو او لاسونو ته مې لږ، لږ حرکت ورکړ سم نه پرې پوهېدم، خو احساس کوله مې چې وينې بيرته چلښت پکې پيل کړی، دويم بندي بيا زما لوستو ورقو ته وکتل .

په حيراني يې رانه وپوښتل دغه څه دي ؟

ـ دا زما د بندې کېدو د لامل کيسه ده

ـ هغه څنګه ؟

ـ يوه جلۍ مې په موټر ووهله، بلکې هغې زما موټر ته ځان راواچاؤ اوس په روغتون کې بستر ده بې هوښه ده، زما د بې ګناهۍ هم نه شي ويلی، بس دغه بکسه ورسره وه د ژوند کيسه يې پکې ليکلې ده، خو کيسه يې ډېره جالبه ده، ډېر ظلم ورسره شوی ده، هغه وويل دا کيسه دې په خلاصيدو کې کمک کولی شي ؟
ـ هو ډاډه يم که يې قاضي ولولي، حتما ماته برائت راکوي.

ـ بيا خو يې ولوله لږ ځان پرې پوه، کړه!

ـ خپله هم کيسې راګير کړی يم، که وغواړم يا نه ځان راباندې لولي، اوس لږ راته پاتې دی، لولم يې ټوله شپه هم پرې تېروم، سره ددې چې زما د خلاصون کيلي پکې ده خو دا کيسه بايد ولوستل شي! .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښو کې مې وینې چلښت پیدا کړ، دویم بندي ووت، ځان مې نورمال احساس کړ، د اطاق  یوه کونج کې بستره پرته وه هغه مې راته وغوړوله ستوني ستاخت څملاستم، له لوستو پاتې پاڼې  مې مخې ته ونیوې!

قاچاقبرې لیکلي ؤ!

د ماښام لمونځ مې وکړ، دعاوې مې وکړې ومې ویل، ساتونکېه ربه!
زه خوستا تقدیر یرغمل کړم، نه دلته کوم شناخت لرم، نه کوم خواخوږی، لرم پښې او لاس مې تړلي دي، هیڅ هڅه مې ځای نه نیسي، خو بیا هم ستا له ترحمه نه یم مایوسه شوې .
د انسان په جامه کې وحشي ځناورو ته په لاس ورغلې یم، دوی یوازې خپلې موخې او خواهشات پېژني، په چا یې زړه سوی نه راځي، د ځان روزي او دبدبه، له ظلم کولو لاس ته راوړي او په دې لاره کې هر خنډ هغه که روا وي او یا هم ناروا، له منځه وړي، لږ وروسته مې ځان سره بیایي، پوهېږم زما لپاره کومه بده نقشه لري، خدایه تا ابراهیم په اور کې وساته، تا موسی د بحر له غرقېدا وژغوره، تا یونس د ماهي په ګېډه کې وساته.
که زه معصومه یم، که تر ننه مې ځان له نر مچه هم ساتلی وي نو ما هم وژغوره زه دې هم یو بنده یم، پردی وطن دی، هیڅ شناخت مې نشته یوازې ته مې مرسته کولی شې.
لپه لاسونه مې په مخ وسرویل او بېرته په خپل کټ کیناستم.
دروازه راوټکېده فاطمه وه سپین ځلا لرونکي د ناوې کالي یې په لاس کې ؤ، یوازې په دې توپیر چې دا جامې اوږدې نه وې، خو قیمتي مالومېدې.
هغې ته مې په وارخطایي وویل:
دا څه دي ؟
ـ سیدمحرم د لږ شیبه وروسته  بیولو ته راځي ؟
ـ د څه لپاره، ولې مې بیایي، هغه په ما څه کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زه هم نه پوهېږم، ددې خلکو په هر کار کې له وحشته بل وي څه ؟
ـ خورې خیر دی، که ته پوهېږې ماته ووایه ؟ چې دوی ما چېرې بیایي او په ما څه کوي، چېرې خو مې په چا نه خرڅوي، یا خو مې کوم، د نڅا او خرابکاریو ځای ته نه بیایي، که داسې وي مالومات دې له ما مه سپموه، چې زه هم خپل تیاری ونیسم او خپله پرېکړه وکړم.
ـ ته به له ځان سره څه پرېکړه وکړې؟ او اوس زما او ستا له وسه څه پوره دي؟
ـ که دوی نه شو وژلی، ځان خو وژلی شو، زه نه غواړم چې داسې ځای ته مې بوزي چې هلته زما عزت وپلورل شي.
ـ خورې تر تا په ما عزت ډېر گران ؤ، خو یوه مېرمن څه کولی شي؟ هغه هم په داسې حالاتو کې چې د وحشي ځناورو سره یرغمل وي، چې نه خدای ج پېژني او نه رسول او نه د انسانیت په نوم څه پېژني؟
ـ زه افغانه یم، سوریایې نه یم، دا خبره مې ځان ته توهین ونه گڼې او نه مې له دې خبرې ستا توهین دی، افغانان خپل وس کوي، که نه شوه بیا تسلمیږي.
تاسې وگورئ، موږ په تش لاس له انگریزانو سره وجنگېدو خو تسلیم نه شو، له روسانو سره وجنگېدو، خو تسلیم نه شو، اوس هم د نړۍ له زبر ځواکانو سره په جنگ یو خو تسلمېږو نه، موږ مقابل جانب ته نه گورو چې څومره زور لري، موږ دې ته گورو چې هغه زموږ څومره مهم ارزښتونه له پښو لاندې کوي.
ـ خورې، له دې خلکو سره د کوم زور هڅه ونه کړې، زما وجود هم د هغه بندي په څېر چې تا یې ویډیو کوله سوری، سوری دی، داسې به دې کړي چې له ژونده به دې وغورځوي.

ـ زه نور ژوند هسې هم نه غواړم، ژوند خو په ارزښتونو کېږي ارزښتونه چې پکې له منځه لاړ شي، بیا هغه کله ژوند وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوریایي فاطمې ته زنګ راغی، مالومېده چې د هغې ناولي غږ دی، هغه ورسره په خبرو بوخته شوه، کله به یې ځمکې او کله ماته کتل خو ماته په کتو کې به یې رنګ والوت.

پوه شوم چې کوم قوي پلان درته برابر شوی دی، هغې ټلیفون پرې کړ جامې یې راته ونیولې ویې ویل، حمام ته لاړه شه جامې دې بدلې کړه، ورته مې کړه زه جامې نه بدلوم، همدا مې ښې دي، هغې په معصومانه او عذرانه څهره، په زاریو راته پیل وکړ، ویې ویل:

خیر دی دا کار زما لپاره وکړه، زما وجود نور د هغوی د پیچکشونو د وهلو تاب نه لري دا خلک په سزا ورکولو کې ځنډ نه کوي، ماته یې ویل چې زما له راتلو سره باید ته چمتو یې کنه بیا ما نه پرېږدي!

سره ددې چې خپله هم مظلومه وم خو هغې بیچاره ته مې هم زړه بد شو، ورته مې کړه دا کار ستا لپاره کوم، خو دا راته ووایه چې دوی په ما کوي څه ؟

ـ نه پوهېږم، په ولله نه پوهېږم، کېدای شي کوم ځای ته عادي تګ وي او دومره د اندېښنې وړ خبره نه وي.

ـ ما مه ډاروه کوه، شاید د هغه ځای مطابق زه هم څه پلان جوړ کړم، که پوهېږې ستا ویل به ماته له ګټې خالي نه وي.

ـ قسم کوم، نه پوهېږم، خو ژر کوه د دوی راتګ ته دېرش دقیقې پاتې دي، د هغوی له راتګ مخکې باید ته چمتو وې ؟

ـ د فاطمې لپاره مې جامې ترې واخیستې حمام ته لاړم، په حمام کې مې یوه او بل لوري ته وکتل په تاکي کې د ږېرې خریلو پاکي ګانې پرتې وې، ځان سره مې وویل ور راپسې قلفوم، همدلته د خپل ځان د اورمېږ شاه رګ پرې کوم چې هغه رارسېږي، نو زه به تش کالبوت یم، وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فاطمې خبره را په یاد شوه چې کېدای شي عادي تګ وي خوشې به دې ځان قاتله شې، شاید د کوم تشویش وړ خبره نه وي، نو ومې ویل چې که ځان وژنه وکړم شاید مرګ مې خراب شي، پاکي مې ځان سره واخیسته په جیب کې مې کېښوده، لومړی مې وویل چې همداسې جامې اغوندم، وروسته راسره فکر پیدا شو چې که ځان وژنې ته دې اړتیا شوه، نو بیا به بې غسله له نړۍ لاړه شې، پرېږده یې شاید دغه د وروستی غسل وي، حمام وکړه خدای ج ته به پاکه ورشې.

حمام مې وکړ سپینې جامې مې تن ته کړې، سپینې جامې به مې د مکتب په وخت کې هم ډېرې خوښېدې، خو دغو جامو له هغو نه ډېر توپیر لاره، فکر مې کاؤ چې خپل کفن اغوندم، بهر راووتم، فاطمه هماغسې راته منتظره وه، ځکه چې تشویش یې لاره او زما په نه چمتو کېدو شکمنه وه، هغې ښکته او پورته یې راته وکتل، راته یې کړه افغانان یوازې په غیرت او همت کې بې ساري نه دي، ښکلا یې هم بې ساری ده، د زړه په زور مې ورته وخندل، بیا مې د هو په دود سر ورته وخوځاؤ ورته مې کړه، خو قیمت مو ډېر کم دی، د خپلو مشرانو له لاسه، هر څه مو ډېر بې ارزښته دي.

ماښام ؤ لمونځ مې وکړ، د ځان او عزت دعاوې مې وکړې، له ډېر پاک زړه او پاک نیته مې له خپل خدایه د ژغورلو مرسته وغوښته، خو پوه نشوم چې ولې مې منګولې تشې پاتې شوې وې.

دروازه راوټکېده فاطمې خلاصه کړه، سېدمحرم ولاړ ؤ، زما په لېدو هجاني شو، غوښتل یې غېږ را وکړي او د تلو راته ووایي، خو زما کتو، جذب کړ، داخل د اطاق ته راننه وت، ښه یې له نظره ښکته پورته تېره کړم، خوله یې مسکا ته ویړه شوه، د غټو، غټو برېتونو څوکې یې د زنې لور ته اوږدې شوې بیا یې فاطمې ته وکتل په ترکي ژبه یې څه ورته وویل، هغې هم سر ورته وښوراؤ، په خبرو یې پوه نشوم خو احساس مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه چې زما تعرف ورته کوي، بیا یې د تلو، وویل،زموږ په وطن کې متل ؤ چې مرده به دست زینده!

یانې مړي د ژوندیو په لاس کې وي  خو زه بدبخته ژوندی لکه مړی،د ژوندیو په لاس او واک کې وم، د هغو په اشارو تلم.

روان شو، له کوټې ووتو، تورو ښیښو واله قیمتي موټر ته وختو څلور ساعت مزل مو وکړ او بلاخره یوه ښار ته ورسېدو، رڼاگانو یې سړکونه او کوڅې روښآنه کړي ؤ، اسمان څکو، بیلډینگونو، شنو ونو او چمنونو یې د هر لیدونکي نظر ځان ته جذب کاؤ په ریښتیا چې ترکیه ښکلی ځای دی او ډېر کار ورته شوی دی، ښار کې مو هم نیم ساعت مزل وکړ، ښار لوړو منارو رنگینو پارکونو او ښکلو خلکو نه ډک ؤ، هر چا له ژونده خوند اخیسته، د خوښ اوسېدو هڅه یې کوله، خو یوې بې وسه پیغلې پکې د خپل سرنوېشت فکر کاؤ،لکه د اختر قرباني لاس او پښې یې تړلي ؤ، د ښار له رنگینیو یې خوند نشو اخیستی، فکر یې په دې کې مشغول ؤ چې اوس به څه ورسره کیږي، د کوم قرباني گڼه په څېر به چلند ور سره کیږي او د کوم نیول شوي پلان ښکار به جوړیږي.

موټر یوه هوټل ته ودرېده موټروان ښکته شوه، لږ وروسته یې له ځان سره چرگان، د خوراک  اړونده توکي او دوه بوتله الکول په لاس کې نیولي ؤ، پوه شوم چې سړي زما عزت ته لومه اېښې ده، پلان یوازې او یوازې همدې ته نیول شوی دی، چې عزت مې لوټ کړي او د شرابو په نشه کې مې د عزت له لوټولو خوند واخلي، د نورو موضوعاتو له سوچونو مې فکر راټول کړ، تر دې د مخه دا فکر هم راسره ؤ، چې کېدای شي په چا مې وپلوري، یا مې د کوم محفل د مشغولتیا لانځکه کړي، خو هغه تشویشونه مې ختم شول د پلان شنډولو په فکر کې شوم، په همدې فکرونو کې...



(c) ketabton.com: The Digital Library



بلاخره یوې کوڅې ته ننه وتو او د کوڅې د ښي لاس درېیم کور مخې ته موټر ودرېده، محرم سره یو موټروان، یو هغه باډي کارډ چې ما ترې ژمنه اخیستې وه او یوه زه په موټر کې ناست ؤ، باډي کارډ ته یې کیلي ونیوله ورته یې کړه:

دروازه خلاصه کړه، هغه دروازه خلاصه کړه، موټر دننه شو، پراخه حویلي او یوه لوړپوریزه ودانۍ لرونکی کور وو، چوپه چوپتیا پکې خپره وه مالومه شوه چې دلته څوک نشته موږ څلور نفره یې مېلمانه یو، له موټره ښکته شوو، محرم موټروان ته په فارسي وویل ته هم واپس خپل ځای ته لاړ شه، موږ دلته یوه اونۍ پاتې کېږو، یوازې همدا یو باډي گارډ راته بسنه کوي.

د دروازې خواکې یو کانتینر ؤ گارد ته یې په فارسي وویل ته خپل ځای کې میشت شه موږ پنځم منزل کې یو زموږ له اجازې پرته پورته مه راخیجه، څه مو چې په کار وي موږ خبر درکوو، په فارسي ژبه یې دوی ته د غگېدا پیغام دا ؤ، چې ما هم مطمینه کړي، چې هلته نور څوک نه راځي .

هغه په سینه د تابع داري لاسونه کېښول، موږ دواړه پاس وختو .

ځان سره مې وویل اوس نه خپه کېږم، که څه رامنځته کېدل نو د یوه نفر مقابله خو چې ونه کړم بیا خو افغانی نه یم.

پنځم منزل کې یوې جوړې شوې حال ته ننه وتو، محرم تشناب ته لاړ ماته یې په مېز د خوراکي توکو او دسترخوان د غوړولو وویل:

په مېز مې خوراکي توکي خوراک ته چمتو کړل، خو فکر مې د خپل ځان د ژغورلو په اړه مشغول ؤ، د هغه له مخه مې دوه درې گولې وکړې، په سختۍ له ستوني تېرې شوې، نوره وگرځېدم، هغه ښه ډېره ډوډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخوړه بيا يې ګيلاسونه ډک کړل دواړه يې وڅکل دربيم يې ډک کړ ماته يې ونيو، ورته مې کړه زه ور سره عادت نه يم .

د سړي تندره تروه شوه ويې ويل که له دې سره عادت نه يې راشه زما خواکې کينه، دلته خو ځان عادت کړه، خو پام دې وي چې له دې انکار ونه کړې، کنه درته سخته به شي، ورته مې کړه ما ولې خواکې کينوې؟ په ما څه کوې؟ تر اوسه خو زما په وجود پردی ميړه تون هم ندی ګرځېدلی.ته ولې زما پاک وجود مرداروې هه؟!

راته يې کړه، څه د امام جعفر لمسۍ دې له ځانه جوړه کړې ځان راته پاکه، پاکه معرفي کوې، راشه زما څنګ کې کينه!

ما ورته د نه په دود سر وخوځاؤ، زما له دې کار سره د هغه مخ تک سور شو، هغه له ځايه پورته شو، زما هغه څوکۍ يې په لغته ووهله چې زه پرې ناسته وم، زه لرې ولويدم جيب ته مې لاس کړ، د برېږې خريلو پاکي مې راوباسله په دوو، ګوتو کې مې ونيوله غوښتل مې د خپلې غاړې رګ مې په پرې کړم او د ده له زيان او بد نيته ځان خلاص کړم خو چې ستوني ته مې رسوله زما لاس يې ونيو، لاس يې راباندې تاو کړ ډېر زور مې ور سره ووهلو خو د هغه په غټو وحشي متو باندې مې زور ونه رسېده، پاکي يې رانه واخيسته يوه کونج ته يې وغورځوله، دويم لاس يې هم راباندې تاو کړ، د خلاصون هر څومره هڅه مې چې وکړه په ونه توانېدم، شاته يې په يوه زولنې ته ورته پټه زما لاسونه وتړل، څومره به مې چې لاسو ته زور ورکاؤ هغومره به مې په لاس حلقه نوره هم راتنګېده .

ښه ساعت مې مقابله ور سره وکړه ،خو ستړې يې کړم له لاسو او پښو مې دمه وخته، کله چې ښه ډاډه شو چې زه نور هيڅ هم نه شم کولای نو وروسته يې زما د وجود په لوڅولو پيل وکړ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته مې کړه له خدایه وډار شه، زه ستا د لور په ځای یم، له ما سره داسې مه کوه، ومې وژنه خون هم دربښم، دا د شیطان هڅونه ده، له ما سره داسې مه کوه، هغه زما خبره نه اورېده، هغه لکه درینده ځناور چې غوښې لرونکی ژوی د ښکار لپاره پیدا کړي، د هغه چغې ،بغارې او لوڅې پوڅې، نه اوري او نه يې ګوري، یوازې غواړي خپله خیټه مړه کړي.

ورته مې کړه زما یوه اخري خبره واوره!

ـ ووایه څه وایې ؟

ته خو د عثمان اطغرل، لمسی يې چا چې د  عثماني خلافت بنسټ کېښود ،له نیمې زیاتې نړۍ ته يې اسلامي نظام ورساؤ، د سلطان محمد فاتح اولاد يې چا چې مېرمنو ته نړۍ په درناوي قایله کړه ،هغوی به نورو ممالکو ته تلل او کوم ځای کې به چې د مسلمانانو د تورسرو عزت خوندي نه ؤ هغه به يې ژغورلې د هغوی  پت به يې پر ځای کاؤ.

عثماني خلافت کې به چا د مېرمنو عزت لوټول خو لرې خبره وه د پردیو مېرمنو پوندو ته هم چا نه شوای کتلی، ته هم د هغوی اولاد يې د هغوی له ختې يې ته ولې د هغوی د اصولو خلاف څه ترسره کوې؟

راته يې کړه:

کوچنۍ، په دې وړه خوله دې ډېرې غټې خبرې کوې،کمال اتاترک د نظریه دې ژوندی وي  عثماني خلافت يې په یو خیال بدل کړ،موږ يې ترې خلاص کړو،اوس ترکیه د کمال اتاترک له مراثه خوند اخلي،بل دا چې زه ترکی نه یم، زه په اصل کې د ایران یم، دلته له پخوا مېشت یم او که ته په ترکانو نازېږې، هغه هم اوس هغه پخوانۍ ترکان نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې،زياتره يې د کمال اتاترک پيروان دي عياش دي، له ژونده خوند اخلي، دې ته نه ګوري چې د خوند سرچينه روا ده او ياه هم حرمه ده .

ورته مې کړه خو د ايران اخوندي رژيم هم د مېرمنو عفت ته ځان مسول او وفادار ګڼي؟

هغه راته کړه که د ايران اخوندي رژيم مې خوښېدی نو هلته به ميشت وم دلته د خوند په نړي کې مې څه کول.

سړي زما د خبرو لپار د اورېدو غوږونه نه لرل، خپل عمل يې کاؤ او بيا يې هم ما مقابله کوله هغه په ډېرې سختي له ما زور تېر کړ، ځان يې راته نيږدې کړ، له هغه وروسته زه بې هوښه شوم، ځکه چې زما سن ډېر کم ؤ لا مې ځوارلس کلني ته هم وخت پاتې ؤ.

سړي خپلې غوښتني پوره کړې، زما د هيلو په مری يې چاړه کېښوده، زه يې په ژوندونې ووژلم، ژوندۍ يې په خاورو ننه باسلم، هر څه هيلې او امېدونه يې را تبا کړل، يو وخت په هوش راغلم، کالي مې يوه او بل طرف ته پراته ؤ، ځان ته مې پام شو له ځانه هم وشرمېدم، لږ وروسته مې ذهن کار وکړ، د ژوند بازار مې ړنګ ړوچ ؤ، تمه مې وه چې لويه ډاکتره به شم په عزت به واده وکړم، د ګوتو په شمار د حساب سړی او نامې خاوند به ولرم، په دود کې کم ساری واده مراسم به وکړم، خو هر څه په يوه لحظه کې تبا شول، هر څه د شګو کور جوړولو غوندې و، د ځناورو په جامه کې سړی په خپل کټ کې اوږد غځيدلی ؤ د الکولو خالي بوتل يې په خواکې اېښې ؤ، له ما نه د پورته کېدا په وخت کې يې نور هم ځکلي ؤ، غږ مې پرې وکړ ورته مې کړه، زما يوه دنيا هيلې دې برباد کړې، د کومې ګناه له کبله دې زه دې داسې سزا ورکړ وبللم؟

د هغه ځواب نه ؤ د ستوني خرا يې تر لرې اورېدل کېده، چغې مې پرې ووهلې، بيا هم د هغه عکس العمل نه ؤ، پوه شوم چې هغه د شرابو په نشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې بې هوښه شوی دی، د چاپېریال سره یې اړیکې پرې شوې دي، را پورته شوم، کونج ته لاړم د ژوند د خاتمې لپاره مې هغه پاکي پېدا کړه چې وحشي رانه سړلې وه، لږ شیبه ورته ودرېدم، پورته مې خدای ته خوله ونیوله ومې ویل ربه څه به دې کم شوي وای چې ماته دې په دې چړې زما د مرګ پرې کولو توقیف راکړی وایی، زه اوس له دې ژوند سره څه وکړم، د پاکي (چړې) خواکې څملاستم، لاسونه مې شاته تړلي ؤ، پاکي ته مې لاسونه ور نیږدې کړل هغه مې راواخیسته، په ګوتو کې مې ونیوله، دې لاس پټه مې پرې، پرې کړه، جامې مې واغوستې.

پاکي نوره زما لویه وسیله شوه زما د انتقام صلاح ترې جوړه شوه په ګوتو کې مې کلکه ونیوله د وحشي انسان د مرګ مخامخ ودرېدم، د هغه په شاه رګ مې راکش کړه، په لومړي کش سره مې د هغه شا رګ پرې کړ، په ما کې د انتقام جذبه دومره زیاته وه چې خپلې ګوتې مې هم ور سره پرې شوې، د هغه د وینو فواره مې په خپلو سترګو ولیده، چې د اطاق د چت ځمکه یې لمدوله، د راجګېدو هڅه یې وکړه خو بېرته ژر په خپل بستر کې ولویده، دماغ ته یې نوره وینه نه پاس کېده، ینه مې نه یخېده، د زړه براس مې نه کمېده، د ځان د مظلومیت په څنګ کې د هغه افغان خوارې سترګې هم را په یاد شوې چې دده کسانو سزا ورکوله او هغه له ما په خوارو سترګو مرسته غوښته او ما هیڅ هم نشو ورسره کولی،د سزا له کبله د ده کسانو په کیبل تغمه، تمغه کړ او هغه چغې وهلې، د هغه بدن د وهلو له لاسه سور په وینو لړلی ؤ.

یوه او بل لوري ته مې وکتل تر څو یو څه تېره راپیدا کړم او دده له وجوده یې انتقام واخلم ، د خوراک د مېز په سر د مېوې دوه چاقو ګان پراته ؤ، راوا مې خیستل، په دواړو لاسونو کې مې د هغه وجود ته ونیول او د هغه په غوښو کې به مې راکش کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انسان په جامه کې د ځناور سترګو ته مې د چاقو څوکه ورلاندې کړه بوټې مې ترې، راوویستې، سترګې مې ترې راوباسلې ورته مې کړه زما پاک وجود ته دې ځرنګه په دې ناولو سترګو کتلي دي، هغه بې هوښه ؤ خو درد يې حس کولی شو، د وينې فواره يې راکمه شوه، د ده دمه هم وخته، لاسونه مې په وينو سره ؤ، تشناب ته لاړم، ائينه کې مې وکتل مخ ته مې هم د وينو څاڅکي رالوتي ؤ، مخ او لاس مې په صابون او ګرمو اوبو پرې مينځل.

جيبونه مې تلاشي کړل، څلور لوټه پکې ؤ هغه مې هم ترې واخيستل .

زړه مې يو څه ارام شو، ځان سره مې وويل: که اوس مړه هم شم هيڅ پروا يې نه لرم، که زما له ژوند سره يې لوبې وکړې، له ده نه مې هم ژوند واخيست، ډېر مظلومان مې ورنه بيغمه کړل.

د ده له مردار جسده مې کرکه کېده، بلې کوټې ته لاړم په يوه کونج کې کېناستم، نور په دې سوچ کې شوم چې ځرنګه ځان وباسم، نيمه شپه ده، او ښار هم له ګڼې ګوڼې خالي شوی دی، فکر مې وکړ، باډي ګارډ خو يې هسې هم نه راخيجي، تر سهاره دلته پاتې کېږم، که اوس ووځم ښار خالي ده په اساني پيدا کېږم.

تر سهاره په بله خونه کې پاتې شوم، يو خنډ راته پاتې ؤ، هغه په دروازه کې د هغه باډي ګارډ ؤ، ځکه د دروازې خواکې يې بل وحشي سپی هم نوکر درولي ؤ، ټوله شپه مې فکر وکړ، سهار چې رڼا خپره شوه، يو سوچ فکر ته راغی، لږ برياڵی راته ښکاره شو، راښکته شوم، د باډي ګارډ د دروازې مخې ته ودرېدم هغه هم راويښ شوی ؤ، برقي بخاری ته يې لاسونه تودول.

ورته مې کړه رييس دې معدې د درد ګولی غواړي، ويلې ته يې ترې راواخله، هغه ته اجازه نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب يې راکړ، خو درملتون لرې ده، اړ یم ټکسي کې لاړ شم

يو لوټ مې ورته ونيو ورته مې کړه ټیکسي کې لاړ شه، ګولی اړينې دي، هغه پيسې رانه واخستې.

او نور په ګوليو پسې لاړ، د دروازې له کنجه مې څاره چې ټيکسي کې سپور شو نوره زه هم راووتم.

ټيکسی ته مې لاس ورکړ، راته ودرېده، زه هم په بېړه وروختم، ټيکسي روانه شوه پوښتنه يې رانه وکړه، خو زه نه پوهېدم چې څه راته وايي، يوازې مې له خبرو الهام واخيسته چې کېدای شي راته واي چېرې ځې؟

زه هم نه پوهېدم چې څه ورته ووايم، د کوم ځای ورته ووايم، ځکه نه وم بلده او په دې هم ډارېدم چې که چوپ ورته پاتې شم شک به راباندې وکړي، پوليسو ته به مې په لاس ورکړي، ناڅاپه مې ذهن ته يوه کليمه راغله، ايران بارډر مې له خولې ورته ووت، سړی پرې پوه  شو، د هو په دود يې سر وخوځاؤ .

هغه هم پوه شو چې بهرنۍ ده، خو دې ته هم انديښمن شو چې خدای زده پيسې به ورسره وي کنه، غوښتل يې ځان ډاډه کړي، راته يې کړه موني، موني (پيسې)، پيسې مې په لاس کې تيارې نيولې وې يو لوټ مې ورکړ نه پوهېدم چې دا لږ دي او که ډېرې سړي چې وليده ورته خوښ شو، خو بيا يې هم د نارضايتۍ سر وخوځاؤ، په حرکاتو يې، پوه  کړم چې بسنه نه کوي بل لوټ مې هم ورکړ، لاس يې موټی کړ غټه ګوته يې پورته وه د اوکې نښه يې په لاس کې راته جوړه کړه، ما هم شکر ووېست چې ژر له ښاره ووځم، سړي ټيکسي ته پونده ورکړه، نوی موټر ؤ، ښه مزل يې کاؤ ترکيه په ريښتيا د سړکونو جوړولو په مهارت پوهېږي په عالي کيفيت د موټر ټايرونو په چابکو اوښتو سره د سړک تور مخ ښکلاؤ، ډېر تېز رفتاره موټر يې هم شاته پرېښودل، د سړک غاړې ښکلې ونې او تر شا يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شنو دښتو ځانګړې منظره لرله، خو مامې د مور او پلار په تصمیم د قیمتي ژوند په قیمار وهلو وېر کاؤ، په سترګو کې مې اوښکې نه تم کېدې، د یوه نامالوم برخلیک په لور راته د نوي ژوند کولو سفر خورا تریخ ؤ، فکر مې کار نه کاؤ، چې څه وکړم، چېرې لاړه شم، چېرې پاتې شم هیڅ داسې کومه تمه او هیله مې ذهن ته نه راتله، کله، کله به مې د بلال ښکلې سترګې، د فکر سترګو ته راته مخې ته شوې چې د ډوبېدو په مهال ما ورته کتل او هغه رانه فنا کېده، بیا به د هغه په اړه د هغې سوریایي فاطمې خبره ذهن ته راغله چې تاته نېږدې یوې بلې کېښتۍ یو ځوان ژغورلی دی، دغه یادښت به لږ خوښي راوښله چې ګوندې بلال ژغورل شوی وي، شکر به مې وویست ځان سره به مې وویل چې څه که هغه ژغورل شوی وي زه به مې هم د وجدان له عذابه خلاصه شم څکه ځورېدم چې بلال زما د ژغورلو له امله خپل ژوند له لاسه ورکړ، کله به لکه لېونۍ د هغه د یوځای اوسېدو ارمان راغی، چې کاشکې اوس راسره وایی څومره به پرې ډاډه وم، بس په همدې سوچونو کې موټروان په ښېښه کې راته متوجې شوی ؤ، چې زما پر مخ سل ځایه اوښکې راځي هغه شاته راوکتل په ریښتیا زما وېر او ژړا خوابدی کړی ؤ، خدای خبر ما به څومره ژړلي وي، زه په ځان نه یم پوه شوې او خدای خبر هغه به څومره غږونه په ما کړي وي خو ما ندي اورېدلي، هغه په وروستي ځل زما مخې ته سېټ وډباؤ زما پاملرنه یې ځان ته راواړول، د لاس په اشاره یې پوه کړم چې رانه پوښتي، څه شوي جلۍ؟

څهرې ته مې وکتل هغه هم بیخي زما ژړا خواشینی کړی ؤ، پوه شوم چې غواړي خواخوږي راسره وکړي، خو هغه ته مې د خپل ټپ ښودلو هیڅ ګټه نه کوله یوازې مې په اشاره دومره پوه کړ، چې مخې ته ګوري او مزل کوي، ترکان سخت بانزاکته خلک دي، پوه شو چې زه د خپل غم د ویلو سره دلچسپي نه لرم، نو بیا یې تر اخېره کومه بله پوښتنه ونه کړه او نه یې شاته راوکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له نیږدې شپږ ساعته مزل وروسته د ایران پولې راښکاره شوې سړي د عقب نما له ښیښې نه راته د ګوتې په اشاره وویل،: ایران بارډر، ما هم د هو په دود د خوښۍ سر ورته وخوځاؤ، زما حالت هم یو څه، د وخت په تېرېدو ښه شوی ؤ، اوښکې مې بندې وې او ماحول سره مې اړیکه بېرته ټینګه شوې وه، چپه خواکې مې د سړک غاړې ته یو کور تر سترګو شو د کور مخکې پنډه رمه ولاړه وه پوه شوم چې دغه خلک کوچیان دي ډرېور ته مې وویل:

سټاپ ( موټر ودورئ) هغه د لاس په اشاره د ولې پوښتنه رانه وکړه بیا یې د سرحد لور ته ګوته ونیوله چې هلته دې رسوم هوټل، هوټل، یانې د شپې تېرولو ځای هلته دی، هلته شپه وکړه!

خو زه په هوټلو کې ډارېدم، ځان سره مې ویل دلته دغه کوچیاني کور ته ورځم شپه دلته تېروم، سهار له مرزه تېرېږم، هغه ټیکسي ودروله، له ټیکسي ښکته شوم، کور هم د سړک سره نیږدې ؤ، زړه نازړه ور روانه شوم، سخته وه راته په نیږدې څوارلس کلنې کې، له داسې پېښو سره د مخامخ کېدو او زغملو تاب هغه هم په پردي هېواد کې په داسې حال چې هېڅوک هم درسره نه وي، د سختې حد یې یوازې هغوی ته مالومېږي چې پرې تېرېږي، الفاظ ورته نه جوړېږي.

یو سړی د رمې په سر کې ناست ؤ کچخول رقمه خولۍ یې په سر وه په سر کې یې برلوکی هم ښورېده راښورېده درېشی ته ورته جامې یې اغوستې وې خو پتلون یې ډېر پراخه ؤ.

زړه نا زړه ور روانه شوم، له ځان سره مې دا هم وویل که شپه رانه کړي بیا به څه کوم دا وېره هم راسره وه چې که پوه شي زه څوک نه لرم او د پوښتنې مې هم څوک نشته کوم زیان راته ونه رسوي، په همدې کشمکش کې مې د هغه په لوري قدمونه اخیستل، له خدایه ج مې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرستې دعا وکړه، بلاخره ور ورسېدم، زما خوشبختي ته وګوره چې د ایران سرحد ته نېږدې خلک څه ناڅه په فارسي ژبه پوهېدل سړي ته چې ورنېږدې شوم، د ترکې کرد قوم نه راته مالوم شو ځکه ما په ترکی سریالونو کې کردان لیدلي ؤ، همداسې ارت پتلونونه به یې په تن ؤ.

سلام مې ورواچاؤ، سلام یې ځواب کړ په ترکې یې څه راته وویل خو زه پرې پوه نشوم، په فارسي ژبه مې ورته کړه کاکا دا کور ستاسې دی، لکه د افغانستان د خلکو ځواب یې راکړ راته یې کړه، هو اول د خدای ج دی بیا زموږ دی.

بیا مې ورته کړه کاکا د شپې ځای نه لرم، شپه به راکړې ؟

هغه دوه قدمه رانېږدې شو، راته یې کړه لورې مسافره یې ؟

ـ هو

ـ لورې، ته زموږ مېلمنه یې، مېلمه د خدای ج دوست وي، زه دې خدای ج دوست ته کله ویلی شم چې شپه نه درکوم، زه به دې د میلمنې لور په څېر وساتم، په ډار او بیم کې وم، نه پوهېدم چې سړی څومره حقیقت راته وایي، سپین ږیری رانېږدې شو.

له لاسه یې ونیولم لاسونه یې هم لړزېدل، څو قدمه مخکې چې لاړه ویې ویل، فکر کوم په ذهن کې دې کومه وېره شتون لري، هغه له ذهنه وباسه، ما ورته وویل ته څه پوه شوې ؟

هغه په ږیرې لاس تېر کړ راته یې کړه دا خلي مې باد نه دي سپین کړي، ستا الوتې څهره ټول حال وای، د کاکا خبرو مې زړه لږ راتکیه کړ، د هغه په ریښتینولي مې یوڅه باور راغی، سترګو او زړه یې یو رنګه خبرې کولې ددغه حس په پېژندګولي کې مېرمنې بدې نه دي، مېرمنې ډېری نارینه له سترګو هم پېژني!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور ته یې ننه وتو، په یوه پاک ستره اطاق کې کیناستو یوه مېرمن درې لوراني، یو یې څوارلس کلن زوی زما هرکلی وکړ، لوراني یې ټولې پیغلې وې.

هرې یوې به په سترې مشې کې لکه د افغانانو غېږ راکوله او په مخ به یې ښکلوم، لورانو یې هم فارسي زده وه، یوازې د دوی مور وه چې په فارسي یې ژبه نه گرځېدله.

سپین ږېري یو سېرلی راونیو پښې یې پرې وتړلي، ژر، ژر یې چاړه پرې تېره کړه، سېرلي لغتې ووهلې، ماته یې د وحشي محرم لغتې را په یاد کړې، که مې هغه لغتې نه واي وژلې نو بیا به سخته خفه وم، بس کله به چې د خپل ژوند د تبا کېدو فکر مخې ته راغی نو د هغه په مرگ به مې ځانته یو څه تسلي ورکړه.

د سېرلي په حلالېدو ډاډه شوم چې دا خلک ډېر مېلمه پال خلک دي، له دوی مې هیڅ ډار ونه شوه، لکه د کور غوندې راته دغه کورنۍ و اسیده،.

دمه مې جوړه کړه، د ډوډۍ له خوړلو مخکې د کور مشرې پیغلې لاس راباندې واړاؤ راته یې کړه راځه د بام سر ته خیجو لږ به دې ساعت تېر شي، د حویلی انگړ ته راووتو، حویلی پراخه وه د مېو ونو ځانگړې ښکلا ورکړې وه، بام ته وختو سترگه او غر بیخي سره نېږدې شوي ؤ، بام فنایي درلوده، خوا و شا شنې دښتې وې یو نیم کور به په لرې فاصله کې مالومېده، جلۍ راته د سیمې د معرفت په اړه خوله پرانیستې وه ناڅاپه یې راته وویل یوه پوښتنه درنه وکړم.

ـ هو په سترگو ولې نه ؟

ـ غمجنه راته مالومېږې، که ستونزه نه وي لامل یې راته ویلی شې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نو ته څه پوه شوې؟

ـ شونډې دې وتلې دي، د وينو کپړک يې نيولي دي، شونډو ته مې لاس کړ په ريښتيا، وچې کلکې وې، لاس مې راښکته کړ، ګوتو ته مې وکتل يوه نيم ځای د وينو سره ليکه پرې پرته وه، پوه شوم له ډېر سخت حالته تېره شوې يم، ځان ته مخاطب شوم .

قاچاقبرې وجود ته دې ووايه چې د ستونزو په وړاندې زغم وکړې کنه پرته له ويلو به مې مخ او شونډې خلکو ته راز ووايي، د کابل وخت مې را په ياد شو؛ يو ځل مې شونډه وتلې وه، دوه اونۍ مې مور او پلار ګرد ګډول، چې زما درملنه وکړي او ډاکتر ته مې بوځي!

پيغلې وښورولم، راته يې کړه زه تاته غګېږم او ته بل ځای مصروفه يې!

د هغې په دې خبره مې ځان خجالت وباله، هڅه مې وکړه چې ځان قوي وښيم، سر مې ورته وخوځاؤ ورته مې کړه هو شونډې مې وتلې دي، خو د ډېرې انديښنې خبره نده!

ـ ريښتيا؟

ـ هو

هغې وخندل ويې ويل ځګرخوني نه پټېږي، ځکه ستا د ځګرخوني دويم دليل هم راسره شته!

ـ کوم يو؟

دوه ساعته کېږي چې زموږ مېلمنه يې، يو ځل دې هم خندا ته شونډې بېرته نه شوې، د هغې خبرې پرې نه شوې ويې ويل بل دليل مې هم ستا په وجود کې درک کړی ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ کوم ؟

ته دلته یې او ذهن دې بل چیرې دی.!

ـ ما ورته کړه! نه خفه نه یم همداسې جوړه شوې یم، خندا مې کمه په څهره کې وي.

خو شونډو وتلو ته زه هم نه پوهېږم چې ولې داسې شوې دي، هغه پوه شوه چې زه د شخصي ژوند په اړه څه ویل نه غواړم، نوره چوپ شوه خبره یې بدله کړه، په دې اړه یې نور ټینګار ونه کړ.

ماخوستن شو پر مېز ښکلې ډوډۍ تیاره شوې وه دوه نورو خوېندو یې د مېز په چمتو کولو کې ښه خواري  کړې وه، کله، کله به ما هم په کابل کې همداسې مېز تیاراؤ، هغه یې رایاد کړ.

د مېز ګر چاپېره کیناستو د ډوډۍ په خوړلو مو پیل وکړ، د اطاق په کونج کې پر یوه بل کوچني مېز تلوېزیون چالان ؤ، سپین ږېري یې زوی ته وویل چې د ډوډۍ په وخت کې تلوېزیون بند کړی هغه لا پورته شوی نه ؤ، چې ناڅاپه د تلوېزیون په ښیښه بیړنۍ خبر  راغی د هماغه کس جسد یې پر ښیښه وښود چې ما وژلی ؤ، دوی هم په حیراني سره د خبر په اورېدو یوه او بل ته وکتل خپل منځ کې یې هر یوه لنډه تفسیره کړه، خو زه یې د خبرو په مانا نه پوهېدم، وډاره شوم چې هسې نه، دوی ورسره کوم تړاؤ ونه لري، خو بیا هم منتظره پاتې شوم، د کور له مشرې پیغلې مې وپوښتل دا څه و؟

ځواب یې راکړ، یو لوی قاچاقبر په خپل کور کې مړ موندل شوی درې میاشتې کېږي حکومت یې په لټه کې ؤ، چې ویې نیسي، خو قاچاقبر په لاس نه ورته، هغې  وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د کومې اختطاف کړل شوې انجلۍ لخوا وژل شوی دی، په لاس کې مې د خوړولو قاشوقه وه بې واکه مې له لاسه خطا شوه، د مستو په کاب کې ولوېده، له مستو څو څاڅکي دسترخوان ته والوتل، ځان سره مې وویل که هغه کوټه کې امنیتي کمرې وي، نو زما انځور به یې هم اخیستی وي او که اوس یې په پرده وښیي نو زما د نېولو چانس په اساني د کور والاؤ ته ورځي، د تلوېزیون د ښیښې سره مې سترګې وګنډلې ځان سره مې وویل که زما انځور د تلوېزیون په ښیښه خپور کړي نو د تښتېدو هڅه کوم، خو زما د تمې خلاف راپور ختم شو او زما کوم انځور یې خپور نه کړ، دوی ته زما د کاشوغې لویدا د مسکا پلمه شوه ټولو وخندل، خو د سپین ږېري پلار یې تنده ورته تروه شوه د دوی هم وېړې خولې بیرته راټولې شوې، یوې پیغلې راته کړه:

ته خو داسې وارخطا شوې لکه دغه کس چې تاسې وژلی وي او یا مو هم د کورنۍ غړی وي، ما ورته کړه نه خدای ج دې زموږ په کور کې داسې بد بوټی نه راپیدا کوي.

موږ ډوډۍ ختمه کړه چې له مېزه پورته کېدو د موټر اواز شو، زموږ خواته یې اواز رانېږدې کېده، لږ شیبه وروسته، دروازه په زوره راوټکېده، د بابا زوی ور ووت، د سترګو په رپ کې د پولیسو په جامه کې څلور تنه راننه وتل .

ټول ځوانان ۇ ځانته په نوي نوم مخاطب شوم ومې ویل، قاچاقبرې لکه چې په لومه کې ولوېدې!

لکه چې دغو خلکو دوکه کړې او په راز دې پوه شوي دي، اوس یې پولیسو ته خبر ورکړی، هلک دوی یوې بلې کوټې ته رهبري کړل، خو پولیسو زموږ خواته ډېر راکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما پرته له دې چې نور صبر وکړم سپين ږيري ته مې خوله ورواړوله ورته مې کړه؛

تا خو ويل چې د لور په خېر به دې وساتم او مېلمه پالنه به دې وکړم

ته خپله لور په دې ډول ساتې؟

تا له ما سره ولې داسې وکړه؟

ما خو تاسې ته سيمه راوړې وه، لږ مخکې مو د ماښام لمونځونه هم وکړل ځانونو ته مسلمان هم وايئ، يوه تور سرې په خوږو الفاظو غلطوي بيا يې په لومه کې راگېروئ.

خبرې رانه په زوره شوې، ورته مې کړه ماته نور ژوند او مرگ يو ډول مقام لري، له ژونده مرگ ته لا خوښه يم، ځکه چې د ژوند دا پيټى راباندې بيخي دروند شوی دی نور يې نشم وړلی.

دروازه راخلاصه شوه، څلور واړه پوليس قطار زما مخې ته ودرېدل .

څلور واړو ږيرې خريلې وې يوه پکې غټو ته نېږدې بريتونه پر شونډو پراته ؤ، سپينه نوراني څهره يې درلوده سپين ږيري ته يې په ترکي ژبه څه وويل:

هغه ځواب په فارسي ژبه ورکړ:

زويه موږ هم نه پوهېږو چې زموږ گناه څه ده او مېلمنه ولې په قار ده؟

بريتور زلمی پوه شو چې زه په ترکي ژبه نه پوهېږم، ماته يې په فارسي خبرې پيل کړې راته يې کړه:

څه خبره ده؟ تاسې ولې داسې نارامه ياست؟

ـ ولې به نارامه نشم، دوی تاسې زما د بندي کولو لپاره راوغوښتي کنه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان ټنډه تروه کړه، بیا یې وویل، نو همداسې ستاسې مېلمستیا ته دوام وکړو، خود به دې بندخونې ته بیایو.

زما نفس په قیدېدو شو، په ژړغوني اواز مې ورته په زاریو پیل وکړ ورته مې کړه؛

خیر دی، ما باندې ترحم وکړی، زه ستړې شوې یم، زه نوره د شکنجو او ځورونو تاب نه لرم.

ـ یو دم ټوله کوټه خنداؤ واخیسته، زما زاری هم ودرېدې یوه، او بل ته مې کتل، سرتېري ځلور واړه له خندا په ملا مات دي ، نه پوهېدم چې زه وارخطا ډېره وم او دوی ماته زما د مرال راکولو په پار خندل او که کومه بله خبره وه !

سپین ږیری چوپ ؤ، له خپل ځایه ولاړ شو، ماته یې وکتل بیا یې وویل، د سرتېرو مخونه به درته په څاپېړو تک شنه کړم چې تا ته پورته هم وګوري.

مشره پیغله راغله زه یې غېږ کې ونیولم، ویې ویل: دا مې ورونه دي، دلته سرحدي پوسته کې دنده لري، مور مې راوغوښتل چې د سیرلي تازه غوښه وخوري، له ډوډی خوړلو وروسته بېرته ځي، تا پسې نه دي راغلي!

بریتور سرتېری مې مخې ته د مېز په څوکۍ کیناست، راته یې کړه، درې خوندې مې ولاړې دي ته مې ځلورمه خور یې، موږ د دې کور یو ته هیڅ اندېښنه ونه کړې.

سپین ږیري سړي هم زما د ډاډ لپاره وویل:

موږ له مېلمه نه د پوښتنې کولو حق هم ځان ته نه ورکوو، موږ یوه تاریخي کورنۍ یو نه پوهېږم تا به د صلاح الدین ایوبي نوم اورېدلی وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنه؟ زموږ د کورنۍ شجره هغه ته رسېږي موږ په ټبر کردان یو او د ستر صلاح الدین ایوبي پورې مو نصب رسېږي.

موږ په مېرمنو د لاس پورته کولو حق ځان ته نه ورکوو او نه پرې لاس پورته کوو،سره ددې چې هغه موږ ته زیان هم واړوي.

که دا کار وکړو، ستر صلاح الدین ایوبي به په ګور کې خفه شي، هغه به په نورو هېوادونو یرغل ور وړ، تر څو هلته بې پته مېرمنو ته د عزت اعاده وکړي، نو موږ ولې میلمه ته زیان ورسوو.

او بیا مېلمانه خو زموږ په سر کې سترګې دي.

زه هم په خپله څوکۍ کېناستم لړزېدلی زړه مې یو څه ارام شو، مخامخ سرتېري ته مې وویل تاسې د هغه صلاح الدین خبرې کوئ، چې بیت المقدس یې فتح کړ .؟

دوی یو بل ته وکتل بیا یې وویل:

ته هم هغه پېژنې ؟

ـ هو ولې نه، هغه پېژنم!

هغه مسلمان د ړوند شي چې صلاح الدین ایوبي نه پېژني، ما یې په یوه مجله کې د ژوند لنډ داستان لوستی، دی.

سرتېري ته مې وویل:

ـ سبا به له ما سره یوه مرسته وکړې؟

ـ چې خور مې شوې نو بیا له خور سره سړی مرسته نه کوي؟

ووایه څه درته وکړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زه سبا ایران ته ځم، هیڅ بلده نه یم، ما له سرحده اړولی شې؟

- نو بیا چېرې ځې؟

- نه پوهېږم، د یوه نامالوم سفر لاروې یم.

-گورئ خورې، موږ له مېلمه نه دا پوښتنه چې ته څوک یې؟ له کومه ځایه راغلې؟، دلته دې څه کول؟ دا شرم گڼو البته دا زموږ د ځانگړي ټبر دود دی .

خو که د مرستې په پار یې وایې کېدای شي مرسته درسره وکړای شم

ـ زما کیسه ماته هیڅ گټه نه کوي نو ویلو ته یې څکه اړتیا نه بولم

ـ سمه ده زه ټینگار نه کوم، د ایران کوم ځای ته ځې

ـ تهران ته!

ـ له سرحده د تېرېدو موږ هیڅ کومه قانوني موانعه نلرو، بلکې په دې کار زموږ مسولین خوشحاله کیږي هم .

پاتې شوه د ایران خبره، هغه نو بیا زموږ له واکه وتلې ده، خو بیا یې هم زه حلوم، یو شمېر موټر له ترکي ته تهران ته خوراکي توکي وړي، هغوی سره دې په موټر کې پټ ځای کینوم، تر تهرانه دې رسوي.

ـ خو که داسې راسره وکړې بیا خو به مې وگټې.

بریتور ځوان په ټېر باندې لاس کېښود، ویې ویل دا د ورور درسره ژمنه ده.

زه په کوچنیوالي کې هم له بریتورو خلکو ډارېدم، خو لومړی ځل ؤ چې، له بریتو مې کرکه ونه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرتېري خپلو دندو ته ستانه شول او ژمنه يې وکړه چې سهار زه درپسې موټر راولم.

موږ هم د خوراک له مېزه پورته شو، د کور مشرې پيغلې يوې خونې ته ننه باسلم، خونه کې يو ښکلی پالنګ پروت ؤ، راته يې کړه دلته داسې وېده شه لکه د لومړی شپې ناوې، ته هيڅ کومې انديښنې ته اړتيا نه لرې، خو چې وتله راته يې کړه، زه پوهېږم، له سختو تاړاکونو راوتلې يې، زه مو له هر چا ښه محسوسوم، زموږ ټول کور په دې پوهېږي چې ته يوه دردونکې کيسه له موږه پټوې، موږ هم ځان ته دا حق نه ورکوو چې ستا په شخصي ژوند کې مداخله وکړو، خو که کېږي، يوازې ماته د زړه براس وباسه، لږ به دې دا غمونه سپک شي زه ژمنه درسره کوم د يوې کردی جلۍ په صفت چې خپلې کورنۍ ته هم ستاسې کيسه نه کوم، د هو په دود مې سر ورته وخوځاؤ، خواته مې راوغوښته، راسره کيناسته، کيسه مې ورته پيل کړه او بيا تر ترکې مې ورته راورسوله، کله مې چې له کيښتۍ زما او د بلال له لوېدو او د بلال د غرقېدو ته کيسه راوسېده، د هغې ښکلې بادامي سترګې له اوښکو ډکې شوې، کلکه يې په غېږ کې ونيولم، بيا يې ښکل کړم د نورې کيسې د غځېدا غوښتنه يې وکړه !

ورته مې کړه:

ته پوهېږې بيګا چې کوم خبرونه ؤ او هلته زما له لاس کاشوغه ولوېده هغه کوم تصادف نه ؤ، هغه يوازې د کاشوقې لوېدل نه ؤ، له هغې سره زما د هيلو د تبا کېدو کيسه تړلې وه ،

ـ هغه څنګه ؟

ـ دغه کس زه يرغمل کړې وم، بيا يې يوه ځانګړي ځای ته راوستم، هغه ماته د انسان په سترګه ونه کتل، له ماسره يې د کاغذ تشناب په څېر چلند

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ، زما ټولې هیلې ، حیثیت، ابرو او بسته ژوند، یې د یوې لحضې خوند نه قربان کړ.

زه نه پوهېږم دا نړۍ ولې دومره بدرنګه شوې، له نړۍ ولې زړه سوي کډه کړې، انسانیت ولې له منځه تللی؟ د پیغلې مړه ژړا په ژوندیو لویو، لویو چغو بدله شوه اطاق کې یوه غوغا شوه، هغې ته مې چې هر څومره د چوپتیا سپارښتنه کوله د هغې چغې نورې هم پسې زیاتېدې، لږ وروسته، د کورنۍ دوه نورې لورګانې، مور او سپین ږیری پلار زموږ مخکې په وراخطا څهرو ودرېدل، په ترکۍ ژبه یې له پیغلې فکر کوم همدا پوښتنه وکړه چې څه خبره ده ؟

څه شوي ؟

ولې چغې وهې؟

پېغلې هم په ترکۍ ژبه ورته ځواب ورکاؤ، خو زه نه پوهېدم چې څه ورته وایې، زما له زړه یو خدای ج خبر ؤ ډارېدم چې که زما کیسه ورته وکړي ماته به کومه ستونزه جوړه کړي، خو ترکان سخت بانزاکته خلک دي، پټ په زړه کې پوهېدل چې ما ورته د خپل مظلومیت کیسه کړې او هغې کیسې یې لور چغو ته اړ کړې ده، هغوی لږ وروسته شاته قدمونه واخیستل او زموږ د اطاق ور یې راپورې کړ.

ما پیغلې ته مخ ورواړاؤ ورته مې کړه، تا خو ژمنه کړې وه چې هغوی ته نه وایې؟

هغې په داسې حال کې چې په سترګو کې یې ډنډ اوښکې ولاړې وې، راته کړه؛ که افغانان په ژمنه کې کلک دي، کردان هم له دوی کم نه دي، د کردانو ځانګړتیاوې افغانانو ته ورته دي ،ما ستا په اړه هیڅ هم ندي ورته ویلي ما هغوی ته وویل چې بېرته خپلو اطاقو ته ستانه شي، ورته مې کړه:



(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې دې چغې کړي، ايا زما کيسه دومره تراجيدي وه ؟

هغې زما په اوږه لاسونه واړول راته يې کړه خورې:

ستا په حال بايد، انسان څه چې ځمکه او اسمان وژاړي، د يوې پيغلې په صفت دې زه درک کولی شم، ستا په معصومه کم عمره ځهره کې يو پټ طوفان او ويجاړي درک کولی شم، په عزت د لوبې په اصل کې ستا په ژوند لوبې دي، ستا درد دومره لوی دی چې ما يې د اورېدو تاب له لاسه ورکړ، ځان مې کابو نه شو کړای، ته ډېره مظلومه يې، له دې خبرې وروسته هغه راته مخامخ شوه، زما ځهره کې يې سترګې وځومبلې ويې ويل؛ ښه نو د هغه سړي د مرګ راز باندې خبره شوې ؟

ـ هغه ما وواژه، ما په خپلو لاسونو د هغه مری پرې کړه!

ـ نو ته په دې کار څرنګه بريالی شوې، ته يو تن او هغوی له وسلو او باډيګارډانو سره، هغه ته دې څرنګه داسې سزا ورکړه دا څنګه کېدای شي؟

کله چې د خدای ج مرسته راشي، بيا ځواک او بشري قوه، هرڅه کار پرېږدي.

هغې د هو په دود زما له خبرو سره د توافق سر ښوراؤ او زما دې کار ته يې د اتلولي لقب هم ورکړ.

سترګې مې خوب وځمبولې، کردی جلۍ هم زما په حالت پوه شوه، په بالښت د سر اېښودو يې راته وويل خپله هم زما سره جوړه په تخت وغځېده، لاس يې راباندې واړا ؤ.

لږ وروسته د خوب پر بالښت د ويښتيا څپه خوب رانه واخيسته .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار شو د کور مشرۍ پیغلې د ښځو له ګوتې ونیولم راویښه یې کړم راته یې کړه کالي دې خیرن شوي خپلې جامې مې په حمام کې درته ایښې دي، لومړۍ حمام وکړه بیا هغه واغونده.

یو کوچنی بکس مې درته اېښی، خپلې جامې دې په هغه بکس کې واچوه په فرصت به یې ومینځې کاش چې ما د شپې ورته پام شوی وای، ما به مینځلې وې تر سهاره وچېدې، پاکې به دې په بکس کې ایښې وې.

خو خیر په فرصت یې درته ومینځه!

په ریښتیا هم ما نورې جامې نه درلودې، ورته خوښه شوم، خو شرم راته برېښیده، چې د هغې نه جامې واخلم، ورته مې کړه خو هغه ستا جامې دي ؟

ـ اندېښنه مه کوه، زما نورې هم شته، نښه دې وي!

حمام ته لاړم او جامې مې بدلې کړې،

موږ د سهار چای خوړ چې بریتور ځوان فوځي موټر راوست، زما خو چای نه تېرېده د یوه نامالوم برخلیک په لورې مې سفر درلوده، نیګارانه وم، چې مخکې به څه راسره کیږي، ځکه پېغله وم، نه مې د دفاع څوک ؤ او نه څوک رانه شرمېدل.

موټر ته وروختو د کور پیغلو او مور لکه چې د کور کوم غړی یې رخصت کیږي، د هر یوه په ښکلو غومبرو لس ځایه اوښکې راتلې.

د ژمنې سره سم کرد زلمي په یوه اوږد، بارداره موټر په جنګله کې یو پټ ځای راته جوړ کړ، د لرګي تخته یې راباندې کېښوده، د موټر نمبر پلېټ یې ځان سره ولیکه موټروان ته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زما خور ده، کردان له خپلو خوېندو سخته ساتنه کوي، که یې شکایت واورم، بیا هم په همدې لاره راځې، نو بیا په خپله پوهېږې چې زه هر څه در سره کولی شم.

هغه بلې اقا، مه در خدمتم وویل:

کردي زلمي ته مې له تختې لاندې ورغږ کړ:

زه نه غواړم د تهران ښار ته د ننه شم، د ښار یوه څنډه کې دې ما ښکته کړي، هغه  ایراني عسکر ته زما د غوښتنې وویل: موټروان به چشم وویل نور...

موټر حرکت وکړ او بیا له اوږده مزل وروسته هغه وخت هم راورسېده چې موټروان مې له سره تخته لرې کړه، راته یې کړه اوس د تهران په لس کیلو متري کې یو.

سر مې له فنا ځایه  راپورته کړ، سترګه د غره په څوکه ولاړه وه ، خپله رڼا یې هم تته کړې وه زېړې وړانګې یې خپرولې له سړکه د یو کیلومتر په فاصله کې یوه کور ښکارېده، له کوره په لږ لرې فاصله کې یوه کلی هم تر سترګو کېده، موټروان ته مې وویل زه همدلته ښکته کېږم.

موټروان وویل:

زه هم پردی مزدور یم، که لږ پیسې راکړې، ښه به وي، یو لوټ راسره پاتې وو، هغه مې له جیبه راوباسه موټروان ته مې ورکړ.

له موټره ښکته شوم، د ځان شخې مې وباسله د یوې پېغلې لپاره ډېره سخته وي چې پردي وطن کې ګرځې، د شپې ځای نه لري پېسې نه لري او د خواهشاتو د وګو انسانانو په منځ کې یې ژوند په برخه شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دلته په دې فکر ښکته شوم او ښار مې انتخاب نه کړ چې کوم کور کې به شپه وکړم، نه د هوټل پیسې راسره وې او نه هغه ځای مسؤن راته برېښیده !

هلته لږې فاصله کې کور باندې مې سترګې خښې کړې وې د هغه کور په لوري روانه شوم، چې د موټر له جنګلې مې لیدلی ؤ، له زړه مې یو خدای ج خبر ؤ، وېرېدم چې هغوی به شپه راکړي او کنه؟ که د شپې ځای راکړي، څه ډول خلک به وي، ایا زما مجبوري به درک کړي او که له مجبورۍ به مې ناسمه ګټه واخلي، په همدې زړه نازړه توب کې روانه وم، یو ارمان راغی او هغه ارمان دا چې کاشکي یوه وېډیو مې د ځان کړې وای او زما د سرنوېشت ټول شارټونه مې پکې اخیستي وای، بیا هغه وېډیو زما مور او پلار ته چا ښودلې وای چې والدینو تاسې خو ارامه ژوند غوښت ایا زما په اړه مو هم فکر کړی ؤ،!؟ کنه !

داسې مو نه ویل چې زموږ اولادونه کېدای شي د دې سفر له امله د یوه نامالوم برخلیک سره مخ شي بیا به څه کوي ځان سره مې وویل کاشکې دا حالت مې مور او پلار په خپلو سترګو وویني، خو تش خیال ؤ پوهېدم، چې سرته نه رسېږي، سر مې راپورته کړ د کور دروازې ته نېږدې شوې وم دروازه مې ټک، تک کړه یوه مېرمن راووته ورته مې کړه مسافره یم، که یوه شپه راکړې.

مېرمنې ښکته او پورته راته وکتل، په تاو کې یې مخ رانه واړاؤ، له څه ویلو پرته یې دروازه راپسې راپورې کړه، د دروازې، درز مې د زړه درزا هم زیاته کړه، لږ شېبه خو د دروازې تر مخه لکه د وظیفې ملنګه تم شوم، په دې تمه وم چې په زړه کې به یې رحم راشي بیا به دروازه راخلاصه کړي او د تیارې او ماښامي له امله به راباندې زړه وسوځوي، خو دروازه لا هماغسې بنده وه چا یې د خلاصولو هڅه ونه کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه شوم د کلي خواته لاړه شم په لارو او کوڅو کې د شپې تېرولو ځای ولټوم، له لنډ مزل وروسته هغه کلي ته ورسېدم، چې په سترګو کې مې نېولی ؤ، یوه کوڅه مې په مخه راغله، ور ننه وتم مخې ته روانه شوم د کوڅې یوه لوري ته یوه دروازه وه بل لوري ته لړ مخکې ډله ځوانان ناست ؤ دروازه مې وټکوله بیا هم یوه مېرمن راووته په سر یې کوچنی دوسمال اچولی ؤ، ورته مې کړه، ماښام دی تور سرې یم، د شپې ځای نه لرم، که نن شپه خپل کور کې ځای راکړې.

وې ویل:

نشته، دلته ځای نشته!

خدای زده څومره افتونه به درسره وي.

په چوپه خوله ترې روانه شوم، ځوانانو راکتل سترګې یې نه رانه باسلې، چې ور ورسېدم، دوه درېیو یې په یوه غږ وویل اې جلی هوټل ته به لاړ شو، ښه ګرمه شپه به تېره کړو...

ما نه ورکتل خو د دوی دغه تېرنظري، مې زړه پرې کاو او ځان راته ډېر کم مالومېده، له انسانیته مې کرکه کېدله.

له لنډ مزل وروسته یوې بلې دروازې ته ورسېدم، تیاره هم د اسمان په لمنوکې خپرېده هغه مې ټک، ټک کړه له لنډ انتظار وروسته یوه مېرمن راووته، د کور حویلی یې ښکارېده دننه پکې څو مېږې، وزې او غواګانې په اخورونو تړلې وې، هغې ته مې د شپې سوال په ځای د مزدورۍ وویل ورته مې کړه ستا د غواو او مېږو ساتنه به کوم، پوښتنه یې وکړه د ورځې څو روفۍ غواړې ورته مې کړه، بس شپه راکوه، مزدوري نه غواړم، ډېره ډارېدم، چې که د شپې د باندې پاتې شم، خدای زده څه به راباندې وشي، د خواهشاتو وګي به مې څومره ازیت کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ننه راتلو يې راته وويل، زړه کې مې يوه خوښي پيدا شوه لکه چې چا يو کور وړيا راکړی وي، دومره خوښي يې خبرې راکړه، په بيړه ور دننه شوم، خاوند يې هم په کور کې و، سختې يخني اخيستې وم د خاوند يې راته پام شو، لکه د پاڼې رپېدم.

گازي بخارۍ بله وه، هغه سره يې د نږدې کيناستو راته وويل زه هم لاړم، ست مې ونه غوښت هلته کيناستم.

سړي پوښتنه وکړه ويې ويل د کوم ځای يې؟

سترگې مې له ځمکې سره گنډلې وې، هغه ته د مخامخ کتو نه هم وېره راته کېده، ورته مې کړه:

د افغانستان يم، دلته مهاجر يو، د اقتصادي بحران سره مخ يو .

ويې ويل:

ستونزه نشته زما مېرمنې سره د څارويو پالنه کوه، زه به درته د ورځې معاش هم در کوم، دې خبرې نوره هم خوښه کړم ځکه په جيب کې مې يوه روفۍ نه وه، پيسو ته مې ډېره اړتيا وه، دوه کوچنی زامن يوه لور يې رانه تاؤ شول راته يې کړه، زموږ له کوره به نوره نه ځې، موږ سره اوسېږه، ښه!

ماشومانو ته مې ډېره په سختي مسکا وکړه، د هو په دود مې سر ورته وخوځاؤ!

څه ښه يې ويلي ماشومان که د شرق وي او که د غرب، معصوم وي، زړونه يې پاک وي، هغه څه وايي چې په زړه يې راځي، د غټانو غوندې نه وي، چې د يوه لاس نيوي تر شا لسگونه پټې موخې لري.

پلار يې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی حفاظت هم کوه!

ما، نه، نشوه ویلي! ځکه ناچاري وه، ډېره مجبوره وم، د هو په دودسر ورته خوځآؤ.

ماخوستن شو د گرد مېز تر شاه کیناستو ډوډی مو وخوړه، سړي ماته وکتل سر یې وښوراؤ، له ځایه پورته شو کوټ بند کې د مېرمنې راځړېدلی کوټ ته لاس کړ راته یې کړه چې بېرون وځې دا هم اغونده بهر یخ وي، مېرمنې ته یې دغه کار خوند ورنه کړ، څهره یې مړاوي شوه، ما ورته وویل زما یخ نه کېږي، دا اغوستي کالي مې گرم دي دېته اړتیا نشته!

خو ټینگار یې وکړ ترې وامې خیست مېرمنې یې بهر وباسلم یوه خونه یې راته وښوده ویې ویل همدلته ننه وځه همدا د خوب کوټه ده، له دې وروسته زما کوټې ته پرته زما له ویلو رانشې، مېرمنې دا هم وویل له داخل نه ور دریپسې رابند کړه، سهار هم وخته جگه شه!

ورته مې کړه څه چې ته وایې هماغسې به کوم!

شپه مې نا ارامه او په وېره کې تېره کړه، نه پوهېدم چې څه راسره کېږي خو تر سهاره مې کوم گواښ حس نه کړ.

سهار وختي پورته شوم، اودس او لمونځ مې وکړ،چای مې چمتو کړ،دوی ته مې ور وړ د چایو له خوړو وروسته سړی خپل کار پسې ووت ، مېرمنې راته د لسو مېږو، وزو او دوه غواگانو د لوشلو وویل، ما په ژوند کې هم چېرې غواوې او اوزې نه وې لوشلې او نه یې په چل پوهېدم، ورغلم لوښی مې را سره واخیست د یوې غلې وزې، خواکې کیناستم له څنگه مې د تیونو د راکشولو هڅه پیل کړه، له لرې د مېرمنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راباندې پآم شو، ویې خندل بیا راپسې راغله راته یې کړه، له شانه ورته کینه ،د وزې پښې ازادې کړه او بیا یې په لوشلو پیل وکړه!

ـ مننه چې په چل دې پوه کړم زه د وزو له لوشلو سره بلنده نه یم.

هغې په یوه کینه ناکه لهجه راته وویل:

مننه پرېږده، منظم کار کوه، که یې نشې کولی هم ووایه چې تصمیم ونیسو!

ما ښنه ترې وغوښته، د مېږو او وزو په لوشلو مې پیل وکړ، ډېرې وې، په اخېر کې مې لاسونه شل شول او گوتو مې کار پرېښوده، خو مجبوری هم بد شي وي، هغه ټپه راپه یاد شوه.

د ناچارۍ مېرمنه واخلم.
سړی به سترې وي، د بل زړه به ساتینه!

ماښام د مېرمنې خاوند راغلی، زما لخوا یې ورته شکایت وکړ ورته یې کړه دا جلۍ په کار نه پوهېږي، کار نشي کولی، زما لاس پرې ازاد نه دی، هغه ماته وکتل بیا یې خپلې مېرمنې ته وکتل.

راته ویې وویل:

ته ریښتیا په کار نه پوهېږې؟

ـ هو له کار سره بلده نه یم خو لږ چانس راکړئ، یوه اونۍ کې د هرڅه سره بلدېږم، په دې ورځو کې چې له کار سره ځان بلدوم په وړیا ډول کار کوم.

د دې ورځو معاش نه غواړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هغه مېرمنې ته مخ ورواړاؤ ورته یې کړه، وخت ورکړه، بیچاره به ډېره مجبوره وي، هغه نور د خپل اطاق په لور روان شو.

مېرمن یې  چوپ پاتې شوه، نه یې د هو او نه یې د نه ځواب ورکړ، خو ماته یې په توند نظر وکتل، لږ وروسته یې ځان ته وغوښتم، راته یې زما چامپر وباسه، سخت یخ ؤ، خو امر ؤ  هغه مې وویست، ویې ویل زما د خاوند اطاق ته یې وروړه ورته ووایه چې زه دا نه غواړم.

د هو په دود مې ورته سر وخوځاؤ، جامپر مې په لاس کې نیولی ؤ، خو دا راته سخته وه چې زه د مېرمنې خاوند ته ودرېږم او ورته ووایم چې زه دا نه غواړم، ځکه چې راته مالومېده هغه کوم بد نیت نه درلوده .

مېرمنې ته مې وویل:

زه دا نور نه اغوندم، بس ځان سره یې وساته، ستا خاوند زما د پلار په څېر دی زه د هغه په وړاندې بې ادبي نه شم کولی.

هغې په تاو کې جامپر رانه واخیست او د خیرنو کالیو په کوټه(ډمبار) یې ورګډ کړ، راته یې کړه سبا دا ټول ومینځه.

ورته مې کړه، سمه ده په سترګو!

ماخوستن د خوراک نه پس مې په دهلېز کې د خوراک چټل لوښي مینځل د مېرمنې خاوند راباندې راووت  زه په لوښو مینځلو لګیا ؤم  راته یې کړه یخ دی، وجلۍ ما جامپر ددې لپاره درکړ چې وایې غوندې، خو تاسې اوس هم په یوه کمیس کې کار کوئ او دې یخ ته ناسته یاست .

ځواب مې ورکړ، زما یخ نه کېږي

ـ نو جامپر دې څه کړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ خیرن ؤ، د ناولیو جامو سره مې واچاؤ سبا یې منځم،

هغه له دې خبرې سره ننوت او د مېرمنې بل چامپر یې راوباسه ویې ویل: تر هغو دا په تن کړه.

ـ نه دا بېرته خپل ځای ته ویسه، ستا د مېرمنې هم ورته اړتیا ده یخ ده زه په دې جامو کې ارامه یم یخ مې نه کېږي، زموږ وطن ډېر یخ دی زه له یخ سره بلده یم.

هغه په قار شو ویې ویل زه چې څه درته وایم هغه منه!

وډاره شوم چې زما په اړه زما  له کاره د گوښه کولو راته ونه وایي، جامپر مې ترې واخیست، پوهېدم چې هغه د یوه انسانیت له مخې دا کار کوي، خو له دې کار یې مېرمنې خدایزده ولې، ښه نه راتلل او زه هم نه پوهېدم چې څه وکړم!

بس د سپینې غر بې واورو نه وي، زما ژوند هم د ستونزو یوه ټولگه جوړه شوې وه، د خدای په یوه ازمایښت کې مې ژوند غوټه شوی ؤ.

سهار شو د مېرمنې خاوند بهر په خپله دنده پسې لاړ او مېرمن او زه سره پاتې شوه ما د بنډار کالیو په مینځولو پیل وکړ، لږ وروسته مې مېرمن په خواکې ځړېدلې شونډې کیناسته راته یې کړه، که زما پرونۍ خبره دې منلې وایئ بیا به د دویم جامپر درکولو خبره نه پیښېده.

ورته مې کړه، ته ولې بې ځایه فکرونه کوې، ته زما د مور په ځای یې او هغه مې د پلار حیثیت ماته لرئ، زه ډېره مجبوره یم او له مجبوري هېڅوک هم نشم خفه کولی، تاسې ما درک کړئ ښځینه طبقه، ښځینه طبقه ښه درک کولی شي، تاسې څه خبر یاست چې زه څومره غمونه لرم او څومره بدبختي لرم، په کوم اړوند چې تاسې فکر کوئ، په ډاډه زړه درته وایم چې دا یوازې ستاسې واهمه ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خاوند سره دې په باور ژوند وکړه ځکه چې بې باوره، ګډ ژوند په اور کې ژوند وي او بس.

راته يې کړه ننني بازاري انجونه زه ډېرې ښې پېژنم، په دې کم عمر کې چې داسې تېرې او ځواکمنې خبرې کوي، له ډېرو لوبو تېره شوې يې !

سبحان الله مې وويل:

نور د کاليو په مينځلو لګيا شوم، هغه هم زما له څنګه پورته شوه، تر غرمې مې کالي پريمنځل.

ذهني خو له پخوا ستړې وم خو دا ځل جسمي هم ښه ستړې شوم، خوب راغی کالي مې ژر، ژر لمر ته هوار کړل، غرمنی مې زړه ته نه کېده، خپل اطاق کې څملاستم، درې بجې راپورته شوم، د مال د لوښلو وخت ؤ هغه مې ټول راولوشل، د مازديګر سترګه لوېدو ته نېږدې وه، لمونځ مې وکړ، مېرمن راغله راته يې کړه شيدې وويشوه، د مستو لپاره يې اماده کړه، غټ ديګ شيدې مې په ګاز کېښودې، له جوش وروسته مې خپل ځای ته وړې چې پښه مې دوربل شوه، ديګ په ځمکه ولګېده، زه هم ولوېدم، د ديګ غږ ښه دروند ؤ مېرمنې يې غږ واورېده، د انګړ يوه برخه ځمکه سپينو شيدو نيولې وه او زه يې هم لکه بې ساه بنيادم په څنګ کې ولاړه وم، پوهېدم په دې تېروتنه به سزا ګورم، خو په دې نه پوهېدم چې دومره ستره سزا به وينم داسې سزا چې ما يې فکر هم نه وو کړی داسې سزا چې هغه د وحشت اخري برېد وي، هغه د انسان نورانيت ته ګواښ شي، هغه د انسان د پېژندګلوي له خطر سره مخ کړي.

مېرمنې رامنډه کړه د اوښتي ديګ د ابشيدليو شيدو په خواکې حيرانه ودرېده، د ديګ په منځ کې هم د دوه کيلو په اندازه جوش شوې شيدې پاتې وې د مېرمنې سترګې په هغو ولګېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قهرجنه څهره یې په ما کې سترګې ونیوې راته یې کړه:

ته ړنده وې لاره دې نه لېدله، بیا یې په دیګ کې اېشیدلیو شیدو ته پآم شو په دواړو لاسونو یې د دیګ ژۍ ونیوله اېشېدلې شېدې یې زما مخ ته راوشیندلې، ویې ویل دا سترګې دې چې لیدل نشي کولی، باید له منځه ویوړل شي، لکه چې مخ ته مې چا اور راغورځولی وي، لکه چې د مخ خوا اوشاه مې د اور لمبې تاوېږي راتاوېږي، داسې مې احساسوله چغې مې کړې، د سترګو د خلاصولو هڅه مې وکړه، نه خلاصېدې، ورته ومې ویل وسوځېدم، مخ مې اور واخیست کمک وکړه، مور مې شه!

خو د هغې له طرفه کمک خو یوواړې نه ؤ بلکې د سپې لورې، د بې کفایته خاندانه د فاحشې اولاده، له دې او نورو بدو الفاظو پرته مې نور څه نه اورېدل .

په پټو سترګو بهر ووتم او په کوڅه کې مې غږ وکړ د خدای ج لپاره، وسوځېدم، له مخ مې اور بادېږي لږې اوبه راوړئ، زما په مخ یې واچوئ!

لږ وروسته څوک جوړ شو، خلک مې مخې ته ودرېدل، یوه کس اوبه راوړې زما په مخ یې واچولې، بل د غاښونو کریم راوړ زما په مخ یې وواهه، یوه کس له کوره کرولا راوباسله، مېرمن یې هم ورسره وه، موټر کې یې کېنولم.

او دولتي روغتون ته یې ورسولم، ډاکترانو مې درملنه پیل کړه خدای ج شته ښه رویه یې راسره وکړه، په یوه اونۍ کې مې سترګې خلاصې شوې دوه اونۍ وروسته مې نور ټپونه هم ښه شول، د سترګو نور مې خپل ځای ته ورغی، دید یې خدای ج ژغورلی ؤ.

یوه ډېر خواخوږې ډاکتر مې درملنه کوله، هغه ته مې د خپل له کړاونو ډک سفر کیسه وکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لومړی ډېر خفه شو بیا یې وویل:

اوس څه غواړې، زه څه درسره کولی شم، چې له لاسه مې هر څه وشي نه یې درنه درېغوم.

ورته مې کړه افغانستان ته ځم، د تګ زمینه راته برابره کړه، ما سره مرسته وکړه چې خپل وطن ته لاړه شم، بس هلته مې که ژوند وي او یا هم مرګ قبول مې دي، زه نوره بېخي ستړې شوې یم.

نور د ژوند تېرولو تاب نلرم.

ډاکتر لومړی حوصله مندی راکړه، بیا یې د پتلون جیب ته لاس کړ، موبایل یې راباسه یوه ملګری یې پولیسو کې دنده لرله هغه ته یې زما د مرستې وویل:

یو ساعت وروسته پولیس په ما پسې موټر راوست ډاډ یې راکړ چې زه دې تر افغانستانه سلامته رسوم.

د هغو افغانانو چې قاچاقي یې په ایران کې ژوند کاؤ او دوی نیولي ؤ هلته یې بوتلم هغوی یې ښه په تنګ اطاق کې اچولي ؤ، خو زما اطاق راحت ؤ، یوه شپه مو دلته وکړه، په سبا یې د نورو افغانانو په شمول د هرات پر پوله راواړولو هلته د امن خونې ته وېوړل شوم او بیا کابل ته راوړل شوم دلته مې هم د امن په کور کې فنا واخیسته، د یوې اونۍ تېرولو وروسته سخته په تنګ شوم، له امن کوره راووتم راسا شمشاد تلوېزیون ته لاړم، له هغوی مې غوښتنه وکړه چې ما سره مرکه وکړي او له برکته یې ما خپله کورنۍ ویني، ما دوی او دوی زه پیدا کړم.

مرکه مې وکړه د امن کور شماره مې هم پکې ورکړه، یوه اونۍ مې ورته د امن په کور کې انتظار وکړ خو هیڅ درک ونه لګېده، د امن له کوره راووتم خپل پلورل شوي کور ته لاړم د کور خواکې د هذارګي دروازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې وټکوله، بل څوک راووتل ویلې هغوی له دې ځایه کډه شوي دي، خپل خرڅ شوی کور، دروازه مې وټکوله، یوه دوه ماشومان راووتل ورته مې کړه په دغه کور کې زما ماشومتوب، تېر شوی دی، ډېرې خاطرې مې ور سره تړلې دي، اجازه راکړئ چې در ننه شم او یو ساعت په دې چمن او خونو کې وګرځم .

نه پوهېږم د کومې چلبازۍ او ناوړه ګټې اخېستونکي فکر یې راباندې وکړ دروازه یې په زوره راپورې کړه له شاه یې قلفک کړه!

د مور یوه خواهرخوانده، را په یاد شوه هلته لاړم، یوه دوه ورځې مې چې هلته تېرې کړې، هلته هم په تنګ شوم، ځمکه راته سور تنور شو، زلمي زامن یې درلودل، هغوی تیاره ډوډۍ بللم، هر لوري ته به یې توس راپسې واهه ترې تنګ شوم.

په پټه خوله د مور خواهرخوانده ته له څه ویلو ترې راووتم!

نه مې غوښتل تورې سپینې وشي!

ډېر فکر مې وکړ، د خپل ټپ د ښودلو،مې څوک پېدا نه کړل چې ورته ښودلی مې وایئ او هغوی پرې مرهم ایښي وایي، پیغله وم، بس د هر چا نظر به اخیستم.

ځان سره مې وویل:

اوس دې نه څوک کوي، که ودې هم کړي، طلاقوي دې، وایي به چې ته پیغلتوب نلرې، پلیته یې، ناروا اړیکې دې پاللې دي.

ځان سره مې پرېکړه وکړه ومې ویل:

نور دا نړۍ له ما او زه له نړۍ تنګه یم، یوې پراخه بلې نړۍ ته چې معیار یې مساوات او رېښتینولي پکې د بریا راز دی بس هماغلته ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته ما څوک نه شي درک کولی، بلې نړۍ ته له تګ پرته بله لاره نلرم دا د قاچاقبري د وروستۍ پاڼې وروستي ټکي ؤ!

ځان ته مې پام شو، ګرېوان مې په اوښکو لوند ؤ، په بند خونه کې چوپه چوپتیا وه چپ لاس مې سترګو ته نیږدې کړ، د سهار څلور بجې وې، د سهار اذان وخت ؤ.

د قاچاقبرې د لیکل شوي کتاب ورقې مې راټولې کړې ځان سره مې وویل دا کتاب خو به مې د خلاصون سند شي، خو قاچاقبره په هر قیمت چې وي باید بچ شي، زه باید د هغې ژوند رنګین کړم، خوشحالیانې ورکړم، ارمانونه یې پوره کړم او دغه دردونو ته یې مرهم شم ...

بندخونه کې ملا اذان پیل کړ، اودس او لمونځ مې وکړ د چایو وخت راغی اشپزخانې کې په چایو ناست ؤم چې یو سرتېری راغی وې ویل:

ته یې محکمې ته بللی یې کتاب مې تیار په څنګ کې نیولی ؤ د قاچاقبرې یو انځور مې له هغې نه په روغتون کې اخیستی ؤ، پوه شوم چې قاچاقبره دلته څوک نه لري انځور مې پر فېسبوک په دې هیله خپور کړ، چې کېدای شي د هېواده بهر یې کورنۍ ووینې !

ورسره ومې لیکل دغه جلۍ لېمه نومېږي، کورنۍ د ناز نوم یې پرې دی، په قاچاقي لاره په ترکیه کې له کورنۍ بې درکه شوې دی، دا اوس افغانستان ته راغلې ده، کورنۍ یې کېدای شي اوس له هېواده بهر وي هیله ده دغه جلۍ اوس په روغتون کې د مرګ او ژوند شیبې شماري که یې څوک کورنۍ پېژني له مور سره دې په دې شمېره تماس کې شي!

پوست مې وکړ، زه محکمې ته وبوړل شوم، قاضي رانه د پېښې پوښتنه وکړه ورته مې کړه قاضي صیب دغه کتاب واخله وې لوله ددې جلۍ په اصل کیسه به پوه شې،...

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که جلۍ په هوش راغله نو خپله به د دې کتاب کیسه درته وکړي، دا کتاب خپله دې پیغلې لیکلی کومه چې ما په موټر وهلې، هغې خپله د ځان وژنې هڅه کړې ده او دا کتاب یې ښه ثبوت دی.

قاضي وویل ته ددې کتاب لندیز ووایه

هغه ته مې په لنډو ټکو د هغې د ژوند کیسه وکړه قاضي پرېکړه اعلان کړه سړی په ضمانت خوشي کړئ، که بیا هم موږ ته کوم شک پیدا شو باید بېرته محکمې ته حاضرکړل شي.

ما ورته ټټر وواهه سمه ده مې وویل:

له محکمې خدای خلاص کړم، کورنۍ مې هم راسره وه ټولو ویلي چې کور ته ځو ما ورته وویل، زه باید لومړی روغتون ته لاړ شم!

دوی هم کوم اعتراض ونه کړ!

موټر ته وختم ځان سره مې پرېکړه وکړه که دا جلۍ خدای ج روغه کړي زه واده ورسره کوم ټول ارمانونه یې پوره کوم او ژوند یې ورته رنګین کوم دومره خوښه یې ساتم چې د ژوند ټولې تېرې شوې ستونزې ترې هېرې شي.

فیسبوک مې خلاص کړ مسنجر کې مسج راغی!

راته لیکلي یې ؤ:

وروره د خدای ج لپار د فون شمېره دې راولېږه

د فون شمېره مې ورولېږله، د لږ‌لو سره مې ټلیفون وشرنګېده

له سلام ویلو وروسته یې راته وویل وروره زه بلال پکتین نومېږم، په استرلیا کې ژوند کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو ورځې مخکې مې د يوې پيغلې خبرې په تلوېزيون واورېدې، بيا مې هڅه وکړه له هغې سره په اړيکه کې شم خو بريالی نشوم.

زه له استرليا نه کابل ته پسې راغلم!

اوس مې د هغې جلۍ د ناروغتيا پوست ستا پر اکونټ وليده، هيله ده د هغې ځای راته وښايې!

ورته مې کړه هغه بلال پکتين يې چې له دې جلۍ سره په قاچاقي لاره ملګری وې؟

ـ هو هغه يم خو ته څه پوه شوې؟

ـ ته په اوبو کې ډوب شوی نه وې ؟

ـ هو ډوب شوم خو بيا يوې کېښتۍ وژغورلم، خو وروروجانه ته څنګه زما له حاله خبر يې، دا ليمې درته ويلي ؟

ـ ته يو ځل استقلال روغتون ته راشه زه هم هلته روان يم ناروغ هم هلته بستر دی.

ټيليفون پرې شو.

زه روغتون ته ورسېدم، قاچاقبره، هماغسې غلې، په خپل بستر کې پرته وه، غټې بنه ورې سترګې يې کلکې پټې وي، په رېښتيا له دې نړۍ خپه وه، نه يې غوښتل بيا سترګې ورسره مخامخ کړي.

ارامه، ارامه ساه يې ښکله

د تېر ژوند کيسې مې په ذهن کې تېرې بتيرې شوې، پر هغې د ظلمونو انتهاوې مې سترګو ته ودرېدې، د هغې هغه هيلې چې ډاکتره کېږي به هېواد ته به خدمت کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مې ذهن کې تاو راتاؤ شوې .

سلګیو واخیستم، ټول بدن مې رپږدېده، ځان مې نشو کابو کولی، لیمې غبږ مې وارویده

سر مې راپورته کړ، یو ښکلی، تنکی، دنګ ځوان مې په مخکې ولاړ ؤ ښکلې ویښتان یې پر منځ بیل کړي ؤ، بیا یې شونډې بېرته شوې ویې ویل لیمې زه بلال یم سترګې خلاصې کړه ستا مخې ته ولاړ یم، ان له استرلیا راغلم، یوازې د دې لپاره چې ته په ستونزه کې یې او زه دې لاس نیوي وکړم!

له دې غبږ سره قاچاقبرې سترګې خلاصې کړې، په بلال کې یې ونیوې، تر ډېره یې په بلال کې سترګې نیولې وې د سترګو له کونجو یې اوښکې روانې وې،خو سترګې یې رپېدې نه، همداسې خلاصې پاتې وې!

موږ تمه وه، چې د لیمې خبرې واورو، ډېرې پوښتنې ترې وکړو، خو د هغې سترګې همداسې خلاصې پاتې وې!

خاموشه وه، ډاکتر راغی بلال په وارخطایي هغه ته وویل :

د لیمې سترګې خلاصې دي خو خبرې نه کوي، هغه یې سترګې وکتې موږ ته یې مخ راواړاؤ ویې ویل:

له دې سترګو خو ساه ختلې، نورې د لیدو له توانه بې وسه شوې دي.

ډاکتر یې په سترګو لاس راکش کړ، بلال هغه ټیل واهه، ورته یې کړه سترګې یې مه پټوه ،لیمه دومره کمزورې نده، تاسې د هغې همت نه دی لیدلی، له ما پوښتنه وکړئ، هغه د سلو نارینه ؤ همت لري،له ټولې نړۍ سره جنګېدلی شي داسې ژر نه مري!

ډاکتر ورته کړه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ستا په خبرو کې شک نه وینم خو اوس دا سترګې نورې د تل لپاره پټې شوې دي.

**انا لله و انا الیه راجعون !**

د ډاکتر د دې خبرې له اورېدو سره د بلال، یوې او بلې خواته وکتل ،لاسونه یې وسرویل، له سترګو یې اوښکې د باران په څېر پیل شوې سوې، سوې کوکې یې وکړې، د واټ خلکو یې تاب رانه وړ، ټولو واټ پرې ښوده .

# پای

**پکتیا**

**۲۳/۱۰/۱۳۹۹**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**